((وقال ابن العربي: من عادی احدًا من الاولیاء والعلماء العاملین فقد عادی ایمانه)) [الحدیقة الندیه]

# منهج الصلحاء فی ردّ اتهامات مولوی رحیم الله

## جواب د کتاب سیفیت بریلویت بمقابله حنفیت

تالیف:

ابو حذیفه **اختیار احمد** الحنفي



ټول حقوق په حق د مؤلف محفوظ دي

**د کتاب پیژندګلو:**

دکتاب نوم: منهج الصلحاء فی رد اتهامات مولوي رحیم الله (جواب د کتاب سیفیت بریلویت بمقابله حنفیت)

مؤلف: ابو حذیفه اختیار احمد الحنفي

کمپوزر: حبیب الرحمٰن صافي

دچاپ کال: ۲۰۲۲

ایډیشن: ورومبے

بیعه:

دملاویدو پته:

مکتبة محمدیه مجددیه سیفیه بهادر کلے پشاور

رابطه نمبر: **03108297572**

# فهرست


| مضمون | صفحه |
|---|---|
| تقریظ | |
| یووضاحت | |
| اعتراض او جواب | |
| سیفیان بریلویان نه دي | |
| په جناب سید ایازعلي شاه باچاصیب اعتراض ته جواب | |
| په تشریحات نابغه اعتراض ته جواب | |
| د انوار رضا کتاب وضاحت | |
| د حسام السیفیه د اکابرو تکفیر کړی جواب | |
| بې بنیاده اعتراض او جواب | |
| مسئله حاضر او ناظر کښې د سیفیانو عقیده | |
| د سیفیانو او بریلویانو کښې فرق | |
| اعتراض :د ولی څخه انکار کفر دی جواب | |
| اعتراض: په یو ساه د قرآن ختم جواب | |
| اعتراض :په هدایة السالکین لفظ مجدد باندې جواب | |
| اعتراض:د ډوډئ څخه مخکښې مالګه څټل بدعة دے جواب | |
| اعتراض:په هدایة السالکین د عمامې په سنتیت باندې جواب | |
| اعتراض: په شریعت صرف سیفیان برابر دي جواب | |
| اعتراض: پیرصاحب د پیران پیرؒ نه مقام اوچت دي جواب | |
| اعتراض: پیر صاحب دنیا کښې ولي او آخرت کښې نبي | |





| | |
|---|---|
| اعتراض: نبي کریم ﷺ په پیر صاحب پسې اقتداء | |
| اعتراض پیر صاحب باندې علماؤ د کفر ټاپې وهلي جواب | |
| د سیفیانو تائید کښې د علماؤ تصدیقات | |
| په رقص صوفیه اعتراضات او جوابات | |
| رقص صوفیه ثبوت | |
| اعتراض: ذکر بالجهر تعبدا بدعة دے | |
| ذکر بالجهر ثبوت د احادیثو نه | |
| اعتراض:ادعوا ربکم تضرعا وخفیة استدلال ته جواب | |
| اعتراض:امام صاحبؒ ویلي دي ذکربالجهربدعة دی | |
| اعتراض : قاضي صاحب ویلي ذکربالجهربدعة دی | |
| د واذکر ربك في نفسك اعتراض ته جواب | |
| اعتراض:اربعوا علی انفسکم الحدیث جواب | |
| اعتراض: عبدالله بن مسعود رضؓ ویلي ذکر بالجهر بدعة دے جواب. | |
| ذکر بالجهر ثبوت د علماؤ نه | |
| ذکر بالجهر او علماء دیوبند | |
| د لمونځ نه وروسته ذکر بالجهر کول | |
| مسئله د علم الغیب | |
| د علم الغیب په مسئله کښې د سیفیانو نظر | |
| د علم الغیب تعریف او اقسام | |

| | |
|---|---|
| د علم الغیب په مسئله دلایل | |
| علم الغیب د احادیثو په بیان کښې | |
| علم الغیب د دیوبند علماؤ په اقوالو کښې | |
| علم الغیب باندې اعتراضات او د هغوي جوابات | |
| د نبراس د عبارت وضاحت د علم الغیب په مسئله کښې | |
| مسئله د حاضر او ناظر کښې د سیفیانو عقیده | |
| مسئله د استمداد | |
| اعتراض: سیفیان غیرالله مشکل کشا ګڼي جواب | |
| اعتراض سیفیان د غیرالله څخه مافوق الاسباب مدد غواړي | |
| مسئله د جشن عید میلاد النبي ﷺ کښې د سیفیانو نظر | |
| اعتراض: سیفیان قیام کوي | |
| مسئله ترکِ سنت او عدم ثبوت په عدم جواز دلالت نه کوي | |
| مسجد کښې اشعار ویل | |
| اتمه مسئله عرس کول | |
| عرس او علماء دیوبند | |
| جمعګي کول | |
| مسئله مړو پسې دریمه اوله اوومه کول | |
| مسئله د غیرالله په نوم حیوان ذبح کول دیکښې د سیفیانو نظر | |





| | |
|---|---|
| مسئله د جنازې څخه بعد دعا کول | |
| مسئله نذر او نیاز کښې د سیفیانو نظر | |
| اعتراض او جواب | |
| تمت بالخیر په یوه هفته کښې | |


***

بسم الله الرحمٰن الرحیم

الحمد علیٰ اهله والصلاة علیٰ اهلها.

## سیفیان څوک دي ؟

سیفیان څوک دي : سیفیان عقیدتًا اهل سنة ماتریدان دي او مذهبًا احناف دي. د دیوبند او د بریل متعلق د سیفیانو نظر دا دے چې څوك هم عقیده د اهل سنت والجماعت ولري که هر څوك وي دیوبندي او که بریلوي وي زمونږ ورور دے مونږ چا سره د نسبت په باب دشمني نه ساتو زمونږلپاره حق صرف اهل سنت والجماعت دي: مونږحق منحصر ګڼو په اهل سنت والجماعت کښې څلور واړه مذاهب په اهل سنت والجماعت کښې داخل دي. سیفیت نه د عقیدې نوم دے او نه د مذهب بلکې صرف یو نسبت دے چې پیر ارچي خراساني حضرت اخندزاده پیر **سیف الرحمن** رحمة الله تعالی علیه ته ئې نسبت کیږي .

**[یو وضاحت]**

جناب مولوي رحیم الله حقاني چې کوم کتاب لیکلے دے په نامه د سیفیت بریلویت بمقابله حنفیت چونکې دا کتاب د رحیم الله مولوي صاحب مجموعه د افتراګانو او د دروغو دي او ښه تر تعصب لاندې دي ان شاء الله هره خبره به ئې په خپل خپل ځای باندې جواب شي . خو دا خبره باید لوستونکي حضرات په غور سره ذهن نشین کړي چې هر



دورکښې د حق ګویه حق پرستو مقابلې ته دشمنان را اوزي د حضرت آدم علیه السلام دشمنۍ ته ابلیس غاړه کېښوده د حضرت ابراهیم علیه السلام دشمنۍ ته نمرود غاړه کېښوده د حضرت موسٰی علیه السلام مقابلې او دشمنۍ ته فرعون او قارون غاړه کېښوده او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دشمنۍ ته ابوجهل ، ابولهب، عتبه، شیبه وغیرهم غاړه کېښوده خو دا یاد ساتئ امام الانبیاء صلی الله علیه وسلم ته خلقو مجنون اوویل ، کاهن ئې ورته اوویل ساحر ئې ورته اوویل او د مدینې یهودو ورته بدعتي اوویل خو رسول الله صلی الله علیه وسلم حق نه ژبه بنده نکړه خپل دین ئې خلقو ته ښه په جهر بیان کړو .

دا هم یاد ساتئ لکل مبطل محق د هر باطل پرست لپاره حق پرست شته او دا هم یاد ساتئ کومه ونه چې مېوه داره شي نو ماشومان ورته کاڼي ګزاره وي د کیکر په ونه باندې خلق ګزار نه کوي .

## [اعتراض چې سیفیان د لمونځ وغیره مسائل د فقهې څخه ثابتوي او نور د قران ]

اوس به د رحیم الله حقاني د کتاب هر هغه عبارت چې دهٔ د سیفیانو په خلاف لیکلے دے ان شاء الله مجاب به شي .

اول: د رحیم الله حقاني چې د سیفیانو خلاف شروع

کړې ده نو هغه د خپل کتاب صفحه ۷ باندې لیکلي دي چې د سیفیانو بریلویانو څخه چې د لمونځ، روژې، زکوٰة او حج وغېره مسائلو پوښتنه وکړې نو د حنفي فقهي څخه جواب وائي د قرآن او سنت څخه ډاریك (بالذات) استدلال نه کوي. او چې بیا د دوي د نورو بدعاتو او شرکیاتو مثلاً په حلقو کښې رقص، استمداد، علم الغیب الخ وغېره په باره کښې ترینه پوښتنه وکړې نو بیا د قرآن او سنت څخه دلائل وائي.

**الجواب**:الحمد لله سیفیان اهل سنت احناف دي زمونږ چیلنج دے ټولو مخالفینو ته چې نر شئ د سیفیانو صرف یو عقیده د اهل سنت والجماعت خلاف پیش کړي. او بل سیفیان په احکامو کښې مثلاً لمونځ، روژه، حج وغېره کښې د حنفي فقهي څخه جواب وائي نه ډاریك د قرآن او سنت څخه ځکه چې سیفیان په فروعو کښې احناف دي د خپلې فقهې حنفي څخه جواب وائي او باقي عقیدوي مسائلو کښې مثلاً استمداد علم الغیب وغېره کښې اولا د قرآن او سنت څخه دلائل وائي ځکه چې عقیده په قرآن او په حدیث متواتر ثابتیږي نه د یو فقیه په خبره . فتدبر.

دویم: رحیم الله صاحب د خپل کتاب صفحه ۸ باندې لیکلي دي چې سیفیان بریلویان او دیوبندیان دواړه د حنفیت دعوٰی کوي نو ولې سیفیان په دغو اختلافي مسائلو کښې د حنفیت ثالثئ ته تیار نه دي ؟



**الجواب**:سیفیان لله الحمد احناف دي او هر عمل خپل فقهې حنفي نه ثابتوي مونږ خو تاسو دیوبندیانو او بریلویانو ته وایو چې نه دیوبند مذهب دے او نه بریل اصلي شئ عقیده د اهل سنت او مذهب حنفیت دې دا راټینګ کړي .

## (اعتراض سیفیان بریلویان دي جواب)

۳دریم: رحیم الله حقاني د خپل کتاب صفحه ۹ باندې لیکلي دي چې اوله مسئله سیفیان بریلویان دي .

**الجواب**:د سیفیانو مشر حضرت اخندزاده پیر سیف الرحمن رحمه الله مرکه او انټروي موجوده ده چې هغه وائي زه نه دیوبندي یم او نه بریلوي یم د هغه ټول بچي او اولاد هم د دې خبرې اقرار کوي چې مونږ نه بریلویان یو او نه دیوبندیان هر سیفي که مشر دي او که کشر ټول دا وائي چې نه دیوبندیان یو او نه بریلویان بلکې مونږ اهل سنت پکه احناف یو اوس چې کوم سیفي دا وائي چې زه بریلوي یم نو هغه سیفي نه دي ځنګه چې پنج پیری دعوه کوي چې زه دیوبندي یم نو دیوبندي نه دي دغه شان کوم کوم سیفي وائي چې زه بریلوي یم نو سیفي نه دے . ځکه چې سیفیان نه دیوبندیان او نه بریلویان دي. او د حضرت پیر آرچي خراساني پیر سیف الرحمن رحمه الله خبره په هدایة السالکین کښې ذکر ده چې وائي :اسی بناپر میں سنی حنفی ہوں

*دیوبندی بریلوی نہیں ہوں*۔یعني په دې بنا باندې زه سُني حنفي یم دیوبندي او بریلوي نه یم . هدایة السالکین ص ۸۳ . او دلته ئې دا خبره هم ذکر کړې ده چې که زه ځان ته بریلوي اووایم نو ځلور ځایه به ګناه کبیره کښې واقع شم . هدایة الساکین ص ۸۳ نو دا خبره چې سیفیان بریلویان دي دا محض افتراء او دروغ دي . لعنت الله علي الکاذبین .

## (اعتراض په سید ایاز علي شاه باچا صاحب حفظه الله ته جواب)

**۴**.ځلورم: رحیم الله د خپل کتاب په همدې صفحه ۹ باندې لیکلي دي چې د سیفیانو مناظر سید ایاز علي شاه باچا صاحب مولانا اشرف علي تهانوي ته ئې (معاذالله) اشرف علي تاواني ویلي دي . همدارنګه ئې بیا بیا د اشرف علي تهانوي رحمه الله تکفیر کړے دے.

**الجواب**:دا خبره چې جناب سید ایاز علي شاه باچا صاحب حفظه الله اشرف علي تهانوي رحمه الله ته کافر ویلي دي .دا محض افتراء ده او دروغ دي. باقي دا خبره چې اشرف علي تهانوي رحمه الله ته ئې تاواني ویلي دي. نو اول خو به زه دا اووایم چې هر څوك خپل مشران لري او په خپلو مشرانو خفه کیږي تاسو چې شپه او ورځ د سیفیانو مشر حضرت پیر سیف الرحمن رحمه الله ته کافر ، مشرك ، زندیق ، شیطان، بدعتي وائي نو ایا دا کنځل نه دي ایا



مونږ به په خپلو مشرانو نه خفه کیږو څنګه چې تاسو په خپلو مشرانو باندې خفه کیږئ مونږ لتاسو نه زرچنده زیات په خپلو مشرانو خفه کیږو . او دوایم مونږ دا نه وایو چې باچا صاحب اشرف علي تهانوي رحمه الله ته تاواني ویلي دي نو دا ئې ښه کړي دي بلکې انسان دے د خطاء نه معصوم نه دے. او بله دا چې هغه بهادر کلي کښې درته خپله جامعه کښې ناست دے نر شه تپوس ترې اوکړه .

## (په تشریحات نابغه اعتراض ته جواب)

**۵** .پنځم:رحیم الله د خپل کتاب صفحه ۱۰ باندې لیکلي دي چې د سیفیانو په معتمد کتاب (تشریحات نابغه کښې ئې لیکلي دي چې علماء دیوبند دا مکان کذب قائل وو دا بعینه د کفر نسبت دے . معاذالله .

**الجواب**: نو جناب د دې نه سترګې مه پټوئ مشهور دیوبندي عالم مفتي رشید احمد ګنګوهي په فتویٰ رشیدیه کښې لیکلي دي چې کذب د باري تعالیٰ د قدرت لاندي دي اما کذب ترې نه واقع نه دي . دا سې لیکلي دي چې : *چنانچہ اہل عقل پر مخفی نہیں پس مذہب جمیع محققین اہل اسلام وصوفیائے کرام وعلماء عظام کا اس مسئلہ میں یہ ہے کہ کذب داخل تحت قدرت باری تعالیٰ ہے۔(فتوی رشیدیہ ص۲۱۶)۔*

او بیا لاندې لیکي چې : *پس ثابت ہوا کہ کذب داخل تحت*

قدرت باری تعالیٰ جل وعلیٰ ہے کیوں نہ ہو۔ **وهو علیٰ کل شئ قدیر** ۔(فتوی رشیدیہ ص۲۱۶ادارہ صدائے دیوبند)۔ چې کذب لاندې د قدرت د باري تعالٰی شو نو معاذالله ، الله قادر بالکذب شو .

همدارنګه شيخ الهند مولانا محمود حسن صاحب هم ليکلي دي چې قبائح باندې الله قادر دے. ليکلي دي چې: امر ہفتم یہ ہے کہ صدور قبائح اور قدرت علی القبائح میں زمین آسمان کا فرق ہے امر اول کو عند اہل السنۃ بہ نسبت ذات خالق الکائنات محال کہا جاتا ہے تو امر دویم مسلمات میں سے ہیں۔(الجہد المقل ص ۴۴ مکتبہ ابن عباس)۔

## (د انوار رضا کتاب وضاحت)

شپږم: رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۱۱ باندې ليکلي دي چې سيفيان بريلويان دي ځکه چې انوار رضا د پير صاحب انټروي ده په ميډيا کښې د پير سيف الرحمان د ځوي تائيدي ويډيو ښه عامه موجود ده نو وائي د دې کتاب کښې د بريلويت اقرار او تائيد موجود دي. لهذا پير سيف الرحمان بريلوي دي .

**الجواب**:دا خبره ما مخکښې تفصيلاً ذکر کړه چې پير سيف الرحمٰن رحمه الله ويلي دي چې زه نه ديوبندي يم او نه بريلوي يم . باقي انوار رضا کتاب دا نه د پير صاحب رحمه الله کتاب دے او نه د دے کتاب سره د پير صاحب رحمه الله څه تعلق شته او دا خبره چې ته وائي د پير صاحب



د ځوي تائيدي ويډيو شته نو د پير صاحب مبارك دځوي دا ويډيو هم ميډيا باندې شته چې ديوبنديان مونږ ته بريلويان وائي او بريلويان مونږ ته ديوبنديان وائي ليکن سره د دې وائي مونږ نه ديوبنديان يو او نه بريلويان بلکې مونږ اهل سنت احناف يو . بالفرض که اومنم چې د انوار رضا کښې د بريلويت تائيد موجود وي نو په تائيد سره پير صاحب مبارك بريلوي شو. نو بيا خو ستا مشر چا چې فتویٰ حقانيه ليکلې ده هغه پنج پيرے دے ځکه چې د پنج پيريانو تائيد ئې کړے دے او ويلي ئي دي چې پنج پيريان په اهل سنت والجماعت کښې داخل دي . داسې ئې ليکلي دي چې

**الجواب**: د مولانا پنج پير او د هغه د پيروانو عقيده صحيح او درسته ده او هغوي په اهل سنت والجماعت کښې داخل دي . فتویٰ حقانيه جلد ۱ صفحه ۳۳۷ .

همدارنګه ستاسو مشر رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله ليکلي دي چې وہابی کا عقیدہ جواب محمد بن عبد الوہاب کے مقتدیوں کو وہابی کہتے ہیں انکے عقائد عمدہ تھے اور مذہب انکا حنبلی تھا۔او وروسته ليکي چې : اور عقائد سب کے معتمد ہیں۔(فتوی رشیدیہ ص ۲۷۳ )۔

نو دلته دې مشر د وهابيانو عقائدو تائيد وکړو نو مشر دې وهابي دے، ځکه چې د وهابيانو عقائد ئې عمده او بولو .

**[فائده]**:مولوي رحيم الله صاحب دلته يوه بله رساله په نامه د قيوم زمان مجدد دوران امام خراسان حضرت اخند زاده فقير سيف الرحمان مبارك رحمه الله المعروف پير ارچي وخراساني كا پيغام دا ذكر كړې ده چې دې كښې پير صاحب مبارك دا ليكلي او دا ليكلي نو دا خبره ياد ساتئ ترجمان سيفيت شهيد شيخ الاسلام غلام حضرت غلام رحمه الله دا خبر ميډيا باندې موجوده ده چې د حضرت مبارك رحمه الله صرف يو كتاب دے په نامه د جوابات السيفية . باقي چې هر څوك كتاب منسوب كوي مبارك رحمه الله ته نو دا صحيح نه دي . او بل سيفيت كښې ډېر علماء دي هر څوك به خپل كتاب ليكي نو دا كتاب به د همدې پورې تعلق لري كه كوم كمے او يا زيادتے پكښې وي نو دا به تر همدې ملا پورې تعلق لري نه ترې حضرت مبارك رحمه الله پورې ديوبند په نامه څومره كتابونه خلق ليكي او څنګه عجائبات ئې پكښې ليكلي دي نو مونږ خو په دې كتاب سره مشران علماء ديوبند نه بدناموو . او نه دا كتاب تر هغوي پورې تعلق لري .

## (اعتراض د حسام السيفيه د اكابرو تكفير كړى)

۷.اووم: رحيم الله صاحب ليكلي دي چې د پير صاحب يو خليفه دے په نامه د احمد علي شاه سيفي كراچي والا په حسام السيفية كښې د ټولو اكابرينو د



ديوبند تكفير كړے دے : مذكور كتاب صفحه ۱۹ .

نو جواب دا دے چې كه احمد علي شاه سيفي صاحب دا خبره كړې وي چې ټول علماء ديوبند كافران دي نو بالكل خطاء شوي دي غلط ئې ليكلي دي مونږ د مسلمان تكفير هيڅ كله نه كوو او نه ئې كولے شو او نه دا فتویٰ د كفر زمونږ كار دے اودوئم د يو ملا شخصي نظر مبارك رحمه الله ته منسوب كول سراسر بې انصافي ده .

۸.اتم : رحيم الله صاحب د خپل كتاب همدې صفحه ۱۹ كښې ليكلي دي چې د سيفيانو بقية السلف محمد عابد حسين تبليغي حضراتو ته صراحتًا جبريه او كافران ويلي دي . وګوره شهنشاه خراسان ص ۹۳ .

**الجواب**: كه تبليغيان د جبريه عقيده ساتي نو سيفيان ورته كافر نه وائي بلكې علماء اكابر ورته كافر ويلي دي چې څوك د جبريه فرقه عقيده ساتي چې د مخلوق نه بلكې د كسب نفي كوي او د كسب نسبت باري تعالىٰ ته كوي نو سيفيان هيڅ كله هم تبليغيانو ته كافر نه دي ويلي بلكې جبريه ډلې ته علماؤ د كفر نسبت كړے دے . اوګوره مرقاة جلد ۱ ص ۱۱۹ حديقة الندية جلد ۲ ص ۷۹ نو دا د خلقو افتراء ده چې سيفيان تبليغي جماعت ته كافران وائي نه مونږ كافران ويلي او نه وايو او كه چا د كفر خبره كړې ده نو هغه ئې جبريه فرقه ښودلې ده .

٩.نهم: مولوي رحيم الله د خپل کتاب صفحه ١٩ باندې دا خبره هم ليکي : چې پير سيف الرحمان د ولايت او بزرګۍ دعوٰی کړې ده . هداية السالکين ص ٣٢١ .

**الجواب**: جناب رحيم الله صاحب ته دا خبره اوس د کفر ښکاري او قابل د اعتراض ئې ګڼي عجيبه ده د پير صاحب رحمه الله په ولايت او بزرګۍ کښې په الله قسم که هيڅ شك وي پير صاحب يو ولي الله عالم باعمل شخص وو چې د مستحباتو تارك هم نه وو په لکهاؤ خلق ئې په شريعت برابر کړل تاسو ته صرف خپل مشران او خپل ځانونه اولياء ښکاري سره د دې چې د ولايت درك ئې هيڅ هم نشته سبوا د تعصب او د حسد نه .

١٠. لسم: رحيم الله صاحب: د خپل کتاب همدې صفحه ١٩ باندې ليکلي دي چې په هداية السالکن کښې ئې ليکلي دي چې د ولي څخه منکر کافر دے: هداية السالکين ص ٨٥ .

**الجواب**:هداية السالکين کښې ئې ليکلي دي چې علامه عبدالغني نابليسي رحمه الله ليکلي دي چې د ولي څخه انکار کفر دے . حديقة الندية جلد ١ ص ٢۴١ نو صاحب د هداية السالکين خو ناقل دي نر شه اعتراض د علامه شامي رحمه الله په استاذ علامه عبدالغني نابليسي رحمه الله باندې وکړه . خو خير د تعصب ګر انسان نظر کار



نه کوي . او صاحب د بريقه هم ليکلي دي چې د ولي څخه انکار کفر دے. (بريقه جلد ١ ص ٢٩٢)

١١.رحيم الله صاحب د خپل کتاب صفحه ٢٠ باندې ليکلي دي چې په هداية السالکين کښې ئې ليکلي دي چې جبريه د دين د ضرورياتو څخه منکر او کافر دي. هداية السالکين ص ٩٥ .

**الجواب**:جبريه فرقه ته پير صاحب کافران نه دي ويلي بلکې پير صاحب ناقل دے علماؤ ورته د کفر نسبت کړے دے دوئم د هداية السالکين مصنف ناقل دے د مکتوبات شريف اوګوره ټول عبارت د هداية السالکين ص ٢٥ نه واخله تر صفحه ٣٠ پورې او بل جبريه ډلې ته د کفر نسبت ملا علي القاري رحمه الله کړے دے . مرقاة جلد ١ ص ١١٩ او علامه عبدالغني نابليسي الحنفي رحمه الله کړے دے . الحديقة النديه جلد ٢ صفحه ٧٩ .او علامه برکلي رحمه الله کړی دي.(طريقة المحمدية ص ٩٢)

١٢ : رحيم الله صاحب د خپل کتاب په صفحه ٢٠ باندې ليکلي دي چې حالانکې تبليغي جماعت د ديوبند شاخ دے جبريه نه دي . نو جواب دا دے چې په تبليغيانو باندې خو تا دا حکم او فتوىٰ ورکړې وه چې نن صبا تبليغيان يو لويه فتنه ده او طارق جميل يو زنديق دے عجيبه دا ده چې ستا اصليت سيفيانو نه وو ښکاره کړے

هغه وخت کښې تاويل تبليغيان فتنه ګر دي او اوس چې سيفيانو ستا اصليت خلقو ته ښکاره کړو نو اوس وائي چې تبليغيان سم خلق دي .

## (مسئله د حاضر او ناظر کښې د سيفيانو عقيده)

۱۳: رحيم الله مفتري د خپل کتاب صفحه ۲۱ باندې ليکلي دي چې پير سيف الرحمان د بريلويانو په شان نبي عليه السلام حاضر او ناظر ګڼلو . بيا حواله ورکوي په رساله حاضر وناظر محبوب او معروضات الحاذق باندې.

**الجواب**: دا خبره مونږ بار بار کوو چې دا رساله په نامه د حاضر او ناظر محبوب او معروضات الحاذق د دې کتابو د سيفيانو سره هيڅ تعلق نشته د بريلويانو کتابونه په سيفيانو پورې مه تړه الحمد لله د سيفيانو عقيده اظهر من الشمس ده په هره مسئله کښې زمونږ عقيده د حاضر او ناظر نه ده بلکې زمونږ عقيده په دې مسئله کښې دا ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بعضې مواضعو د خير ته روح متشکل د جسم باذن الله حاضري کوي داسې نه چې هر وقت او هر ځاي کښې حاضر او ناظر دي دا عقيده د تمام اهل سنت والجماعت اجماعي عقيده ده او هم دا عقيده د علماء ديوبند ده چې ستا ليکل موجود دي په احقاق الحق کښې چې د وفات څخه وروسته د اولياؤ سره په ويښه ملاقات کيديشي . احقاق الحق جلد ۴ ص ۵۵۹ او هم دی



تقرير موجود دي په ميډيا چې انبياء په ويښه ليدل کيږي. د مفتي ګوهر علي شاه صاحب په تائيد کښې چې دې بيان کړي دي . زمونږ دعوه په مسئله د علم الغيب جزئي عطائي کښې دا خپله رد دي په حاضر او ناظر باندې چې چا کښې عقل وي نو هيڅکله به دا اونه وائي چې سيفيان نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته حاضر او ناظر وائي ځکه حاضر او ناظر دواړه د اسم فاعل صيغې دي چې جمله اسميه ورڅخه جوړيږي کوم چې په دوام اواستمرار دلالت کوي . نو دا عقيده زمونږ نه ده . باقي دا عقيده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بعضې مواضعود خير ته روح متشکل دجسم باذن الله حاضري کوي نو زه به صرف تاته علماء ديوبند ذکر کړم چې هغوي هم دا خبره ليکلې او منلې ده .

۱: علامه انور شاه کشميري رحمه الله ليکلي دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ويښه ليدل ممکن او ثابت دي انکار ترې نه جهل دے: ويمکن عندی رؤيته صلى الله عليه وسلم يقظة . او بيا وروسته ليکي چې :

**فالرؤية يقظة متحققة وانكارها جهل**۔ (فيض البارى جلد۱ ص۲۹۲)۔

۲: د ديوبنديانو پير او مرشد حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله ليکلي دي چې : رہا اعتقاد کہ مجلس مولد میں حضور پر نور صلی اللہ علیہ وسلم رونق افروز ہوتے ہیں اسی اعتقاد کو کفر وشرک کہنا حد سے

بڑھنا ہے کیونکہ یہ امر ممکن عقلاً و نقلاً بلکہ بعض مقامات پر اس کا وقوع بھی ہوتا ہے۔(کلیات امدادیہ ص۷۹)

**۳**:اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې حضرت نانوتوي رحمه الله به اكثره رسول الله صلى الله عليه وسلم په ويښه ليدلو . اس واقعہ کے بعد حضرت نانوتویؒ نے فرمایا کہ میں اکثر دیکھتا ہوں کہ حضرت صلی اللہ علیہ وسلم تشریف لاتے ہیں۔

(ارواح ثلاثہ ص۱۷۷)۔

**۴**:اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې يو ځل د شاه ولي الله صاحب په مرض موت باندې مبتلاء شو نو د خپلو ماشومانو په فكر كښې غمجن شو نو په هم دغه وخت كښې ئې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدلو چې تشريف ئې راوړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل چې هيڅ فكر مكوه چې څنګه ستا اولاد دے هم دغه شان زما اولاد دے. حضرت گنگوہیؒ فرماتے تھے کہ ایک مرتبہ شاہ ولی اللہؒ جب مرض موت میں مبتلا ہوئے تو بہ مقتضائے بشریت بچوں کی صغر سنی کا تردد تھا۔ اسی وقت جناب رسول اللہ ﷺ کو دیکھا کہ آپ تشریف لائے اور فرماتے ہیں کہ تو کاہے کا فکر کرے ہے جیسی تیری اولاد ویسی ہی میری پھر آپ کو اطمینان ہو گیا۔(ارواح ثلاثہ ص۲۱)

**۵**:اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې شاه عبدالرحيم رحمه الله به د نظام الدين اولياء رحمه الله مزارى



ته حاضر شو نو د هغه روح متشكل به دهٔ ته مخامخ شو دهٔ سره به ئې خبرې كولې . حضرت شاہ عبد الرحیم صاحبؒ ایک مرتبہ سلطان نظام الدین اولیاء کے مزار پر مراقب تھے کہ حضرت نظام الدین الاولیاء کی روحانیت متشکل ہو کر سامنے آئی۔ حضرت شاہ صاحب نے پوچھا کہ سماع کے بارے میں آپ کیا فرماتے ہیں؟ فرمایا کہ آپ شعر کے بارے میں کیا فرماتے ہیں الخ۔(حضرت تھانویؒ کے پسندیدہ واقعات ص۱۵۱)

**۶**:اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې مولوي قلندر صاحب د سر په سترګو په ويښه د رسول الله صلى الله عليه وسلم زيارت كړے دے : فرمایا کہ مولوی قلندر صاحب کو ہر روز زیارت رسول اللہ ﷺ کی ہوتی تھی ایک دن کسی جمال کے لڑکے کو کہ سید تھا طمانچہ مارا اس دن سے زیادت منقطع ہو گئی مدینہ منورہ کے مشائخ سے رجوع کیا۔ انہوں نے ایک زن ولیہ مجذوبہ کا حوالہ فرمایا جب وہ عورت مسجد نبوی میں آئی مولانا نے عرض کیا سنتے ہی جوش میں آئی اور مولانا کا ہاتھ پکڑ کر کہا شف ہذا رسول اللہ ﷺ مولانا نے بیداری میں چشم ظاہر سے زیارت کی۔

(امداد المشتاق ص۹۸)

**۷**:اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم روح ميدان جنګ ته حاضري كوي . روح کا بعد مفارقت عالم دنیا کے گو اصلی مقام دوسرا ہے۔ لیکن اگر اذن الٰہی کسی وقت پھر بطور خرق عادت کے اس عالم میں آجائے تو ممکن ہے جیسا حضور

صلی اللہ علیہ وسلم کی روح مبارک کا میدان قتال میں تشریف لانا دیکھا گیا اور چوں کہ اس کے امتناع کی کوئی دلیل نہیں۔(التکشف ص۶۰۰)

۸ : اشرف علي تهانوي رحمه الله بل ځای ليکلي دي چې: اس سے معلوم ہوا کہ بزرگوں کی روح اگر کسی جگہ متجسم ہو کر نظر آئے ممکن ہے۔(التکشف ص۶۴۹)

۹ :اشرف علي تهانوي رحمه الله بل ځاي ليکلي دي چې : مرنے کے بعد کسی جگہ روح کا ظاہر ہونا التکشف ص۶۸۱۔او وروسته ليکي: حدیث کی دلالت اس پر ظاہر ہے کہ موسیٰ علیہ السلام اور یونس علیہ السلام آپ کو نظر آئے یہ تمثیل روحی تھا کیوں کہ جسد تو ان حضرات کا قبور میں تھا۔(التکشف ص۶۸۲) وروسته مزید حواله جات پیش کوم.

[**فائده**]:دا مو صرف بطور نمونه ذکر کړو اقوال علماء ديوبند دا مسئله باندې الحافظ جلال الدين السيوطی رحمه الله يو کتاب هم ليکلے دے. په نامه د تنوير الحلك في امكان رؤية النبي والملك الحاوي للفتاویٰ جلد ۲ ص ۲۴۳ . دا مسئله ډېرو کتابونو کښې ذکر ده . اخبار الاخيار ص ۳۷ ،ص ۳۸ فتویٰ حديثية ص ۳۹۴ ، ۳۹۱ .

۱۰ : مفتري رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۲ باندې ليکلي دي چې سيفيان ځکه بريلويان دي چې عقيده او عمل ئې د بريلويانو سره برابر دے.



## (سیفیان او بریلویانو کښې فرق)

**الجواب**:د سيفيانو او د بريلويانو عقائد او اعمال سره برابر نه دي بريلويان انبياؤ ته علم الغيب کلي مني او سيفيان جزئي مني بريلويان رسول الله صلی الله عليه وسلم هر ځای حاضر او ناظر مني او د سيفيانو عقيده مخکښې ذکر شوه چې د حاضر او ناظر نه ده . مختار کل مسئله وغېره داسې ډېر نور اعمال شته لکه بريلويان د علماء ديوبند د تکفير قائل دي او سيفيان د علماء ديوبند د تکفير قائل نه دي خلاصه دا چې د سيفيانو هره عقيده د علماء ديوبند د کتبو څخه ثابته ده که ميلاد دے که عرس دے که ذکر بالجهر دے که علم الغيب جزئي دے که خيرات دے که دعا بعد السنة دي که اسقاط دي که وجد او جذب او رقص الصوفيه دي وغېره چې څومره مسائل دي دا زمونږ اعلان دے چې هره عقيده د سيفيانو حضراتو د علماء ديوبند د کتابونو څخه ثابت دي او که په دې عقائدو او اعمالو سره څوك بريلوي کېږي نو ستا مشران به هم بريلويان وي ځکه چې هغوي هم دغه عقائد ساتي . ستا او د پنج پيريانو يو شان عقائد دي او مخکښې مو فتوٰی حقانيه جلد ۱ ص ۳۳۷ عبارت ذکر کړو چې پنج پيريانو ته ئې اهل سنت ويلي وو. او د پنج پيريانو عقائدو ته ئې صحيح ويلي وو.

## (اعتراض د ولي څخه انکار کفر دی)

۱۱: رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۳ باندې ليکلي دي چې د پير سيف الرحمان اوله دعوه: چې زما په زرګونه مريدان اولياء دي او دوي د ولايت څخه انکار کفر دے حواله ئې ورکړې ده په هداية السالکين ص ۲۲۰.

**الجواب**: ديکښې خو هيڅ شك نشته چې د پير صاحب رحمه الله په زرګونه مريدان اولياء نه دي بلکه اولياء دي. دويم پير صاحب دا خبره چې د ولي د ولايت نه انکار کفر دے نو هغه حواله ورکړې ده په حديقة الندية باندې چې هلته ذکر دي ان معاداة الاولياء والعلماء العاملين کفر عند الجمهور جلد ۱ ص ۴۸۹ من عادى احدًا من الاولياء والعلماء العاملين او الشرفاء فقد عادى ايمانه۔ حديقة الندية جلد ۱ ص ۴۸۹ مکتبه معروفيه۔ وفى مخالفة الولى والعالم الضلال والهلاك۔ (حديقة الندية جلد ۱ صفحه ۴۹۰) دا ئې هم ليکلي دي چې: والحاصل ان الانکار بالقلب او اللسان علىٰ احد من اولياء الله تعالىٰ الذين هم العلماء العاملون وسواء كانوا احياء او كانوا موتى وكلهم احياء عند من يعرفهم بحياة الله لا بانفسهم وكلهم موتى من حياتهم بأنفسهم سواء عرفهم من ينكر عليهم او لم يعرفهم وانكر مالم يعرف من



احوالهم الصحيحة وأفعالهم المستقيمة عندالله تعالىٰ۔ فهو كفر صريح والمنكر كافر باجماع المسلمين۔ (الحديقة الندية جلد ۱ ص ۴۹۰) او صاحب د بريقه هم ليکلي دي چې: ان معاداة المشائخ والعلماء العاملين كفر. (البريقه جلد ۱ ص ۲۹۲)

علامه ابن حجر الهيثمي رحمه الله ليکلي دي چې د اولياؤ د منکر اخره خاتمه به خرابه وي: وجاء عن المشائخ العارفين والأئمة الوارثين انهم قالوا: اقل عقوبة المنكر على الصالحين ان يُحرم بركتهم قالوا: ويُخشى عليه سوء الخاتمة نعوذ بالله من سوء الخاتمة۔ (فتوى حديثية ص ۴۳۵ والتفصيل فى اليواقيت والجواهر جلد ۱ ص ۱۱)

۱۲: رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۳ باندې دا هم ليکلي دي چې دوهمه دعوه: پير سيف الرحمان د اخص الخواص اولياؤ څخه دي: حواله ئې ورکړې ده په هداية السالکين ص ۱۷۲.

**الجواب**: رحيم الله هر ځای خپل دجل کړے دے اصلاً دا قول د مولنا محمد هاشم سمنګاني رحمه الله دي په حق د پير صاحب رحمه الله کښې چې مولانا محمد هاشم سمنګاني رحمه الله ويلي دي چې اخندزاده صاحب رحمه الله اخص الخواص اولياء کرام د جملې څخه دي: اوګوره هداية السالکين ص ۱۷۵، ۱۷۲. او که اومنم بالفرض دا

د يو مريد قول شي په باره د پير صاحب رحمه الله كښې نو هم بالكل صحيح دي ځكه چې شيخ عبد القادر الجيلاني رحمه الله فرمائيلي دي چې مريد به خپل پير د نورو اولياؤ څخه فوق گڼي اوگوره غنية الطالبين جلد ۲ ص ۲۸۴ دريم كه ته وائي چې افراط دي په حق د پير صاحب كښې نو اوس راشه چې ستاسو مشر د خپل مشر ته څنگه القاب وركوي مولانا محمد عاشق الهي ميرټهي صاحب د رشيد احمد گنگوهي رحمه الله ته كوم القاب وركړي دي ليكي : قطب العالم قدوة العلماء غوث الاعظم أسوة الفقهاء جامع الفضائل والفواضل العلية مستجمع الصفات والخصائل البهيّة السنيّة حامی دين مبين مجدد زمان وسيلتنا الی الله الصمد الذی لم يلد ولم يولد شيخ المشائخ مولانا الحافظ الحاج المولوی رشيد احمد صاحب محدث گنگوهی۔

(تذكرة الرشيد جلد ۱ ص ۱۷)

۱۳: رحيم الله مفتري كاذب د خپل كتاب صفحه ۲۴ باندې ليكلي دي چې : دريمه دعوه: په پيري او بزرگی كښې د مقابلې چيلنج كړے دے . او حواله ئې وركړې ده هداية السالكين ص ۱۵۲ باندې .

**الجواب**: دلته رحيم الله بيا خپل زوړ عادت ښكاره كړي دي د عبارت غلط مفهوم ئې بيان كړي دي: ځكه اصلاً



هداية السالكين د يو جاهل پير په رد كښې ليكلي شوي دي په نامه د پير محمد چشتي نو په هداية السالكين ص ۱۵۲ باندې پير محمد چشتي ته چيلنج وركړے دے لكه څرنگه چې اوس هم يو عالم بل عالم ته چيلنج وركوي داسې ليكلي دي چې : اگر کوئی پیر محمد سے پوچھ لے کہ ولایت ثلاثہ اور کمالات ثلاثہ کے مراتب کی درمیان فرق بیان کریں تو بیان نہیں کر سکتا۔ اسی طرح اگر پیر محمد سے پوچھ لیا جائے کہ نبی اکرم ﷺ کا مبدا تعین عالم امر کی اعتبار سے کیا ہے؟ اور عالم خلق کے اعتبار سے کیا ہے؟ تو بھی نہیں سمجھتے۔ نو د پير محمد چشتي ستاغوندې صرف د كفر او د شرك ټاپې ئې په خلقو وهلي چې فلان كافر فلان مشرك فلان كامل فلان ناقص: نو صاحب د هداية السالكين ليكلي دي چې : عند الرهان تعرف السوابق كښې مضمون پر میدان میں معلوم ہو سکتا ہے کہ ناقص پر کون ہے۔ (ہدایۃ السالکین ص ۱۵۲)

## (اعتراض چې په يوه ساه د قران كريم ختم جواب)

۱۴: مفتري رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۲۴ باندې بيا ليكلي دي چې څلورمه دعوه: زما خليفه حضرت روحاني صيب په يوه ساه د قرآن ختم اولس زره ځله لا اله الا الله لوستل شي . حواله ئې وركړې ده په هداية السالكين ص ۱۷۸ باندې .

**الجواب**: نو دا خو څه د نه منلو خبره نه ده اوس هم

الحمد لله داسې سالکان شته چې په ګهنټو ګهنټو په يوه ساه نفي اثبات کولے شي دوئم دا د تصوف خبرې دي په دې اهل الله پوهيږي دريم دا يو کرامت وو د حضرت روحاني صيب مبارك رحمه الله او که ته وائي چې زما عقل ئې نه مني نو کرامت وائي ديته چې د عقل نه بالا وي خارق العادة وي که داسې وي نو بيا خو ستاسو مشرانو ليکلي دي چې زمونږ په زمانه کښې يو بزرګ وو څلويښت کاله ئې هره ورځ صرف يو بادام خوړو نور ئې هيڅ هم نه خوړو. ایک بار ارشاد فرمایا کہ شاہ عبدالقدوسؒ نے اپنے ایک رسالہ میں تحریر فرمایا ہے کہ الحمد للہ میرے زمانے میں ایک بزرگ ہیں شاید متقدمین میں بھی ایسا مجاہدہ کرنے والا کوئی نہ ہوا ہو چالیس سال سے ہر روز صرف ایک بادام کھاتے ہیں۔ اسی پر گزارا ہے اس کے سوا دنیا کی کوئی چیز نہیں کھاتے۔(ارواح ثلاثہ ص۲۲۸)

(۲): همدغه شان ستاسو مشر ليکلي دي چې : ایک مرتبہ فرمایا کہ شیخ عبدالقدوسؒ عشاء کی نماز کے بعد ذکر بالجہر کرنے بیٹھتے اور صبح تک کرتے تھے۔(ارواح ثلاثہ ص۲۲۹)

(۳): همدغه شان اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي چې يو بزرګ وو د نفي اثبات کښې ډېر اعلی مقام ته رسېدلي وو چې لا اله به ئې اوويل نو تياره به شوه هر څه به فنا شو او چې کله به ئې الا الله اوويل يو نور به



ښکاره شو. وہ ایسے بزرگ تھے کہ ان کا ذکر نفی واثبات اس درجہ پر پہنچ گیا تھا کہ جب لا الہ کہتے تاریکی ہو جاتی اور چادر وغیرہ کچھ نہ رہتی سب فنا ہو جاتی اور جب الا اللہ کہتے ایک نور ظاہر ہوتا یہ دونوں کیفیت معلوم ہوتی تھیں۔ ایک شخص یہ حالت دیکھ کر متحیر رہتا تھا۔(امداد المشتاق ص۵۹)

(۴): همدغه رنګه اشرف علی تهانوي رحمه الله ليکلي دي چې بعض خلق داسې هم شته چې څلويښت ورځو پورې هيڅ هم نه خوري. بعض اہل ریاضت سے منقول ہے کہ چالیس چالیس روز تک انہوں نے مطلق نہیں کھایا۔(التکشف ص ۲۰۲) زمونږ هغه نه مني او خپل هر څه مني. عجيبه ده. هغه کتاب چې تا د رقص مسئله کښې ډير ذکر کړی دي هغه کښې ذکر دي چې واخبرنا عن المرصفی انه قرأ فی ايام سلوکه فی کل يوم وليلة ثلاثمائة الف ختم. او دا هم ليکي چې : والشيخ عبدالوهاب الشعرانی ختم بين المغرب والعشاء ختمتين. (البريقه جلد ۱ ص ۲۷۷) او بل ځاي کښې دا هم ليکي: عن علی رضی الله عنه انه يختم القرآن بالتجويد والترتيل ما بين وضع قدميه فی الرکاب. (البريقه جلد ۱ ص ۳۲۰) چې دا کرامات مني هغه هم کرامت دی هغه هم اومنه.

***

## (اعتراض په هداية السالكين په باره د مجدد كښې جواب)

**۱۵**:د رحيم الله دجل او دوكه : په خپل كتاب صفحه **۲۵** باندې ئې ليكلي دي چې: پير صاحب وائي چې زه ځكه مجدد يم چې زما ټول مريدان عمامه په سروي او د ډوډۍ په اول او اخر كښې مالګه څټي . حواله هداية السالكين ص**۲۵** .

**الجواب**:افسوس ستا پر حال رحيم الله په رب قسم چې صرف د افتراګانو او دروغو نمونه ده كه دغه شان عبارت ماته چا په هداية السالكين كښې پيدا كړو نو زه مجرم زه د هداية السالكين پوره عبارت رانقلوم: پس معلوم ہوا کہ مجدد کی علامت یہ ہے کہ احیا سنت اور اماتت بدعات میں مصروف عمل رہیگا۔ اور یہ بات غیر متعصبین پر مخفی نہیں کہ فقیر ہر وقت احیاء سنت میں مشغول رہتا ہے۔ میرے پچاس ہزار سے زائد مریدین کو غور سے دیکھنے پر یہ بات بدیہی طور پر ثابت ہوتی ہے کہ فقیر محی السنہ ہے۔ میرے تمام مریدین عمامہ کی پابندی کرنے والے ہیں روٹی کی ابتداء اور اختتام نمک سے ہوتی ہے جو کہ سنت ہے اور ستر امراض کی علاج ہے۔(ہدایۃ السالکین ص ۳۰۰)

نو دا عبارت هر مسلمان اوګوري او بيا د رحيم الله مفتري كاذب كتاب اوګوري چې څومره دوكه ئې كړې ده . دا خبره چې د مجدد لپاره علامه احيا سنت او اماتت بدعت



ده نو دا اصل كښې د شيخ كبير محمد ابوزهره رحمه الله خبره ده چې د تانيث الخطيب په مقدمه كښې ذكر ده . اوګوره هداية السالكين ص **۲۹۹** پير صاحب صرف ناقل دے .

## (اعتراض چې د ډوډۍ څخه مخكښې مالګه څټل بدعة دی .جواب)

**۱۲**:رحيم الله بيا همدې صفحه **۲۵** باندې ليكلي دي چې: د ډوډۍ څخه مخكښې او وروسته د مالګې څټل دثواب په نيت بدعت دے .

**الجواب**:امام غزالي رحمه الله او شهاب الدين محمد بن احمد ابي الفتح رحمه الله د حضرت علي رضى الله تعالىٰ عنه روايت ذكر كړے دے چې د روټۍ نه مخكښې او وروسته مالګه څټل د اويا بيماريو لپاره شفاء ده. وعن النبی ﷺ انه قال: يا علی ابدأ بالملح واختم به۔ فان فيه شفاء من سبعين داء ۔ المستطرف فی كل فن مستظرف ص ۴۱۷ احياء علوم جلد ۲ صـ۲۵۔

(۲):الشيخ عبد القادر الجيلاني رحمه الله ليكلي دي چې : ويستحب ان يبدأ بالملح ويختم به : يعني د ډوډۍ څخه مخكښې او وروسته مالګه څټل مستحب دي . غنية الطالبين جلد ۱ ص **۵۴** .

(۳): په فتوی التاتارخانیه کښې ذکر دي چې :
ویستحب له ان یبدأ الطعام بالملح ویختم به فان ذلك من السنة ویقال: فیه شفاء من سبعین داء ـ فتوٰی التاتارخانیه جلد۱۸ ص ۱۸۰ ـ

(۴): علامه شامي الحنفي رحمه الله لیکلي دي چې:
ومن السنة البداءة بالملح والختم به بل فیه شفاء من سبعین داء ـ یعني د روټۍ په شروع او په ختمېدو کښې مالګه څټل سنت دي د اویا بیماریو پکښې شفاء ده . فتوی شامي جلد ۹ ص ۵۲۲ .

[**تبصره**]: نو اوس رحیم الله ته په ایمان سره اووایه چې تاسو بمقابله حنفیت ئې اوکنه سیفیان تا خو خپلو احنافو ته بدعتیان اوویلو .

## (اعتراض په هدایة السالکین د عمامې په سنتیت باندې)

۱۷: رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۲ کښې لیکلي دي چې پیر صاحب په هدایة السالکین کښې لیکلي دي چې عمامه سنت دائمه مستمره لازمه او متواتره ده حواله هدایة السالکین ص ۱۴۴ .

**الجواب**: پیرصاحب دا خبره رانقل کړې ده د شیخ ابراهیم البیجوري رحمه الله د کتاب نه مواهب لدنیه چې



العمامة سنة مؤكدة محفوظة لم يتركها الصلحاء. اوګوره هدایة السالکین ص ۱۴۳ چې دا عبارت د ملا علي القاري رحمه الله په جمع الوسائل کښې هم موجود دي ص ۲۰۲ او رحیم الله صاحب وائي چې پیر صاحب لیکلي دي چې صرف ټوپۍ پسرول د کفارو شعار دے . هدایة السالکین ص ۱۴۲ نو دا خبره هم د پیر صاحب خپله نه ده بلکې نقل دي .

ملا علي القاري رحمه الله لیکلي دي چې : قال ابن الجوزی قال بعض العلماء السنة ان یلبس القلنسوة والعمائم فاما لیس القلنسوة وحدها فهو ذی المشرکین (جمع الوسائل ص۲۰۷) او ملا علی القاری رحمه الله په مرقاة کښې بیا لیکلي دي چې : قال بعض العلماء : السنة ان یلبس القلنسوة والعمامة: فاما لبس القلنسوة فهو ذی المشرکین ـ (مرقاة جلد۸ ص۲۱۵) او بیا وروسته ملا علي القاری رحمه الله دا هم لیکلي دي چې: فلبسها وحدها مخالف للسنة کیف وهی ذی الکفرة ـ وکذا المبتدعة فی بعض البلدان ـ (مرقاة جلد ۸ ص۲۱۵)

## (اعتراض چې په شریعت صرف سیفیان برابر دي)

۱۸: رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۷ باندې لیکلي دي چې : شپږمه دعوه: په ټوله دنیا کښې د شریعت او د سنت صحیح تابعداران فقط سیفیان دي .(حواله هدایة السالکین ص۱۷۸ )

**الجواب**:دلته بیا رحیم الله دوکه او دجل کړی دي
چونکې هدایة السالکین په اردو کښې دي نو ده ئې پښتو ته
رانقل کړې دي خو هغه هم غلط: د هدایة السالکین عبارت دا
دے چې: *تمام دنیا میں شریعت محمدی کی متابعت اور سنت سنیه کے التزام کا واحد
مرکز اس فقیر کی خانقاه سیفیه یاد کی جاتی ہے۔(ہدایۃ السالکین ص: ۱۷۸)*

نو هغه خبره وهم دې کوم ځای او ډب دې ښیرې د
کوم ځای نه . د عبارت مطلب دا دے چې په ټوله دنیا کښې
د شریعت د متابعت او د سنت والتزام واحد مرکز د دې
فقیر خانقاه سیفیه یادیږي . او رحیم الله ئې کوم مطلب بیان
کړے دے . د دې عبارت مطلب داسې دے لکه چې تاسو
وائي په دنیا کښې دیوبند د خدمت نوم یادیږي . نو د دې نه
خو دا نه لازمیږي چې ما سېوا د دیوبند نه بل چا خدمت نه
دے کړے. هر ځای رحیم الله د هدایة السالکین مطلب غلط
بیانوي . سره د دې چې ستاسو مشر لیکلي دي چې زما
طریقه بعینه د صحابه کرامو رضی الله عنهم طریقه ده. که:
*که یه جو میرا طریقه ہے بعینه یہی صحابه رضی الله عنهم کا طریق ہے اس پر ثابت
قدم رہنا اور اس کو ہاتھ سے نه دینا۔(تذکرۃ الرشید جلد ۲ ص ۵۴)*

***



## (اعتراض چې د پیر صاحب مقام د پیران پیر رح نه اوچت دی)

۱۹:رحیم الله صاحب د خپل کتاب صفحه ۲۷ باندې
دا خبره هم ذکر کړې ده چې د پیر سیف الرحمان مقام د
پیران پیر صاحب څخه اوچت دي او نورې ډېرې خبرې ئې
کړې دي او بیا ئې حواله ورکړې ده په هدایة السالکین ص
۳۲۴ : ۳۲۵ باندې .

**الجواب**: دلته رحیم الله بیا دجل او دوکه کړې ده
ځکه چې دا یو کس خوب کتلے دے هغه خوب ذکر دے
رحیم الله خلقو ته داسې ښکاره کړې ده چې ګویا دا خبرې
په ویښه شوي دي: دا خوب مولوي محمد عارف کتلے دے
د هدایة السالکین په صفحه ۳۲۳ باندې شروع شوے دے
تر صفحه ۳۲۵ پورې . سره د دې چې خوب څه دلیل هم نه
دے نو بیا ئې ولې دلته مونږ ته په دلیل کښې پیش کوي دا
خبره هدایة السالکین کښې هم ذکر ده چې خوب دلیل نه
دے . *رؤیا اگرچه مبشرات ہیں لیکن دلیل ملزم نہیں ہیں۔*اوګوره د هدایة
السالکین ص ۲۹۹ . دویم مرید به خپل پیر اوچت ګڼي په
نورو پیرانو اوګوره غنیة الطالبین جلد ۲ ص ۲۸۴ همدا
وجه ده اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې : *بعض
خشک مزاج انکار کرتے ہیں که شیخ کے ساتھ حب طبعی اس افراط کے ساتھ نہیں*

ہوسکتی۔ حدیث میں اس کی تصریح ہے اور ایک مسئلہ اس سے یہ ثابت ہوا کہ بعض کمالات کے لئے ایسی ہی محبت شرط ہے۔(التکشف ص۵۸۹)

دريم که دا بې ادبي وي نو راشه ستا مشران وګورو. اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي چې حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائيلي دي که چيرته يو مجلس کښې جنيد بغدادي رحمه الله او امام شبلي رحمه الله موجود وي او ورسره حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله هم وي نو زه به صرف د حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله سره ناست يم او حضرت جنيد بغدادي رحمه الله اوامام شبلي رحمه الله ته به نظر هم اوچت نه کړم . حضرت گنگوہیؒ فرماتے تھے کہ اگر کسی مجلس میں جنید و شبلی ہوں اور حاجی صاحبؒ بھی ہوں تو ہم تو جنید و شبلی کی طرف آنکھ اٹھا کر بھی نہ دیکھیں بس حاجی صاحبؒ ہی طرف اپنی نگاہ رکھیں ہاں حاجی صاحبؒ کا جی چاہے وہ ان کی طرف دیکھیں ہم تو کسی کی طرف بھی نہ دیکھیں گے۔(حضرت تھانویؒ کے پسندیدہ واقعات ص۱۳۳)که هغه خوب بې ادبي وي نو ستاسو دغه د وينبه حالت څه دے. بس د کوزې او د غلبېل قصه ده .

***



## (اعتراض چې پير صاحب به دنيا کښې ولي وي او اخرت کښې به نبي)

۲۰:رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۸ باندې دا خبره هم ليکلې ده چې اتمه دعوه: پير سيف الرحمان په دنيا کښې ولي دے او په آخرت کښې به نبي شي . حواله هداية السالکين ص ۳۲۷ .

**الجواب**:دلته بيا د اسلام ټيکه دار رحيم الله دجل او دوکه کړې ده ځکه چې کوم مطلب ده بيان کړے دے دا په هداية السالکين کښې بالکل نشان نشته بلکې هداية السالکين کښې د محمد يعقوب خوب ذکر دے او هغه خوب کښې هم دا نشته چې په آخرت کښې به پير صاحب نبي شي . عبارت دا سے دے : خواجہ محمد حضرتؒ کا مرید محمد یعقوب اپنا خواب بیان کرتا ہوئے لکھتا ہے کہ دیکھتا ہوں کہ ایک مسجد میں خواجہ محمد حضرتؒ اور شیخ المشائخ حضرت اخندزادہ سیف الرحمان صاحبؒ تشریف فرما ہوتے ہیں اور رسول اکرم ﷺ بھی تشریف فرما ہیں اسی اثناء میں رسول اللہ ﷺ فرماتے ہیں کہ حضرت اخندزادہ سیف الرحمان صاحب اگر چہ ولی اللہ ہیں نبی نہیں ہیں لیکن میں اسکے علوشان کی وجہ سے اس ہستی کو قیامت کے دن انبیاء کے صف میں کھڑا کروں گا۔ ہدایۃ السالکین ص۳۲۷۔

نو اوګوره اول دا د يو سالك خوب دے او خوب څه دليل هم نه دے . هداية السالکين کښې هم ذکر دي چې

خوب دلیل نه دے ص ۲۹۹ . او دوئم دې خوب کښې دا خبره چرته ده چې په آخرت کښې به پیر صاحب نبي شي . پیر صاحب رحمه الله دنیا کښې هم د انبیاؤ غلام وو او اخرت کښې به هم د انبیاؤ غلام وي. صاحب د البریقه لیکلي دي چې وزاد انس فی حدیث الغار. اللهم اجعل ابابکر معی في درجتي یوم القیامة فاوحی الله الیه ان الله قد استجاب لك. (البریقه جلد ۱ ص ۳۲۲) سره د دې چې ولی د پیغمبر درجې ته نه رسیږي. لهذا نو اول خو دا خوب دے. دوئم په ورځ د قیامت د انبیاؤ په صف کښې اودریدل غیر نبي نبي نه ګرځي.

## (اعتراض چې د پیر صاحب رحمه الله په اقتداء کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم لمونځ کړی)

۲۱: رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۲۹ باندې لیکلي دي چې پیر سیف الرحمان د نبي علیه السلام په موجودګۍ کښې ټولو انبیاوو او اولیاوو ته امامتي ورکړه . حواله هدایة السالکین ص ۳۲۹ .

**الجواب**: دا هم یو خوب دے د صوفي رستم خان صاحب او دا خبره هم په هدایة السالکین کښې ذکر ده چې خوب دلیل نه دے *رؤیا اگرچہ مبشرات ہیں لیکن دلیل ملزم نہیں ہیں۔*(ہدایۃ السالکین ص ۲۹۹)عبارت د خوب داسې دے چې صوفي رستم خان وائي ما خوب اوکتلو: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او نور انبیاء



صحابه اولیاء موجود وي . *اسی اثنامیں حضرت رسول اکرم ﷺ نے مبارک کو امامت کیلئے آگے کر دیا۔ اور خود حضرت رسول اکرم ﷺ نے تمام حاضرین کے سمیت مبارک صاحبؒ کے پیچھے اقتداء کیا۔*(ہدایۃ السالکین ص ۳۲۹)نو جناب رحیم الله صاحب دغه خوب قابل اعتراض ګرځولے دے. سره د دې چې په هدایة السالکین کښې د دې خوب پسې متصل وضاحت موجود دے چې:

*اس سے یہ لازم نہیں ہے کہ ولی نبی سے افضل ہے العیاذ باللہ بلکہ وراثت اور نیابت پر دلیل ہے جسطرح امام مہدی اور عیسیٰ علیہ السلام کے درمیان امامت کا واقعہ روایات میں مذکور ہے۔*(ہدایۃ السالکین ص ۳۲۹)

همدغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم اقتداء کړې ده په ابوبکر صدیق رضی الله تعالٰی عنه پسې اوګوره بخاري جلد ۱ ص ۹۴ .

۲۲: رحیم الله صاحب د خپل کتاب صفحه ۳۰ باندې لیکلي دي چې پیر سیف الرحمان د رحمان په جزء کښې د الله جل جلاله سره شریك دے. د بدر په جنګ کښې د نبي علیه السلام د توري روح وو. حواله هدایة السالکین ص ۳۲۸ .

**الجواب**: دا د خلیفه امان ګل صاحب کشف دے چې په هدایة السالکین ص ۳۲۸ باندې ذکر دي او دوئم دا چې د الله د نوم سره مشارکت دے نو دا خبره ئې هم هدایة السالکین کښې ورسره لیکلې ده چې جوکه اشتراك اسمی

هے. نو دا صرف اشتراك اسمي دے . هداية السالكين ص ۳۲۸ . دوئم كه چرته دغسې مؤخذه كوي نو واخله درسره الزامي جواب اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې:

ایک خادم نے کسی کتاب میں کلمہ ٔ امداداللہ پڑھا اور کہا نام نامی حضور کا اور مدح وثنائے عالی پہلی کتابوں میں بھی موجود ہے ہنس کر فرمایا۔ جہاں نظر کرو امداداللہ ہے ظہور تمام عالم کا امداداللہ سے ہے اگر مدح وثناء امداداللہ نہ کریں کمبختی آوے ۔ (امداد المشتاق ص ۸۵)

كه چيرته تاسو په خوب مؤخذه كوي نو د اشرف علي تهانوي رحمه الله يو مريد په خوب كښې دا كليمه ويله چې لا اله الا الله اشرف علي رسول الله . معاذالله . چې هر كله مريد دا خوب اشرف علي تهانوي رحمه الله ته بيان كړو نو هغه ورته اوويل چې دا زما په وراثت دليل دے اوګوره رساله امداد ص ۳۵ . دغه شان بل خوب هم درسره واخله اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي چې :

مولوی غلام حسین صاحب نے مکہ معظمہ میں خواب دیکھا کہ ایک مجمع میں حضرت صاحب کا ایک مرید کہہ رہا ہے کہ حضرت ختم المرسلین ﷺ فرماتے ہیں کہ حاجی صاحب دیگر اولیاء سے سبقت لے گئے ہیں۔(امداد المشتاق ص ۱۲۱)

يوبل خوب هم درسره واخله: رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فرمائيلي دي چې :

میں نے ایک بار خواب دیکھا تھا کہ مولوی محمد قاسم عروس کی صورت



میں ہیں اور میرا اُن سے نکاح ہوا ہے جس طرح زن وشوہر میں ایک کو دوسرے سے فائدہ پہونچتا ہے اسی طرح مجھے اُن سے اور انہیں مجھ سے فائدہ پہونچا ہے۔

(تذکرۃ الرشید جلد ۲ ص ۳۶۲)

لږ دا خوبونه هم درسره اوګورئ نور خلق خو په خوبونو سره كافران كوئ .مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د جناب ديوان محمد يٰسين صاحب حكايت رانقل كړي دي چې هغه ذكر بالجهر كولو په همدې حالت كښې ئې رسول الله صلى الله عليه وسلم او خلفاء اربعه وليدو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل چې محمد قاسم نانوتوي رحمه الله راوغواړه چې كله هغه حاضر شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوويل چې د دې مدرسې حساب راكړه نو محمد قاسم نانوتوي رحمه الله ورته د يوې پائي حساب وركړو بيا د رسول الله صلي الله عليه وسلم تخت آسمان ته اوچت شو. (ارواح ثلاثه ص ۲۹۹)

## (اعتراض چې په پير صاحب رحمه الله باندې علماؤ د كفر ټاپه وهلې ده)

۲۳ :رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۳۰ نه واخله تر صفحه ۳۵ پورې د بعضې علماؤ فتوې ذكر كړي دي بعضې معروف او بعضې غير معروف چې پير سيف الرحمان صاحب مشرك يا كافر دے .معاذالله.

**الجواب**:كومو علماؤ فتوي وركړي دي نو هغوي

کوم دلیل سره پیر صاحب مبارك ته کافر یا مشرك ویلي دي
دلیل نشته کافر دے او مشرك دے . دوئم دا ټول مقلدین
محض دي او د دوي تقلید هلاکت دے ځکه خو علامه
شامي رحمه الله لیکلي دي چې ان الفقهاء على سبع طبقات
: چې د فقهاؤ اووه طبقې دي او اوومه طبقه د مقلدینو ده
فويل لمن قلدهم كل الويل . مجموعه رسائل ابن عابدين
جلد ۱ ص ۴۲ . او دریم دا چې فقهاؤ لیکلي دي چې چا
کښې په سلو وجوهاتو کښې یو کم سل وجوهات د کفر وي
او یوه وجه د اسلام وي نو بیا به هم ورته کافر نه وائي .
قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله لیکلي دي چې :اگر چند
وجه کفر باشد ويك وجه کفر نه باشد فتوى به کفر نبايد داد
.مالابد منه ص ۱۳۷ . او څلورم دا چې د کومو علماؤ چې
فتوې ورکړي دي هغوي ته د پیر صاحب مبارك په باره
کښې غلط پیغام خلقو رسولے وو چې دلته یو پیر دے
ځانته ئې نبي وئيلي دي معاذالله چې زه نبي یم . نو علماؤ د
کفر ټاپې ورباندې ورکړي او سره د دے چې دا خبره سو
فیصده غلطه او خطاء وه چې پیر صاحب رحمه الله ځانته
نبي ویلي دي محض افتراء او دروغ دي زمونږ عقیده ده چې
د محمد صلي الله عليه وسلم نه پس هیڅ نوے پیغمبر نه
راځي او که څوك دعوٰی د نبوت وکړي کافر زندیق واجب
القتل دے زمونږ عقیده د ختم نبوت ده . همدا وجه ده چې



رحیم الله اول مفتي چې ذکر کړے دے هغه مفتي محمد
فرید رحمه الله دے چې د محمد فرید رحمه الله د رجوع
فتوې مونږ سره موجودي دي چې لیکلي ئې دي چې نه ما
پیر صاحب واجب قتل گڼلے دے او نه واجب القتل دے .
او پنځم دا چې تا د پیر صاحب مبارك رحمه الله په مذمت
کښې **۳۵** فتوگانې ذکر کړي دي او مونږ الحمد لله د
افغانستان اسلامي امارت فتوه هم موجوده ده چې د
سیفیانو مدحه ئې کړې ده او لیکلي ئې دي چې اهل سنت
والجماعت دي . او شپږم به د افغانستان علماء او د
پاکستان د مدارسو او علماؤ فتوې زه پېش کړم چې هغوي
ټولو حضرت مبارك رحمه الله یو صحیح صوفي اهل سنت
والجماعت یو عالم بللے دے.

## (د سیفیانو په تائید کښې د علماؤ تصدیقات)

اوگوره تصدیقات وتائیدات علماء کرام ومشائخ
عظام مدرسین افغانستان صفحه **۲۵۵** نه واخله تر صفحه
۳۰۰ پورې د افغانستان جید علماؤ تصدیقات موجود
دي. دویم نمبر تصدیقات وتائیدات علماء کرام ومشائخ
عظام ومدرسین پاکستان د ص ۳۰۱ نه واخله تر ۳۲۲
پورې د پاکستان د جید علماؤ تصدیقات موجود دي . زه
به صرف د هغوي نمونه مختصر ذکر کړم چې د پیر سیف
الرحمان رحمه الله تائید او تصدیق ئې کړے دے .(۱) اول د

افغانستان علماء ، مولوي محمد نبي محمدي قائد ورهبر حركت انقلابي اسلامي افغانستان. (۲)مولوي محمد سخي امير عمومي حركت انقلاب اسلامي افغانستان .(۳)مولوي محمد نعيم المشهور به كوڼ اخندزاده د لوګر ولايت شيخ الحديث بمدرسه ضياء المدارس (۴) مولوي محمد شاه فضلي نائب امير حركت انقلاب اسلامي افغانستان (۵) شيخ محمد عبدالقدوس (۶)مولوي نجم الدين د لوګر ولايت فارغ دارالعلوم حقانيه اكوړه ختټك (۷) الحاج مولوي محمد صادق د لوګر ولايت .(۸) مولوي عين الدين حنفي د لوګر ولايت (۹) مولوي محمد سعيد هاشمي (۱۰) مولوي عبدالرحمن پنځوائي ولايت قندهار (۱۱) مولوي عبدالغفور سناني (۱۲) مولوي محمد شريف قندهار (۱۳) مولوي حبيب الله القندهاري (۱۴) فقير حاجي احمد ثاني آغا قندهار (۱۵) حاجي ملا سفيروان قندهاري (۱۶) مولوي عبدالمنان مدرس جامعه حضرت صاحب قندهار (۱۷)ملا عبدالسلام قندهار(۱۸)قاري ملا عزيز الله اخند قندهاري (۱۹) مولوي حبيب الله قندهاري (۲۰) مولوي جانان قندهاري (۲۱) ملا محمدظريف خاند قندهاري (۲۲) مولوي محمد سيد اسماعيل آغا قندهاري (۲۳) مولوي عبدالبصير قندهار (۲۴) مولوي عبدالسلام سالمي قندهاري (۲۵) ملاخيرالله صاحب د كابل والي (۲۶) الحاج



ملا الله داد د طالبانو د مخابراتو رئيس (۲۷) الحاج ملا نورالدين ترابي (۲۸) مولوي غلام حبيب ولايت هلمند (۲۹) مولوي شمال خان عثماني ولايت ننګرهار (۳۰) ميا جمعه خان ننګرهار (۳۱) مولوي محمدحسين ولايت ننګرهار (۳۲) الحاج مولوي علي محمد ننګرهار(۳۵) مولوي غلام عيسىٰ ننګرهار (۳۶) مولوي ميرزمان قاضي معاملات (۳۷) مولوي عبدالمجيد ولايت ننګرهار (۳۸) مولوي عبدالله بګرامي ولايت كابل(۳۹) محمد داؤد آغا نقشبندي كابل .(۴۰) ملا مهراب الدين ولايت كابل (۴۱) ملا عبدالعليم نقشبندي پروان (۴۲) مولوي محمد يوسف (۴۳) ملا عبدالباقي ولايت فارياب (۴۴) مفتي حافظ مولوي عبدالله جلالي (۴۵) مناظر ملت مولوي عبدالكريم هاشمي ولايت قندوز (۴۶) مولوي عبدالغني ولايت قندوز (۴۷) مولوي نيك محمد ولايت قندوز (۴۸) مولوي محمد موسىٰ ولايت قندوز (۴۹) مولوي عطاء الله ولايت قندوز (۵۰) مولوي عبدالرشيد تخاري .

اوس به هغه علماء ذكر كړم چې پاكستان كښې دي:
(۱)مولوي محمود جان پشاور (۲) مولوي شاه منير پشاور صدر (۳) الحاج مولانا حافظ عثمان الدين فاضل دارالعلوم حقانيه (۴) پير طريقت غلام رسول (۵) مولانا اصلاح الدين آف هزار خواني پشاور (۶) مولوي فضل الرحمٰن نمكمندي

پشاور (۷) مولوي عبدالقدوس چراټ پشاور (۸) مولوي محمد صادق چراټ پشاور (۹) پير رحمت کريم صاحب (۱۰) مولوي زاهد الله حقاني (۱۱) مولوي نجم الدين مهتمم دارالعلوم قاسم العلوم خير آباد ، مولوي محمدرضان دارالعلوم مردان .مولوي غلام حسن مردان. مولوي محمد الدين حقاني مدرس خير المدارس مردان. مولوي عبدالستار مردان.مولوي سلطان محمد نقشبندي شهباز ګړهي . مولوي ګل رحمٰن درسمند کوهاټ . مولوي محمد اسلم بوګاره کرك. وغيره نور علماء هم دي خو دلته هغه ټول ذکر کول ګنجائش نه لري . دا ټول چې تاسو ګورئ نو مجموعة الحقائق في ترديد الاتهامات والعوائق کښې اوګورئ .

## (په رقص صوفية باندې د رحيم الله اعتراضات او د هغوي جوابات)

۲۴:رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۳۲ باندې ليکلي دي چې دوهمه مسئله د سيفيانو رقص او ګډا. او بيا ئې د وجد تعريف کړے دے چې الوجد ما يصادف قلبك ويرد عليك بلا تعمد وتکلف او بيا ئې په صفحه ۳۷ باندې ليکلي دي چې د سيفيانو وجد رقص دا وجد نه دے او بيا ئې ډېر بې وزنه او بې هوده خبرې ليکلي دي .

**الجواب**:اول خو بايد ټول مسلمانان د رحيم الله



مفتري کتاب مطالعه کړي ټول مجموعه د افتراګانو او د دروغو دي کوم عبارات چې پېش کوي نو اکثره هغه نيم ذکر کوي او دوئم هغه عبارت ئې په رد د وجد او رقص الصوفيه باندې پېش کړے دے چې کوم په تواجد او رقص اختياري باندې رد وي او په رقص متصوفه وو باندې رد وي ان شاء الله د ده خيانت به زه درته په ګوته کړم چې ځومره دوکه باز انسان دے . اوس راځم د وجد تعريف ته نو حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله د وجد داسې تعريف ليکلے دے چې : اعلم ان السماع هو اول الامر ويثمر السماع حالة في القلب تسمى الوجد ۔ (احياء علوم الدين جلد۲ ص ۳۲۳)

يعني سماع هغه اول امر دے چې پيدا کوي دغه سماع يو حالت په زړه کښې ديته وجد وائي .

**سوال**:رحيم الله چې وائي د سيفيانو رقص ته وجد نه وائي . نو **جواب** دا دے چې امام غزالي رحمه الله ليکلي دي چې : ويثمر الوجد تحريک الاطراف اما بحرکة غير موزونة فتسمى الاضطراب واما موزونة فتسمى التصفيق والرقص ۔ (احياء علوم جلد ۲ ص ۳۲۳)يعني راپيدا کوي دغه وجد ښوزېدل د اطرافو کله په حرکت غير موزونه سره وي چې ديته اضطراب وائي او کله په حرکت موزونه سره وي چې ديته تصفيق يعني د لاسونو پړکار او رقص وائي .

**[فائده]**:نو رحيم الله چې وائي وجد منم او رقص الصوفيه نه منم نو دلته ذکر شو چې دا رقص راپيدا کيږي د وجد نه چې وجد مني نو رقص الصوفيه به هم مني ځکه چې دا هم غير اختياري عمل دے د وجد مختلف اقسام دي چې امام غزالي او ملاجيون الحنفي وغيره علماؤ ذکر کړي دي
واعلم ان للباكين عند السماع مواجيد مختلفة فمنهم من يبكي خوفا ومنهم من يبكي شوقا ومنهم من يبكي فرحا ۔ (عوارف المعارف ص ١٦١)او بل ځای کښې ليکلي دي چې : فمنهم من يمزق ثيابه ومنهم من يبكي ومنهم من يصيح ۔يعني بعضې جامې شلوي او بعضې ژاړي او بعضې چغې وهي .
الجزء الخامس من کتاب احياء علوم الدين کتاب عوارف المعارف ص ١٥١ او د التفسيرات احمديه په حاشيه کښې ئې ليکلي دي چې : ثم ان اهل السماع يتفاوتون في حال سماعهم فمنهم من يغلب عليه في حال سماعه الخوف او الحزن او الشوق فيؤذيه الى البكاء والانين والشهقة او تخريق الثياب والاضطراب ومنهم من يغلب عليه الرجاء والفرح والاستبشار فيؤديه الى الطرب والرقص والتصفيق۔
(التفسيرات احمديه ص ٦٠٣ حاشيه)
نو رحيم الله چې وائي سيفيان رقص يعني ګډيږي او



معاذالله د کلابو پشان چغې وهي او جامې سيري . نو رحيم الله او د ده همعقيده وال دې دغه پاسه عبارت په غور سره مطالعه کړي چې هم رقص ثابت دے هم پکښې جامې شلول هم پکښې چغې وهل دا ټول ثابت دي چې حق پرست وي خشيت من الله پکښې وي نو هغه به دا حال تسليم کړي .
**٢٥** :رحيم الله صاحب د خپل کتاب په صفحه **٣٨** باندې بيا ليکلي دي چې د دغو نام نهادو صوفيانو د رقص بنياد شيطان ايښی دي . بيا ئې په حواله د امام قشيري رحمه الله د يو عالم خوب راخستے دے چې هغه عالم وائي ما په خوب کښې شيطان وليدو چې يو او بل طرف ته ئې ډلې ډلې خلق ولاړ وو نو شيطان يوې ډلې ته اوويل چې ارقصوا فرصوا .

**الجواب**:اول دا چې دا خوب دے او خوب دليل نه دے ورنه خوب کښې خلق غلا او زنااو قتل وکړي ليکن په شريعت کښې مجرم نه دي اوګوره نووي شرح المسلم جلد ١ ص ١٨ او دويم دا رد دي په رقص اختياري باندې ځکه چې شيطان ورته اوويل ارقصو نو فرصوا دوي رقص وکړو. او د صوفيه وو رقص خو غير اختياري وي. دريم دا چې تاسو خو مخالفت د سيفيانو کوي ليکن د خپلو اکابرو کتابونه مو نه دے کتلے اوګوره حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله مختلف ځايونه رقص ثابت کړي دي او دلايل ئې

وربانديږ ويلي دي . بوادر النبوادر ص ۳۲۰ دراصل رقص وجد وتواجد. التشرف ص ۵۱ ص ۲۷ ، ۲۸ اوګوري ان شاء الله وروسته زه ټول عبارات ذکر کوم .

۲۲:رحيم الله صاحب د خپل كتاب په صفحه ۳۸ باندې دا هم ليكلي دي چې د رقص الصوفيه بنياد سامري ايښې دي او بيا د قرطبي عبارت ذكر كوي چې : واما الرقص والتواجد فاول من احدثه اصحاب السامری لما اتخذ لهم عجلا له خوار قاموا يرقصون حواليه ويتواجدون فهو دين الكفار وعباد العجل۔ رحيم الله صاحب حواله وركړې ده په قرطبي سورة طه آيت نمبر ۱۴۲ .

**الجواب**:اول خو رحيم الله صاحب ليكلي دي چې دا قول د قرطبي د سورة طه آيت نمبر ۱۴۲ په تفسير كښې ذكر دي . سره د دې چې سورة طه مكمل اياتونه ۱۳۵ دي. دوئم دا قول د قرطبي د سورة طه آيت نمبر ۹۳ په تفسير كښې ذكر دي جلد ۱۱ ص ۲۱۳ او دريم دا چې رحيم الله د تفسير قرطبي نيم عبارت رانقل كړے دے هغه ئې ځكه پټ كړے دے چې هغه په ده رد دے. د قرطبي عبارت: الجواب يرحمك الله مذهب الصوفية بطالة وجهالة وضلالة۔ وما الاسلام الا كتاب الله وسنة رسوله واما الرقص والتواجد الخ۔ قرطبی جلد۱۱ ص ۲۱۳ ـنو زه رحيم الله صاحب ته دا وايم چې



دا عبارت خو پټا هم رد دے او ستا په اکابرو باندې هم رد دے ځکه چې دلته خو امام قرطبي مذهب د صوفيه وو ته باطل ويلي او د جهالت اوضلالت نسبتونه ئي ورته كړي دي. څلورم دا چې دا رد په رقص اختياري باندې ځكه چې د عبارت نه ئې صفا معلوميږي چې اما الرقص والتواجد . تواجد خو وائي ديته چې په خپل اختيار سره وجد راولي په ځان . او پنځم دا چې د امام قرطبي په عبارت كښې ګوتي وهلي شوي دي ځكه چې دا قول د ابوبكر الطرطوشي رحمه الله دي . او هم دا قول په حواله د قرطبي امام شهاب الدين محمد بن احمد ابی الفتح رحمه الله رانقل كړي دي او هلته پكښې عبارت داسي دي چې : مذهب الصوفية ان هذه بطالة وجهالة وضلالة۔ اوګوره المستطرف فی كل فن مستظرف ص۳۸۸ قدیمی کتب خانه۔ نو په قرطبي كښې ان هذه الفاظ نشته. شپږم دا چې تاسو امام قرطبي ويلي پېش كوي په دليل كښې ځكه چې هغه خو ستاسو په نزد مشرك دے تاسو وائي غیرالله ته علم الغيب منل شرك دے امام قرطبي غیرالله ته علم الغيب ثابتوي .وروسته به ان شاء الله د علم الغيب په مسئله كښې زه ذكر كړم .

[**فائده**]:شيخ عبد الغني نابلسي رحمه الله ليكلي دي : واما القاصرون من علماء الرسوم الذين لا يعرفون الا

ظواهر العلوم فلا عبرة بكونه مناقضا عندهم لظاهر القرآن لانهم لا يعلمون اشارات الصوفية ولا مواجيد اهل الكمالات العرفانية الخ۔(حديقة الندية جلد١ ص٣٧٥)

٢٧: رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۴٠ باندې ډېر عجيبه حكمونه لګولي دي چې دغه رقص حرام دي شامي جلد ١ صفحه ٣٠٧ د تصوف په نوم دغه رقص بدعة دے او د شراب خورو څخه هم بدتر دے او دغه رقاصان د كفارو څخه هم زيات ګمراهان دي. د تصوف په نوم دغه رقصان زنادقه دي او انسانيت پكښې نشته او مردود الشهادة دي دوي پسې لمونځ جائز نه دي د دوي شاهدي نه قبليږي . او داسې نور زيات حكمونه او تهاپې ئې لګولي دي.

**الجواب**: رحيم الله ته زه اول دا وايم چې دا كومې تهاپې چې دې په سيفيانو اولګولې د رقص په وجه چې مردود الشهادة دي انسانيت پكښې نشته او زنديق دي او داسې نورې تهاپې . نو راشه اول به درته خپل مشران ذكر كړم چې هغوي د رقص او د تواجد قائل وو آيا هغه په دې عمل سره معاذالله ستا د تهاپو موافق زنديق وو مردود الشهادة وو. انسانيت پكښې نه وو او اقتداء ورپسې جائزه نه وه . كه هغه مسلمانان وي صحيح اهل سنت او صوفيه وي نو بيا خو سيفيان هم اهل سنت او صحيح صوفيه دي .



١: اشرف علي تهانوي رحمه الله په التشرف كښې رقص او تواجد ثابت كړے دے . **فائده**: اس حدیث میں اصل ہے اہل وجد کے رقص کی جو فرح یا شوق کے غلبہ سے ہوتا ہے اگر چہ وہ غلبہ بے اختیار سے نہ ہو اس کو تواجد کہتے ہیں۔ (التشرف ص٦٨)۔٢: او بل ځاي كښې ليكلي دي چې : **فائده**: اس سے معلوم ہوا کہ صاحب وجد معذور ہوتا ہے اگر چہ غلبہ میں اپنے کو ہلاک بھی ڈالے اس پر اعتراض نہ کرنا چاہئے۔(التشرف ص ٦٧)۔٣: او بل ځاي ليكلي دي چې : **فائده**: اس میں اثبات تواجد یعنی اہل وجد کے ساتھ تشبہ کا۔(التشرف ص ٥١) ۴: او په بوادر النوادر كښې ليكلي دي چې در اصل رقص وجد وتواجد بيا ئې هغه روايت راوړي دي چې حضرت علي حضرت زيد حضرت جعفر رضي الله عنهم د نبي كريم صلی الله عليه وسلم په مخامخ رقص وكړو بيا په آخر كښې ليكلي دي چې: فيه اصل رقص اهل الوجد لفرح او شوق ۔بوادر النبوادر ص٣٦٠۔
او دغه شان نور لوي لوي علماء د رقص اثبات كړي دي مثلاً الحافظ جلال الدين السيوطي رحمه الله الحاوي جلد٢ ص ٢٢٣ . ابن حجر الهيثمي رحمه الله د رقص صوفيه اثبات كړي اوګوره فتوی حديثية ٣٩١ مولانا فقيرالله صاحب د رقص او تواجد اثبات كړي اوګوره قطب الارشاد ص ٥٧٢ . امام بيهقي رحمه الله كړي دي اوګوره

بیهقي جلد ۱۲ ص ۵۳۷ امام غزالي رحمه الله کړي اوګوره احیاء علوم جلد ۲ ص ۳۲۳ . امام جیون رحمه الله کړي اوګوره حاشیه تفسیرات احمدیه ص ۲۰۳ صاحب د نبراس کړي دي د رقص ثبوت اوګوره نبراس ص ۵۲۳ شیخ عبد الغني النابلیسي رحمه الله د رقص ثبوت کړي دي اوګوره حدیقة الندیه جلد ۵ ص ۱۳۱ نه واخله تر ۱۳۸ پورې او داسې نور کتابونه دي چې هغوي د رقص الصوفیه قائل دي .معاذالله ستا د ټاپو موافق دا ټول مردود الشهادة دي او زندیقان دي. افسوس .وروسته به ان شاء الله زه هغه ټول عبارات ذکر کړم .

۲۸ :رحیم الله صاحب لیکلي چې علامه شامي رحمه الله ویلي دي رقص صوفیه حرام دي . حواله ئې ورکړې ده په فتویٰ شامي باندې .

**الجواب**:حرام د یو عالم په قول نه ثابتیږي . صاحب د البریقه لیکلي دي چې په خبر واحد هم حرام نه ثابتیږي . وان الخبر لواحد لا یفید الحرام القطعي. (البریقه جلد ۱ ص ۱۳۴ ) او دویم حرام وائي دیته چې ما حرم الله في کتابه. (الحاوي جلد ۱ ص ۲۲) او دریم علامه شامي رحمه الله د تواجد او تمایل هم قائل دي چې کله پکښې ریا نه وي: وقد نقل فی البزازیه عن القرطبی اجماع الائمة علی حرمة هذا الغنا



وضرب القضیب والرقص۔ (شامی جلد ۶ ص ۳۹۶)۔ نو دلته چې ئې رد کړے دے نو هغه په رقص د ډمانو ځکه چې ډمان ګانو او شپیلي ته رقص کوي . سره د دې چې علامه شامي رحمه الله وروسته خپله وضاحت کړي دي چې: التحقیق القاطع للنزاع فی امر الرقص والسماع یستدعی تفصیلا ذکره فی عوارف المعارف واحیاء العلوم ۔ وخلاصته ما اجاب به العلامة التحریر ابن کمال باشا بقوله: ما فی التواجد ان حققت من حرج ولا التمایل ان اخلصت من بأس فقمتَ تسعی علی رِجل وحق لمن دعاه مولاه ان یسعی علی الراس ۔الرخصة فیما ذکر من الاوضاع عند الذکر والسماع للعارفین الخ۔ فتوی شامی جلد۶ ص ۳۹۶ ۔نو دا عبارت په غور سره اوګوري دویم علامه شامي رحمه الله په بل کتاب کښې هم دا مسئله ذکر کړې ده: بل المحققون من اهل التجرید قد یشاهدون فی انفسهم طربا قدسیا مزعِجا فیتحرکون بالرقص والتصفیق والدوران تنقیح الفتاوی الحامدیة جلد ۲ ص ۵۵۸ ۔

۲۹ :رحیم الله صاحب په خپل کتاب کښې دا هم لیکلي دي چې رقص د صوفیه وو حرام دي حواله ئې ورکړې ده په فتوی عالمګیري جلد ۵ ص ۳۵۲ .

**الجواب**: په فتوی عالمګیري کښې چې په رقص

باندې رد کړي نو هغه رقص د متصوفه وو باندې دي او رقص صوفيه وو ته ئې جائز ويلي. عبارت داسې دے چې:

قال رحمه الله السماع والقول والرقص الذی یفعله المتصوفة فی زماننا حرام لا یجوز القصد الیه والجلوس علیه وهو والغناء والمزامیر سواء وجوزه اهل التصوف واحتجوا بفعل المشائخ من قبلهم۔(فتوی عالمگیری جلد۵ ص ۳۵۲) نو دلته رد دي په رقص المتصوفه وو باندې .او دويم دا چې حرام د يو عالم په قول نه ثابتيږي بلکې دليل قطعي غواړي. مخکښې ذکر شو چې حرام په خبر واحد هم نه ثابتيږي پحواله د البريقه جلد ۱ ص ۱۳۴ .

۳۰:رحيم الله صاحب ليکلي دي چې امام طحطاوي رحمه الله ليکلي دي چې رقص الصوفيه حرام دي. طحطاوي علي المراقي .

**الجواب**:امام طحطاوي رحمه الله پوره عبارت زه رانقلوم چې رد دي په رقص اختياري باندې او د وجد ئې ثابت کړي دي :داسې دے عبارت: واما الرقص والتصفيق والصريخ وضرب الاوتاد . والصنج والبوق الذي يفعله بعض من يدّعی التصوف فانه حرام بالاجماع لانهازی الکفار کما فی سکب الانهر۔ وفی مجمع الانهر عن التسهیل الوجه مراتب



وبعضه يسلب الاختيار فلا وجه لمطلق الانکار وفی التتارخانية ما يدل علی جوازه للمغلوب الذی حرکاته کحرکات المرتعش ۔ طحطاوی علی المراقی ص ۳۱۹۔ چې رقص صوفيه حرام دي نو حرام خو ديته وائي چې ما حرم الله في کتابه . (الحاوي للفتوىٰ جلد ۱ ص ۲۲ ) نو حرام دليل قطعي غواړي دا د يو عالم په وينا نه ثابتيږي .

[**فائده**]:هر عالم چې کله رد کوي نو د خپلې زمانې په بعضې جاهلانو صوفيه وو باندې کوي چې کوم رقص کوي قوالي او ګانو او شپيلي وو ته لکه څرنګه چې د امام طحطاوي رحمه الله د عبارت نه ښکاري او باقي رقص الصوفيه چې کوم غير اختياري دي نو علماء د دې اثبات کوي.

۳۱:اوس به زه تاسو ته د رحيم الله صاحب عبارات ذکر کړم چې هغه عبارات ذکر کړي دي چې په هغه کښې رد وي په رقص د متصوفه وو او چې دوي رقص کوي غناء او قواليو ته. رحيم الله د خپل کتاب صفحه ۵۰ باندې عبارت ذکر کړي دي چې :قراء القرآن علیٰ ضرب الدف والقضيب يکفر لاستخفافه وادب القرآن ان لا يقرا فی مثل هذه المجالس والمجلس الذی احتجوا فيه للغناء والرقص کما يقرأ فی البيع والکنايس لانه مجمع الشياطين ۔اوس دلته چرته رد شوي

دي په رقص الصوفيه باندې بالکل دلته ذکر دي چې قرآن په شپيلي او په چمبه باندې قرآن لوستل کفر دي ځکه چې دا استخفاف بالقرآن دي او همدارنګه په هغو مجالسو کښې دي هم نه لوستل کيږي چې د غزلو او د رقص لپاره پکښې راجمعه شوي وي.

او رحيم الله په صفحه ۵۱ باندې بيا ټول هغه څه ذکر کړي دي چې رد دي په رقص په وخت د ګانو کښې يا رد دي په رقص د متصوفه وو باندې . او د خپل کتاب په صفحه ۵۲ باندې هم ټول هغه عبارات ذکر کوي چې د هغه د سيفيانو سره هيڅ تعلق نشته صرف خانه پوري ئې کړې ده ټول رد دي په رقص د هغه چا باندې چې په وخت د ګانو بجانو کښې شپيلي وهي چغي وهي او رقص کوي او د دې خو مونږ هم خلاف يو هر سيفي سيفي د دې خلاف دي. او دغه شان رحيم الله د کتاب صفحه ۵۳ هم اوګوري چې ټول پکښې هغه څه دي چې د سيفيانو او رقص الصوفيه وو سره ئې هيڅ تعلق نشته .

او د عقل نه خلاص رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۵۴ باندې بيا صرف خانه پوري کړي او ځاي ډك کړے دے هغه خبره چې وهم دې کوم ځاي او ډب دې خيږي د کوم ځاي نه .

رحيم الله د خپل کتاب صفحه ۵۲ باندې بيا هغه



عبارات نقل کړي کوم چې رد دي په متصوفه باندې. ليکلي دي چې : وفی جواهر الفتاوی: ان السماع والقول والرقص الذی يفعله المتصوف فی زماننا حرام۔ نو دلته تاسو خپله اوګورئ چې د چا په رقص باندې رد دي صوفيه او که متصوفه . او وروسته ئې بيا عبارت ذکر کړے دے چې : سماء الغناء وضرب القضيل والتصفيق والرقص وتمزيق الثياب الذی يفعله المتصوفة ۔ نودلته ئې بيا ردکړے دے په رقص متصوفه وو باندې.

او په صفحه ۵۸ باندې رحيم الله عبارت نقل کوي چې هغه بيا رد دے په رقص متصوفه وو باندې . دا عبارت نقل کوي چې : وفی جواهر الفقه السماع والرقص الذی يفعله المتصوفة فی زماننا حرام. نو اوګورئ چې دلته د چا په رقص باندې رد دے . او بيا ئې د يو کتاب په حواله د څلور مذاهبو فتوه ګانې ذکر کړي دي زه به تاسو ته سوال هم ذکر کړم او بيا به د څلورو مذاهبو جوابات هم ذکر کړم او وروسته د رحيم الله صاحب دجل او دوکه او خيانت به هم ذکر کړم . ما تقول السادات الفقهاء وائمة الدين وعلماء المسلمين وفقهم الله لطاعته واعانهم علیٰ مرضاته۔ فی جماعة المسلمين وردوا الی بلد فقصدوا الی المسجد وشرعوا

**يصفقون ويغنون ويرقصون تارة بالكف وتارة بالدف والشبابة فهل يجوز ذلك في المسجد شرعًا؟**

اوس دلته سوال د دې خبرې شوے دے چې يو جماعة د مسلمانانو مسجد کښې ګاني وائي چکچکې وهي او بيا رقص کوي نودا عمل شرعاً مسجد کښې څنګه دے.

نو بيا د هر مذهب خاوندان ورته جواب کړے دے نو شوافعو وفرمايل چې رقص مکروه دے د باطل سره مشابه دے او د دوي شاهدي نه قبليږي .(٢) مالکيه وو وفرمايل چې په حاکمانو واجبه ده چې ويې وهي او د مساجدو څخه ئې اوباسي تر دې چې توبه اوباسي (٣) حنابله وو وفرمايل چې د دوي پسې لمونځ نه کيږي شاهدي ئې نه قبليږي او نکاح ئې هم ماته شوه.(۴)او احنافو وفرمايل چې هغه فرش چې دوي ورباندې رقص کړے دے په هغوي لمونځ مکوئ تر څو مو چې وينځلي نه وي.

اوس راشئ د رحيم الله صاحب دوکې ته . سوال چې شوے دے د دې په باره کښې چې خلق مسجد کښې ګاني وائي او ورسره ګډيږ چکچکې وهي . نو د څلورو مذاهبو خاوندانو ورته جواب ورکړے دے او تا دا جوابات راواختسو په صوفيه وو باندې چې کله دوي ذکر کوي يا تلاوت کوي په يو سالك دوه باندې يو غير اختياري حالت راشي په دوي دې پيټ کړو. افسوس ستاسو پر حال الله ته



به کوم جواب ورکوې مخلوق خو به دوکه کړې .

**٣٢**:رحيم الله د خپل کتاب په صفحه **٢٠** باندې د بزازيه جلد **۴** ص **٣۴٩** عبارت ذکر کړے دے. سره د دې چې د بزازيه دغه عبارت رد دے په هغه رقص چې د ګانو بجانو سره وي په خپل اختيار لکه څرنګه رقص چې ډمې او هيجړاګان کوي. تاسو د بزازيه مکمل عبارت اوګورئ. او بيا رحيم الله همدې صفحه **٢٠** باندې د مرقات ملاعلي قاري رحمه الله په حواله يو عبارت ذکر کړے دے چې هغه کښې د رقص نوم لا هم نشته بلکې هلته رد دے په ذکر بالجهر باندې چې کله د آداب د ذکر بالجهر ونه ساتي .

**٣٣**:رحيم الله بيا په صفحه **٢٠** او ص **٢١** باندې چې کوم عبارات ذکر کړي دي نو هغه هم مکمل په رقص متصوفه وو باندې رد دے. ځکه چې سوال کښې داسې راځي. **سئل في متصوفة العصر الذين يرقصون حالة الذكر الخ.** او بل رحيم الله د خپل کتاب په صفحه **٢٢** صفحه **٢٣** باندې په فتوى عزيزي باندې حوالې ورکړي دي چې هلته ذکر دي چې رقص د صوفيه وو حرام دي فلان فلان. سره د دې چې فتوىٰ عزيزي کښې دا ټولې خبرې شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله په باب غناء کښې ذکر کړي دي چې ګاني اوربدل او د دې سره رقص کول حرام دي. اوګورئ

فتوىٰ عزيزي رساله غناء د رحيم الله ټولې خبرې دلته موجودي دي . رحيم الله د خپل كتاب صفحه ۲۴ او صفحه **۲۵** باندې د البريقه عبارات رانقل كړي دي. نو چونكې بريقه شرحه د طريقة محمديه ده. نو اصلاً په دې رقص باندې رد په طريقة المحمديه كښې هم موجود دي خو شيخ عبدالغني النابلسي رحمه الله هم د طريقه شرحه كړې ده په نامه د حديقة النديه. هلته چې كله صاحب د طريقه رد وكړي په رقص الصوفيه باندې نو بيا د دې په شرحه كښې علامه عبدالغني النابلسي رحمه الله ليكلي دي چې دا رد دے په رقص المتصوفه باندې نه په رقص الصوفيه باندې اوګوره حديقة الندية جلد ۵ ص ۱۲۲ ان شاء الله وروسته په رقص الصوفيه باندې حواله جات ذكر كوم .

**۳۴**:رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۲۸ باندې د امام قرطبي عبارت ذكر كړے دے چې د هغه جواب مخكښې ما په تفصيل سره ذكر كړو .او په صفحه ۲۹ باندې رحيم الله د حضرت اسماء بنت ابي بكر رضى الله عنها قول ذكر كړي دي. او په ص ۷۰ باندې ئې روايت د ابن سيرين رحمه الله ذكر كړي دي.

**الجواب**:د دې علماؤ جوابات كړي دي قاضي ثناء الله پاني پتي په تفسير مظهري كښې دغه دواړه قوله راخستي دي او بيا ئې جواب كړي د دوي قولونه محمول



دي په هغه چا چې تكلفًا ومكرًا دا كار كوي . داسې ليكي:

**وقول ابن عمر ان الشيطان يدخل في جوف احدهم وكذا استعاذة اسماء محمول على انهما زعما غشى ذلك الرجل تكلفا ومكرًا ولذا نسباه الى الشيطان**- او د ابن سيرين د قول ئې هم دغه جواب كړي دي. اوګوره تفسير مظهري جلد ۸ ص ۲۰۹ . او هم دغه جواب مفتي محمد فريد رحمه الله كړي دي اوګوره فتوىٰ فريديه جلد ۱ ص ۳۷۲ او روح المعاني دا جواب كوي چې دا رد دے په متصوفه وو باندې. روح المعاني جلد ۲۳ ص ۳۴۱ . روح البيان جلد ۸ ص ۱۳۲ هم اوګورئ.

**۳۵**:رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۲۹ باندې د تلبيس ابليس كتاب په حواله يو عبارت رانقل كړي دي چې امام غزالي رحمه الله ويلي دي چې رقص حماقة دے: **ولقد حدثني بعض المشائخ عن الغزالي انه قال الرقص حماقة بين الكتفين لا تزول الا بالتعب** حواله تلبيس ابليس ص۲۲۶-

**الجواب**:اول دا چې دا كوم عبارت چې نقل دے دا رد دے په رقص اختياري باندې ځكه چې د عبارت نه صفا پته لږيږي چې لا تزول الا بالتعب . دوئم دا كتاب د ابن الجوزي رحمه الله مقبول نه دي ځكه چې شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله ليكلي دي چې د ابن الجوزي رحمه

الله کتاب تلبیس ابلیس کښې صوفیه وو ته د جهل حماقت او د جنون نسبتونه کړي دي . این نیز از تلبیس ابلیس ست که بروی ازین راه در آمده . الخ اشعة اللمعات جلد ۱ ص۲۳ لهذا دغه کتاب د ابن الجوزي رحمه الله مقبول نه دي ځکه چې په فقهاؤ او محدثینو باندې هم پکښې ردونه موجود دي. دریم دا چې امام غزالي رحمه الله د وجد رقص الصوفية او سماع باندې مستقل کتاب لیکلي دي. چې الباب الثانی: فی آداب السماع وآثاره فی القلب بالوجد وفی الجوارح بالرقص والزعق وتمزیق الثیاب. اوګوره احیاء العلوم ص ۳۲۲ نه واخله تر صفحه ۳۲۲ پورې ټول همدغه بحث دے. او په صفحه ۳۵۴ باندې دا هم لیکلي دي چې تواجد چې ریا پکښې نه وي هم محمود دي. وهذا التواجد المتکلف فمنه مذموم وهو الذی یقصد به الریاء واظهار الاحوال الشریفة مع الافلاس منها۔ ومنه ما هو محمود وهو التوصل الی استدعاء الاحول الشریفة واکتسابها واجتلابها بالحلیة۔ (احیاء علوم جلد۲ ص ۳۵۴)

**۳۶**: رحیم د خپل کتاب په همدغه ص **۲۹** باندې لیکلي دي چې مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله عنوان لګولے دے په نوم د (مروجه سماع او رقص حرمت) حواله التکشف ص ۲۱۷ .



**الجواب**: دلته بیا رحیم الله دجل او دوکه کړې ده. ځکه چې د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د عبارت غلط مطلب ئې بیان کړے دے . مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله رد کړي دي په هغه جهلاء صوفیه وو باندې چې د ښځو او ګانو سره رقص کوي .داسې لیکلي دي چې:ف: *بعض جہلا صوفیاء نے سماع میں یہاںتک غلو کیا ہے کہ عورتوں کا آلات کے ساتھ گانا سنتے ہیں۔ حدیث سے دونوں طریق کی مذمت ظاہر ہے۔* او دوئم مخکښې ما درته دبوادر النوادر او د التشرف حوالې ذکر کړي چې مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د رقص او تواجد هم قائل وو.

**۳۷**: رحیم الله د خپل کتاب صفحه **۲۹** او صفحه **۷۰** باندې لیکلي دي چې حضرت داتا صاحب مبارك رحمه الله په رقص رد کړي او ورته ئې حرام ویلي دي .

**الجواب**: د حضرت داتا صاحب رحمه الله مکمل عبارت رحیم الله نه دے کتلے ځکه خو ئې داسې خبرې لیکلي دي . حضرت داتا صاحب رحمه الله لیکلي دي چې تواجد هم جائز دے چې کله پکښې ریاء نه وي او د یو حدیث نه ئې استدلال کړے دے چې : اذا قرأتم القرآن فابکو فان لم تبلوا افتباکوا۔ *یعنی جب تم قرآن پڑھو تو روؤ پھر اگر رونہ سکو تو رونے کی شکل بنالو یہ حدیث مبارک تواجد کی اباحت پر شاہد وناطق ہے۔*

وګوره کشف المحجوب ص ۳۹۰ .

**۳۸**:رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۷۳ باندې لیکلي دي چې بعضې وائي احیاء علوم کښې رقص ته روا ویلي دي. نو رحیم الله وائي چې احیاء علوم د موضوعاتو مجموعه ده او دوئم چې زمونږ د مذهب کتابونه شته نو د بل مذهب کتاب ته څه ضرورت دے؟

**الجواب**:اول دا چې تا اوویل د خپل مذهب کتابونه شته نو د بل مذهب کتابونو ته څه ضرورت دے نو جناب تا چې په تفسیر قرطبي حوالې ورکولې د رقص په باره کښې نو هغه خو هم زمونږ د مذهب نه دي او تلبیس ابلیس باندې دې حوالې ورکولې ایا دا زمونږ د مذهب کتاب وو. په الامر بالاتباع والنهی عن الابتداع باندې دې حوالې ورکولې آیا دا زمونږ د مذهب کتاب وو. په تفسیر کشاف دې حواله ورکوله آیا دا زمونږ د مذهب کتاب دے . افسوس . او دوئم تا اوویل چې احیاء علوم متعلق څه لیکلي دي . مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې :

فرمایا کہ حنبلی کے نزدیک جمعرات کے دن کتاب احیاء تبرکاً ہوتی تھی جب ختم ہوئی تبرکاً دودھ لایا گیا اور بعد دعا کے کچھ حالات مصنف کے بیان کئے گئے۔(امداد المشتاق ص۹۱)

(۲)او بیا مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي



دي چې : ایک بزرگ نے خواب میں دیکھا کہ آنحضرت ﷺ تشریف رکھتے ہیں اور ایک کتاب پڑھی جاتی ہے جس کو حضور کمال توجہ سے سن رہے ہیں دریافت فرمایا کہ یہ کون سی کتاب ہے کہا گیا۔ احیاء العلوم حجۃ الاسلام امام غزالیؒ کی ہے فرمایا یہ لقب عطیہ حضرت ﷺ ہے۔(امداد المشتاق ص۹۱)

## (رقص الصوفية ثبوت)

اوس چند مختصر عبارات ذکر کوم د رقص الصوفية متعلق چې دوي ټولو د رقص صوفیه قائل دي او اثبات ئې کړي :

(۱)قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله لیکلي دي: وفی شرح الکافی واعلم ان المکروه من السماع عند علمائنا ما یکون علیٰ سبیل اللهو وارادة العصیان بان یجتمع الفساق علیٰ ذلك ویترکون الصلوٰة وقراءة القرآن واما ما کان من اهل الصلوٰة واهل القرآن من جملة الصالحین فسماع هؤلاء حلال بلا خلاف بین علمائنا اذ لا یریدون بذلك الا وجه الله وحضوره ویذکرون الله فی خوف الأخرة وکل ذلك محمود غیر مذموم والتواجد والرقص ایضاً غیر مذموم لهذا المعنیٰ۔

(تفسیر مظهری جلد ۷ ص۲۴۹)

(۲)او بیا قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله لیکلي دي چې : وفی شرح البزدوی المسمی بالنوری صنفه

ابو القاسم بن محمد بن عبدالله الدمشقی۔ اعلم ان السماع انما یختلف علماءنا فی حقه فهو ماکان علٰی سبیل اللهو واللعب یجتمع الفساق وشاربوا الخمر وترکوا الصلوٰة۔ فاما من من سمع السماع وهو صالح دائم الصلوٰة لا تارك الورد وقراءة القرآن فهو حلال بلا خلاف بین علمائنا وکذلك الرقص والتواجد۔ (تفسیر مظهری جلد۷ ص ۲۴۹)

(۳) شیخ عبد الغني النابلسي رحمه الله لیکلي دي چې: ذکر الیافعی عن بعضهم قال: رأیت الشبلی قائما یتواجد وقد خرق ثوبه وهو یقول شققت ثوبی علیك حقا۔ ما لثوبی اردت خرقا۔ اردت قلبی فصادفته یدای بالجیب اذ یرقا۔ لو کان قلبی مکان جیبی۔ کان للشق مستحقا۔

(حدیقة الندیة جلد ۵ ص ۱۳۳)

(۴) شیخ عبد الغني النابلسي رحمه الله لیکلي دي چې: والحقوا تلك الافعال باحوال المجانین کالرقص والدوران وتخریق الاثواب وهی حالة شریفة۔ علامه صحتها ان تحفظ علٰی صاحبها اوقات الصلوات وسائر الفرائض فیر علیهم فیها عقولهم۔ (الحدیقة الندیة جلد۵ ص ۱۳۲)

(۵) او بیا ئې لیکلي دي بل ځاي چې: ولا شك ان



التواجد وهو تکلف الوجد واظهاره من غیر ان یکون له وجد حقیقة فیه تشبه باهل الوجد الحقیقی۔ وهو جائز بل مطلوب شرعا۔ قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم۔

(الحدیقة الندیة جلد۵ صفحه ۱۳۵)

(٦) علامه محمد عبد العزیز پرهاروي رحمه الله لیکلي دي چې په حضرت خضر علیه السلام باندې به وجد او رقص راتلو. ویحب الصوت الحسن ویلحقه فی السماع رقص ووجد وربما مغلوبا یوما ولیلة۔ (النبراس ص ۵۲۳)

(۷) په فتوی التاتارخانیه کښې ذکر دي چې: ان کان السماع۔ سماع القرآن اوالموعظة فیجوز ویستحب وان کان سماع غناء فهو حرام۔ (فتوی التاتارخانیة جلد۱۸ ص ۱۸۸)

(۸) علامه الصفوري رحمه الله لیکلي دي چې: واما سماع الصوفیة فلا انکار فیه اذا صحت النیة وسلمت العین من الخیانة۔ (نزهة المجالس جلد۱ ص ۸٦)

(۹) علامه ابن حجر الهیثمي رحمه الله لیکلي دي چې سوال: عن رقص الصوفیة عند تواجد هل له اصل؟ یعني د صوفیه وو د رقص څه اصل شته؟ الجواب: نعم له اصل فقد روی الحدیث ان جعفر بن ابی طالب رقص بین النبی لما

قال له: اشبهت خلقی وخلقی وذلك من لذة هذا الخطاب ولم ينكر عليه صلی الله عليه وسلم .(فتوی حديثية ص ۳۹۱)

(۱۰)شيخ عبد القادر الجيلاني رحمه الله ليکلي دي چې: ويكره تخريق الثياب فی حق المتواجد عند السماع ولا يعارض فی ذلك الواجد ـ (غنية الطالبين جلد۱ ص ۵۰)

(۱۱)امام بيهقي رحمة الله عليه باب لګولے : باب من رخص فی الرقص اذا لم يكن فيه تكسر وتخنث. (سنن الكبرٰی جلد۱۲ ص ۵۳۷)

(۱۲)مولانا فقير الله صاحب رحمه الله ليکلي دي: فلم تزل عنه الشوق او الطلب لم يفارق الوجد والتواجد فاصحاب الوجد والتواجد ليسوا الا اصحاب التجليات الصفاتية وليس من التجليات الذاتية لهم نصيب ما داموا فی الشوق والوجد والتواجد ـ(قطب الارشاد ص ۵۸۲)

(۱۳)يو روايت کښې راځي چې په حضرت داؤد عليه السلام باندې يو حالت راغلو نو بي بي ورته وائي چې: اترقص وانت نبی فقال اذهب انت طالق.(التفسيرات احمديه ص۶۰۳)حاشيه اوګورئ .

(۱۴) امام الحافظ جلال الدين السيوطي رحمه الله او علامه ابن حجر الهيثمي رحمه الله دواړو ليکلي دي چې:



وقد صح القيام والرقص فی مجالس الذكر والسماع عن جماعة من كبار الأئمة الاسلام ـ (الحاوی للفتاوٰی جلد۲ ص ۲۲۳ ، فتوی الحديثية ص ۳۹۱)

(۱۵)فقد روی ان رسول الله عليه السلام قال لعلی انت منی وانا منك فجحل وقال لجعفر اشبهت خلقی وخلقی فنحجل وقال لزيد انت اخونا ومولانا فحنجل ـ(سنن الكبریٰ للبيهقی جلد۱۲ ص ۵۳۷ ، كنز العمال جلد۱۳ ص ۱۱۲ ، احياء علوم الدين جلد۵ ص ۱۱۰ ، التفسيرات احمديه ص ۶۰۲ ، الحاوی جلد۲ ص ۲۲۲ ، فتوی الحديثية ص ۳۹۱ ، بوادر النبوادر ص ۳۵۹ التشرف ص ۶۸ )

[**فائده**]:د دې روايت نه د رقص صوفيه په باره کښې جلال الدين السيوطي رحمه الله استدلال کړے دے اوګوره الحاوي للفتاوی جلد ۲ ص ۲۲۲ . همدغه شان ابن حجر الهيثمي رحمه الله کړي دي اوګوره فتوی الحديثيه ص ۳۹۱ . امام بيهقي رحمه الله کړي دي اوګوره سنن الكبریٰ جلد ۱۲ ص ۱۱۲ . مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کړي دي اوګوره بوادر النوادر ص ۳۶۰ . امام غزالي رحمه الله کړي دي اوګوره احياء علوم جلد **۵** ص ۱۱۰ . التشرف ص ۶۸ .

(۱۲)علامه شاه اسماعيل حقي رحمه الله ذکر کړي دي چې علامه علاء الدين الخلوتي رحمه الله په مسجد

کښې په ممبر کښېناستو يو ځل ئې الله يا الله اوويل نو ټول
دمسجد خلقو رقص وکړو. فقال مرة واحدة يا الله . فحصل
للجماعة حالة رقصوا وكادوا لا يرجعون عن البكاء والفزع.
(تفسیر روح البیان جلد ۱ ص ۴۸۹)

(۱۷)علامه الحافظ جلال الدين السيوطي رحمه
الله ليکلي دي چې : وان انضم الى هذا القيام رقص او نحوه
فلا انكار عليهم فلذلك من لذات الشهود او المواجيد۔
(الحاوی للفتاوی جلد ۲ ص ۲۲۲)

(۱۸)امام احمد بن حنبل قال عن الصوفية: لا اعلم
اقواما افضل منهم قيل: انهم يستمعون ويتواجدون۔ قال:
دعوهم يفرحوا مع الله ساعة۔ تنوير القلوب ۔للعلامة الشيخ
أمين الكردى رحمه الله ص ۴۰۵ تصحيح الافكار عن التصوف
ص ۴۵۷ الرسالة الحقانية ص ۵۹ ۔

(۱۹)امام غزالی رحمه الله ذکر کړي دي : وحكى عن
ابى القاسم بن مروان وكان قد صحب ابا سعيد الخراز رحمه
الله وترك حضور السماع سنين كثيرة ۔ فحضر دعوة وفيها
انسان يقول: واقف فى الماء عطشان ولكن ليس يسقى ۔ فقام
القوم وتواجدوا ۔ (احیاء علوم جلد ۲ ص ۳۴۷)۔



(۲۰)مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د رقص او
تواجد قائل دے يو ځائې کښې ليکي: اس حدیث میں اصل ہے
اہل وجد کے رقص کی جو فرح یا شوق کے غلبہ سے ہوتا ہے اگرچہ وہ غلبہ بے
اختیاری سے نہ ہو اسکو تواجد کہتے ہیں۔(التشرف ص۶۸) او بل ځاي کښې
ليکي چې: یہ اصل ہے تواجد کی کیونکہ رونا وجد ہے اور رونے کی صورت بنانا
تواجد ہے۔(التشرف ص۱۹۷)او بل ځاي کښې ليکي چې : اس میں اصل
ہے تواجد کی جب ریا سے نہ ہو۔(التشرف ص۲۴۱)او بل ځاي کښې ليکي
چې: اثبات ہے تواجد یعنی اہل وجد کے ساتھ تشبہ کا۔(التشرف ص۵۱) او بل
کتاب کښې ئې ليکلي دي چې : فيه اصل رقص اهل الوجد
لفرح او شوق. (بوادر النوادر ص۰)

(۲۱)د رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله مريدان به د
مسجد په فرش باندې راغورزېدو او دمستئ چغې به ئې
وهلې . آپ کے بعض متوسلین ایسے بھی تھے جن پر وجد اور حال کی کیفیت
طاری ہوتی اور مسجد کے فرش پر گھٹنوں لوٹا کرتے اور مستانہ وار چیخیں مارا کرتے
تھے۔(تذکرۃ الرشید حصہ دوم ص۱۶۰)او په صفحه ۱۲۱ باندې بيا ليکلي
دي چې : بعد مغرب صلوٰۃ الاوابین میں جس وقت آپ مشغول ہوتے تو بعض
متوسلین پر اکثر کیف غالب ہوتا اور وجد میں آکر بیتابانہ چیختے ہوئے فرش پر لوٹا
کرتے۔(تذکرۃ الرشید حصہ دوم ص۱۶۱)

(۲۲)شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله ذکر کړي دي چې د پیران پیر صاحب رحمه الله د مجلس وجد او حال کیفیت به څنګه وو . وائي چې کله به پیران پیر صاحب رحمه الله بیان شروع کړو نو په خلقو به وجد طاري شو . کوئی گریہ کرتا کوئی کپڑے پھاڑتا ہوا جنگل کی طرف نکل جاتا کوئی بے ہوش کر اپنی جان دے دیتا۔(اخبار الاخیار ص۳۷) **فائده**: اوس دا ټول علماء د دې نام نهاد ملا د فتوی موافق مردود الشهادة وو (معاذالله) بدعتیان وو. لمونځ پسې مکروه وو. افسوس.

(۲۳)[**فائده**]: په حضرت ابوهیرة رضی الله عنه باندې غشي راغلي دي اوګوره ترمذي جلد ۲ ص ۲۳ امام شافعي رحمه الله باندې د وجد په حالت کښې بې هوشي راغلې ده اوګوره مرقاة جلد ۱ ص ۲۹ مناقب امام شافعي رحمه الله . په امام احمد بن حنبل رحمه الله باندې غشي راغلې ده اوګوره . نزهة الناظرین ص ۴۴ په حضرت عکرمه بن ابي جهل باندې بې هوشي راغلې ده . اوګوره المستطرف في کل فن مستظرف ص ۲۴ . په هارون رشید رحمه الله باندې غشي راغلې ده اوګوره المستطرف ص ۹۱ وجد او جذب او رقص الصوفیه غیر اختیاري باندې ما په مجموعه رسائل جلد اول کښې پوره تفصیل کړي دي هغه هم درسره اوګورې.



(۲۴)قال المناوی رحمه الله فی طبقات الاولیاء فی ترجمة الشیخ ابراهیم الدسوقی انه قیل للجنید قدس سره۔ ان قوما یتواجدون ویتمایلون فقال دعوهم مع الله یفرحون فانهم قوم قطعت الطریق اکبادهم ومزق النصب فؤادهم وضاقوا ذرعا فلا حرج علیهم اذا تنفسوا مداواة لحالهم ولوذقت مذاقهم عذرتهم فی صیاحهم وسق ثیابهم۔
(الحدیقة الندیة جلد ۵ ص ۱۳۱)

(۲۵)علامه شامي رحمه الله لیکلي دي چې: **فمنهم** من طرقته طوارق الهیبة فخر وذاب ومنهم من برقت له بوارق اللطف فتحرك وطاب ومنهم من طلع علیه الحب من مطلع القرب فسکر وغاب۔ (فتوی شامی جلد۶ ص ۳۹۶)

(۲۶)په رسالة القشیریة کښې لیکلي دي چې: فمنهم من یخرق ثیابه ومنهم من یصیح ومنهم یبکی وکل انسان علیٰ قدره ۔(رسالة القشیریة)

## (مسئله ذکر بالجهر)

## (اعتراض ذکر بالجهر تعبدًا بدعة دی. جواب)

رحیم الله لیکلي دي چې ذکر بالجهر تعبداً بدعت دے د خپل کتاب ص ۷۳ او په ص ۷۴ باندې لیکلي دي چې ذکر بالجهر عبادت او ثواب وګڼي نو بدعة دے.

**الجواب**: قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله لیکلي دي چې : اعلم ان الذکر مطلقاً عبادة سواء کان بالجهر اذا لم یخالطه الریاء او سرًا ـ یعني بیشکه مطلق ذکر عبادة دے برابره خبره ده که بالجهر وي چې کله پکښې ریا نه وي او که بالسر یعني په پټه وي . اوګوره تفسیر مظهري جلد ۳ ص ۳۲۱ . د عقل نه خلاص رحیم الله لیکلي دي چې ذکر بالجهر د عبادت په نیت سره بدعت دے. نو عجیبه ده ذکر خپله یو عظیم عبادت دے که په پټه سره وي او که په زوره سره وي دواړو متعلق روایات منقول دي او تطبیق د دواړو په مینځ کښې علماء داسې کوي چې دا معتبر دے د احوالو او اشخاصو پورې په بعضې حالاتو کښې ذکر سري افضله دي او په بعضې احوالو کښې ذکر جهري افضله دي د چا نه چې د ریاء ویره وي د هغه په حق کښې ذکر خفي افضله دے او د چا نه چې د ریاء ویره نه وي نو دهغه په حق کښې ذکر جهري غوره دے. نو دا خبره چې ذکر بالجهر تعبداً بدعة دے دا هسې بې بنیاده خبره ده هر انسان چې ذکر کوي نو



په دې نیت سره ئې کوي چې دا عبادت دی عامه ده که جهري ذکر وي او که خفي ذکر وي او په هر عبادت باندې ثواب مرتب دي عند الله چې مقبول وي .

## (ذکر بالجهر ثبوت د احادیثو نه)

(۱)عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال اذکروا الله ذکرا یقولوا مجنون ـ تاسو د الله جل جلاله دومره زیات ذکر وکړئ چې خلك درته لیونے اووائي .مستدرك حاکم جلد ۲ ص ۵۹ لیکي چې اسناده صحیح ، الحاوي للفتاویٰ جلد ۱ ص ۳۷۲ . الترغیب والترهیب جلد ۲ ص ۲۵۲ . الجامع الصغیر ص ۸۲ عمل الیوم واللیلة ص ۱۰ فضائل اعمال ص ۵۵ فضایل ذکر .

[**فائده**]:د دې حدیث څخه جلال الدین السیوطي رحمه الله د ذکر بالجهر په باره کښې استدلال کړي اوګوره الحاوي جلد ۱ ص ۳۷۲ . علامه عبد الحئ لکهنوي رحمه الله کړي ، وګوره سباحة الفکر ص ۱۲ زکریا رحمه الله کړي اوګوره فضائل اعمال ص ۵۵ فضائل ذکر .

(۲)عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ اذکروا الله ذکرا یقول المنافقون انکم مراؤون ـ الترغیب جلد۲ ص۲۵۶ ـ الحاوی جلد۱ ص۳۷۶ ـ سباحة الفکر ص۱۶ الجامع الصغیر ص۸۶ ـ

[**فائده**]:د دې حدیث نه بیا جلال الدین السیوطي

رحمه الله او علامه عبد الحئ لکهنوي رحمه الله او داسې نورو علماؤ د ذکر بالجهر په باره کښې استدلال کړی وګوره الحاوي جلد ۱ ص ۳۷۲ . سباحة الفکر ص ۱۲. التکشف ص ۷۰۷ . فضائل اعمال ص **۵۵** .

(**۳**)عن ابی هریرة: قال قال النبی ﷺ یقول الله انا عند ظن عبدی بی وانا معه اذکرنی فان ذکرنی فی نفسه ذکرته فی نفسی وان ذکرنی فی ملأ ذکرته فی ملأ خیر منهم۔

(بخاری جلد۲ ص ۱۱۰۱)

[**فائده**]: جلال الدین السیوطي رحمه الله او علامه عبدالحئ لکهنوي رحمه الله او داسې نور علماؤ لیکلي دي چې : والذکر فی الملأ لا یکون الا عن الجهر ۔ الحاوی للفتاوی جلد۱ ص ۳۷۸ ۔ سباحة الفکر ص ۱۳۔ تفسیر مظهری جلد ۳ ص ۳۶۱ ۔

(**۴**)عن ابن عباس رضی الله عنهما قال ان رفع الصوت بالذکر حین ینصرف الناس من المکتوبة کان علی عهد النبی ﷺ قال ابن عباس کنت اعلم اذا انصرفوا بذلك اذا سمعته

(بخاری جلد۱ ص ۱۱۶ مسلم جلد ۱ ص ۲۱۷)

(**۵**)عن عبدالله بن الزبیر قال کان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلوٰته یقول بصوته الاعلیٰ لا اله الا الله وحده لا شریك له له الملك وله الحمد وهو علیٰ کل شیئ قدیر۔



(مشکاة جلد۱ ص ۸۸ روح البیان جلد۳ ص ۳۴۷ طحطاوی علی المراقیص۳۱۲ روح المعانی جلد ۱۶ ص ۶۳۶ حجة الله البالغة جلد۲ ص ۶۱)

(**۶**)عن عبدالرحمٰن بن ابزی عن ابیه قال کان یقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلاثا ویرفع صوته بالثالثة۔

(مشکاة جلد۱ ص ۱۱۲)

محاشي د مشکاة دلته لیکلي دي چې: هذا یدل علیٰ جواز الذکر برفع الصوت بل علی الاستحباب۔

(مشکاة حاشیه جلد۱ ص ۱۱۲)

(**۷**)عن ابی ذر قال کان رجل یطوف بالبیت وهو یقول فی دعائه اوه اوه فقال رسول الله ﷺ انه اواه۔ (حاکم فی المستدرك جلد۱ ص ۴۷۸)۔

[**فائده**]: علامه عبدالحي لکهنوي رحمه الله ۲۸ احادیث په ذکر بالجهر رساله لیکلې ده په نامه نتیجة الفکر في الجهر في الذکر . الحاوي للفتویٰ جلد ۱ ص **۳۷۵** کښې وګورئ دا رساله .

(**۸**)ذکر بالجهر بقول ابن عباس رضی الله عنهما فی قوله تعالیٰ: فاذکروا الله قیاما وقعودًا وعلیٰ جنوبکم۔ (الآیة) قال : باللیل والنهار وفی البر والبحر وفی السفر والحضر والغناء والفقر والسقم والصحة والسر والعلانیة ۔(تفسیر در المنثور جلد۲ ص ۶۲۰ التفسیرات احمدیه ص ۳۱۳ ، تفسیر مظهری جلد ۷ ص ۳۵۱

الموسوعة الفقهية جل۴۳ ص ۹۴ ـ نزهة الناظرين ص ۱۱ ـ فضائل اعمال ص ۵۵ فضائل ذکر ـ احیاء علوم الدین جلد۱ ص ۲۷۸)ـ

**[فائده]**: دلته په قول د حضرت ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنهمادا ثابت شو چې په هر حالت کښې د الله ذکر کوه او دا هم پکښې ثابت شو که په پټه وي او که په جهر وي . ټول سره برابر دي نو چې په پټه ذکر عبادت دے او ثواب پکښې دے نو جهري ذکر هم عبادت دے او ثواب پکښې دے .

## [په وجد د رحیم الله اعتراضاتو ته جواب]

**[فائده]**: دوکه او دجل د رحیم الله اول د کتاب کښې وائي چ ذکر بالجهر منم چې اعلانًا او تعليمًا او علاجًا او دفعًا للوسواس وي په ص ۴۷ او ذکر بالجهر تعبداً بدعة دے. او بیا چې کله دلایل ذکر کوي نو ټول هغه ذکر کوي چې په مطلق ذکر بالجهر باندې رد وي نو د دې نه تاسو ته دا خبره صفا واضحه شوه چې رحیم الله د مطلق ذکر بالجهر څخه منکر دي .

(۱)اعتراض اول: رحیم الله وائي چې قرآن کریم کښې راغلي دي الله فرمائي: ادعوا ربکم تضرعا وخفية .خپل رب په پټه او عاجزي سره رابلئ .

**الجواب**: اول دا چې دلته کښې حکم په دعا شوی دي او دعا ځکه مراد ده چې ادعوا دا صیغه د امر ده او هر



امر مشتقي وي او صدق د مشتقي تقاضا د قیام د مبدأ کوي . او مبدأ ده ادعوا . دعاء ده ځکه همدې ایت څخه لاندې اوګوره در المنثور . عن ابن جريج فی الاية قال: ان من الدعاء اعتداء يكره رفع الصوت والنداء والصياح بالدعاء ويؤمر بالتضرع والاستكانة .(درالمنثور جلد۳ ص ۴۳۲)نو دلته رد دے په جهر بالدعاء لا بالجهر الذکر . عن زيد بن اسلم : کان يرى ان الجهر بالدعاء الاعتداء . (درالمنثور جلد۳ ص ۴۳۵ ) همدې ایت لاندې ابن کثیر وګوره لیکلي دي چې: عن ابن عباس فی قوله : انه لا يحب المعتدين فی الدعاء ولا فی غيره۔ (تفسير ابن كثير جلد۳ ص ۱۶۷وګوره روح البیان جلد ۳ ص ۲۲۹ ، مظهري جلد ۳ ص ۳۲۳ . تفسیر کشاف جلد ۲ ص ۸۵ . تفسير سراج المنير جلد ۱ ص ۵۵۵ .

او دوئم جواب که اومنم چې دا مذکور آیت مبارك د ذکر متعلق دي نو بیا هم د ایت مبارك د ذکر جهري او سري دواړو لپاره دلیل دي . هغه په دې طریقه چې ایت کښې راځي تضرعا وخفية: د دې معنىٰ ډیرو مفسرینو په جهراً او سراً باندې کړې ده . اوګوره روح المعاني ای واختاره ابو مسلم ای ادعوه علانية . وخفية ای سرًا .نود تضرعا معنىٰ ئې وکړه په علانية سره او د خفية معنىٰ ئې وکړه په سراً سره

روح المعاني جلد ۸ ص **۵۲۲** تفسير ابن عباس كښې هم ليكلي دي چې : تضرعا اي علانية وخفية اى سرا . تفسير ابن عباس ص ۱۲۹ اوګورئ درالمنثور . عن قتادة: التضرع : علانية. والخفية: سر . درالمنثورجلد۳ ص **۴۳۵** . روح البيان جلد۳ ص ۲۲ د سورة انعام ايت **۲۳** . جلالين جلد ۱ ص ۱۴۴ . نسفي جلد ۱ ص **۵۱۱** . روح المعاني جلد ۷ ص ۲۳۳ . د سورة انعام ايت **۲۳** په تفسير كښې دې ټولو د تضرعا معنٰى په علانيةً سره كړې ده.

## [اعتراض امام صاحب رحمه الله ويلي دي چې ذكر بالجهر بدعة دی . جواب]

(۲)رحيم د شيخ ابراهيم الحلبي الحنفي په حواله ليكلي دي چې امام ابوحنيفة رحمه الله فرمايلي دي چې ذكر بالجهر بدعة دے . (حواله غنية المستملي ص **۵۳۱** )

**الجواب**:ستا مشر رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله ويلي دي چې امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ذكر بالجهر بدعة دے او د صاحبينو په نزد جائز دے او زمونږ د مشائخو د صاحبينو مذهب اختيار كړی او خوش كړی دي. داسې ليكلي دي چې : جواب: ذکر خواه کوئی ذکر ہووے امام ابوحنیفہؒ کے نزدیک سوائے ان مواقع کے کہ ثبوت جہر نص سے ہے وہاں مکروہ ہے اور صاحبین اور دیگر فقہاء و محدثین جائز کہتے ہیں اور مشرب ہمارے مشائخ کا اختیار



مذہب صاحبین سے ہے۔(فتویٰ رشیدیہ ص۵۹۹)نو رحيم الله وائي چې زه ديوبندي يم او مشران ئې وائي چې مونږ د صاحبينو مذهب په دې مسئله كښې اختيار كړے دے . او دويم رحيم الله دا عبارت خو په تا هم رد دے ځكه چې تا د خپلې همدې رسالې په صفحه **۷۴** باندې ذكر بالجهر تعليما علاجا اعلانا ته جائز ويلي دي او دلته عبارت كښې خو مطلق ذكر بالجهر ته ئې بدعة ويلي دي .

## (اعتراض چې قاضي ثناء الله رحمه الله ويلي دي ذكر بالجهر بدعة دی . جواب )

(۳)رحيم الله د خپل كتاب ص **۷۵** باندې ليكلي دي چې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليكلي دي چې: ثم اجمع العلماء على ان الذكر سرا هو الافضل والجهر باالذكر بدعة الخ ـ ـ ـ

**الجواب**:رحيم الله دلته بيا خپل زوړ عادت كړے مخكښې عبارت ئې نه دے ذكر كړے .بلكې د دې عبارت د پاسه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليكلي دي چې اعلم ان الذكر مطلقا عبادة سواء كان جهرا اذا لم يخالطه الرياء او سرا . يعني مطلق ذكر عبادة دے كه په زوره سره وي چې خالي وي د رياء نه يا په پټه سره وي . تفسير مظهري جلد۳ ص ۳۲۱ .

دوئم دا چې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله خو ستاسو په نزد کافر دے . معاذالله. ځکه چې تا احقاق الحق جلد ۴ ص ۲۱۷ د بریلویت فتنه دلته ذکر کړي دي چې څوك د حضور صلی الله علیه وسلم په اړه دا عقیده لري چې هغه د جمیع ما کان وما یکون علم لري هغه قطعي نص څخه مخالف دي نو د داسې عقیدې لرونکے سړے کافر دے او باید چې خپل ایمان نوے کړي او که واده ئې وي نو د نکاح تجدید هم پرې ضروري دے .سره د دې چې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د ما کان وما یکون علم قائل دے . په تفسیر مظهري کښې د سورة الکهف ایت نمبر ۲۴ په تفسیر کښې لیکلي دي چې وقد فعل حیث اتاه علم غیب المرسلین وعلم ما کان وما یکون . تفسیر مظهري جلد ۶ ص ۲۷ . نو ستا د دعوې موافق (معاذالله) قاضی ثناء الله پاني پتي رحمه الله کافر دے نو بیا ئې څنګه په دلیل کښې پېش کوې . او دریم دا چې دا عبارت خو په تا هم رد دے ځکه دلته خو ئي لیکلي دي چې ذکر بالجهر بدعت دے او سره د دې چې تا هم مخکښې دا لیکلي وو چې ذکر بالجهر ثابت دے چې تعلیما او اعلانا او دفع الوسواس وي.



## (دواذکر ربک فی نفسک اعتراض ته جواب)

(۴)رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۷۲ باندې د یو بل ایت څخه استدلال کړے دے په نفي د ذکر بالجهر باندې. الله جل جلاله فرمایلي دي : واذکر ربك فی نفسك تضرعاً وخفیة ودون الجهر من القول .(الایة)

**الجواب**: ۱ .حضرت ابن عباس رض مبارك فرمائي چې دا مذکور ایت د لمانځه په حقله نازل شوے دے: قال ابن عباس: یعنی بالذکر القرآن فی الصلوٰة ـ یرید یقرأ سرا فی نفسه تضرعاً وخیفة ـ خوفاً ای تتضرع وتخاف منی هذا فی الصلوٰة ـ وقوله: دون الجهر من القول اراد فی الصلوٰة الجهر ـ (تفسیر بغوی جلد۲ ص ۲۳۴ ، تفسیر سمرقندی جلد۱ ص ۵۹۲ ـ زاد المسیر جلد۲ ص ۱۸۴ ، تفسیر نسفی جلد۲ ص ۸۳ )نو دلته د ابن عباس رضی الله عنهما د تفسیر مطابق مطلب دا شو چې یا رسول الله تاسې په سري لمانځونو کښې قرأت په پټه باندې کوئ او په جهري لمانځونو کښې قرأت دومره په جهر کوئ چې تاسو شاته مقتدیان ئې واوري له دینه له جهر بلیغ څخه ځان ساتي .

او دوئم: تفسیر البحر المدید کښې همدې آیت په تفسیر کښې ذکر دي چې : ولا حجة فیه لمن منع الذکر جهر

ـ لان الاية مكية حين كان الكفر غالبا فكانوا يسبون الذكر ولما هاجر المصطفىٰ الى المدينة جهر الصحابة بالتكبير والذكر ـ (البحر المديد جلد۲ ص ۳۳۹) يعني په دې آيت كښې د هغو خلقو لپاره دليل نشته كوم خلق چې ذكر بالجهر څخه منكر دي ځكه چې دا آيت مكي دے او په مكه كښې كفار غالب وو هغوي به ذكر ته كنځلې كولې او كله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينه منوره ته هجرت وكړو نو صحابه وو به په جهر باندې تكبير او ذكر كولو .

او دريم دا چې په دې ايت كښې دعا مراد ده. چې دا قول د امام مجاهد رحمه الله وغيره دے . وګوره تفسير للبغوي جلد ۲ ص ۲۳۴ . تفسير طبري جلد ۱۳ ص ۳۵۰ .

او څلورم جواب دا دے چې دې طرف ته الحافظ جلال الدين السيوطي رحمه الله اشاره كړې ده چې يو جماعت د مفسرينو چې هغوي كښې عبد الرحمٰن بن زيد اسلم . شيخ مالك او بل ابن جرير دے. دوي دې طرف ته ذهاب كړے دے او دا ايت ئې حمل كړے دے په هغه حالت د ذاكر باندې چې دې د قرآن كريم تلاوت كوي او څه خلق د ذاكر نزدې په زوره زوره خبرې كوي نو دا ذاكر دې تلاوت په پته كوي . وګوره الحاوي للفتاویٰ جلد ۱ ص ۳۷۹ .

او پنځم جواب دا دے چې دا ايت په مطلق ذكر



جهري كښې پيش كول د امت لوئ لوئ علماؤ سره ظلم دے هغه په دې طريقه چې دې آيت كښې دا هم راغلي دي چې ودون الجهر من القول . د اية له دې حصې څخه ذكر جهري ثابتيږي . مثلاً لكه چې دا قول ډيرو علماؤ كړے دے . علامه حنفي رحمه الله ليكلي دي چې : په دې آيت كښې په جهر بليغ باندې رد دے نه په جهر متوسط باندې . الجهر المفرط . والحالة الوسطىٰ بين الجهر والاخفاء مع التضرع والتذلل والاستكانة الخالية عن الرياء جائز غير مكروه باتفاق العلماء . (روح البيان جلد۳ ص ۳۹۱)

او علامه ابن كثير رحمه الله هم ليكلي دي چې : ودون الجهر من القول هذا يستحب ان يكون الذكر لايكون الذكر لا يكون نداء وجهر بليغاً ـ (ابن كثير جلد۳ ص ۲۶۲)

نولهذا په ايت كريمه كښې په ذكر بالجهر چې مفرط وي نو پې رد دي . همدغه شان روح المعاني جلد ۹ ص ۲۰۵
علامه عبد الحئ لكهنوي رحمه الله په سباحة الفكر ص ۱۱
رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فتوی رشيديه ص ۵۹۹.

## (اعتراض اربعوا على انفسكم الحديث جواب)

(۵)رحيم الله د خپل كتاب په صفحه ۷۷ باندې په نفي د ذكر بالجهر باندې د بخاري شريف حديث پيش كړے چې صحابه غزاء ته وتلي وو نو په زوره سره ئې د الله اكبر اوازونه شروع كړل نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل چې په ځانونو نرمي وكړه الخ .

**الجواب**: ۱: اول جواب دا دے چې دلته منع د ذكر جهري مفرط څخه راغلې ده نه د مطلق د ذكر بالجهر څخه لكه څرنګه چې شاه صاحب رحمه الله ليكلي دي چې : فيه بيان لكون الجهر المفرط لغوًا لان الله تعالىٰ ليس بغائب ولا اصم ليحتاج الىٰ هذا الاتعاف وليس فيه نهى عن الجهر ولا ذمّ عليه۔ وګوره فيض الباري جلد ۴ ص ۲۱۷ . رقم الحديث ۲۹۹۲ . ۲:همدغه شان جواب علامه عبدالحئ لكهنوي الديوبندي رحمه الله كړے دے چې دلته د مطلق ذكر بالجهر څخه منع نه ده راغلې بلكې د ذكر بالجهر مفرط څخه منع راغلې ده . وثانيهما بان جهرهم كان مفرطا كما يدل عليه سياق بعض الروايات قال فى فتح الودود شرح سنن ابى داؤد فى قوله رفعوا اصواتهم دلالة علىٰ انهم بالغوا فى الجهر فلا يلزم منه المنع من الجهر مطلقاً۔(سباحة الفكر ص۹)هم دغه



جواب محمود الوسي رحمه الله كړى دي . (روح المعانى جلد ۱۲ ص ۲۳۲ )

دوئم جواب دا دے چې دلته رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه منع كړل د ذكر بالجهر په تكبير څخه له دې لپاره چې څوك بيا دا وهم ونكړي چې په هره غونډئ باندې د ختلو په وخت تكبير ويل سنت دي ځكه چې څنګه قول او فعل د رسول الله صلى الله عليه وسلم حجت دے همدغه رنګه تقرير هم حجت دے . دا جواب علامه عبدالحئ لكهنوي رحمه الله كړے دے په سباحة الفكر كنبې صفحه ۹ .

دريم جواب دا دے: چې دلته رسول الله صلى الله عليه وسلم چې منع كړل له په زوره ويلو د تكبير څخه . نو دا ئې شفقةً وتيسراً په وجه منع كړل چې صحابه كرام جهاد ته روان وو او ستړي شوي وو ډير سفر ئې كړي وو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وربانديې شفقت كولو په غرض صحابه كرام ته اوويل چې اربعوا على انفسكم . نو دلته د مطلق ذكر بالجهر څخه منعه نه ده راغلې. هم دغه جواب علامه انور شاه الكشميري رحمه الله كړے دے چې : اربعوا علىٰ انفسكم : ليس فيه نفى الجهر مطلقاً. ولكنه لما رأى النّاسَ مجهودين من اجل شدة الجهر ارشدهم الىٰ ماكان

ارفق وایسر لهم وهو الجهر المتوسط وعلمهم ان لا حاجة الی الجهر المفرط فأنهم لا یدعون اصمّ ولا غائباً۔ فیض الباری جلد ۶ ص ۲۳۷ حدیث نمبر ۶۳۸۴ په شرحه کښې . علامه عبد الحئ لکهنوي رحمه الله هم دغه جواب کړي دي. وګورئ سباحة الفکر ص ۹ . رشید احمد ګنګوهي رحمه الله هم دغه جواب کړے چې دلته منع شفقة وه. وګوره فتوىٰ رشیدیه ص ۵۹۹ هم دغه جواب قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله کړے چې نهي شفقةً ده . وګوره تفسیر مظهري جلد۳ ص ۳۲۲ .

## (اعتراض چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ویلي ذکر بالجهر بدعة دی جواب )

(۲)رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۸۱ باندې یو اثر چې منسوب دے حضرت ابن مسعود رضي الله تعالیٰ عنه ته هغه ئې ذکر کړي دي چې عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خلق د ذکر بالجهر څخه منع کړل او ورته ئې اوویل چې دا بدعة دے .

**الجواب**:دا اثر د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه اګر چې بعضو فقهاؤ ذکر کړے دے خو لیکن دا قول د ابن مسعود رضی الله عنه بې سنده دے . څکه خو علامه جلال الدین السیوطی رحمه الله فرمائي چې : قلت هذا الأثر عن



ابن مسعود یحتاجه الیٰ بیان سنده۔ الحاوی للفتاویٰ جلد۱ ص ۳۸۰۔ علامه عبد الحئ لکهنوی رحمه الله هم لیکلي دي چې : والجواب عنه من وجوه احدها ان هذه الاثر وان ذکره جمع من الفقهاء لکن لم یوجد له اثر فی کتب الحدیث بل الثابت عنه خلافه ۔(سباحة الفکر ص ۱۲)

(۳) علامه حنفي الحنفي رحمه الله وائي چې دا دروغ دي او افتراء ده په عبد الله بن مسعود رضی الله عنه باندې: بانه کذب وافتراء علی ابن مسعود لمخالفته النصوص القرآنية والاحادیث النبویة وافعال الملائکة ولو سلمنا حجة وقوعه فهو لا یعارض الادلة المذکورة لانه اثر والاثر لا یعارض الحدیث کما لایخفی۔ روح البیان جلد۴ ص ۳۷۸ د سورة الرعد ایت نمبر۲۸ په تفسیرکښې وګوري . نور جوابونه ئې هم علماؤ کړي دي وګورئ الحاوي للفتاویٰ جلد ۱ ص ۳۸۰ . سباحة الفکر ص ۱۲ .

(۴)محمود الوسي رحمه الله لیکلي دي چې: لا یصح عند الحفاظ من الائمة المحدثین وعلی فرض صحته هو معارض بما یدل علی ثبوت الجهر منه. (روح المعانی جلد ۱۲ ص ۲۳۲)

## (ذکر بالجهر ثبوت دعلماؤ نه)

(۱)علامه شامي رحمه الله ليکلي دي چې : اجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغيرها۔ (رد المحتار جلد۲ ص ۵۲۵)يعني اجماع د سلفو او خلفو ده چې په جمع سره ذکر په مساجدو کښې مستحب دے .

(۲)فتوی عالمګيري کښې د مسجد آداب ذکر کوي ليکي: والسادس ان لا يرفع فيه الصوت من غير ذکر الله۔ (فتوی عالمگیری جلد۵ ص ۳۲۱)

(۳) علامه حنفي رحمه الله ليکلي دي چې: الذکر برفع الصوت جائز بل مستحب۔ (تفسیر روح البیان جلد۲ ص ۱۸۱)

(۴)وقال الشيخ عبد الحق المحدث الدهلوی رحمه الله فی الحديث دليل علیٰ شرعية الجهر بالذکر وهو ثابت فی الشرع بلا شبهة۔ (اشعة اللمعات جلد۱ ص ۵۷۵ حاشية المشكاة جلد۱ ص ۱۱۲ حاشیه نمبر ۷)

(۵)علامه طحطاوي رحمه الله ليکلي دي چې : لا يجوز منع ذکر بالجهر فی المسجد. (طحطاوی علی المراقی ص ۳۱۸)

(۶)محاشی د مشکاة ليکلي دي چې : هذا يدل علیٰ جواز الذکر برفع الصوت بل علی الاستحباب۔ (مشکاة جلد۱ ص ۱۲۲ حاشیه نمبر ۷)



(۷)قال المظهر هذا ۔ ای حديث رفع الصوت بسبحانك الملك القدوس۔ يدل علیٰ جواز برفع الصوت بل علی الاستحباب ۔ (امداد الفتاویٰ جلد ۵ ص ۱۴۹)

(۸)**سوال**: الصوفية من عقد حلق الذکر والجهر به فی المساجد ورفع الصوت بالتهليل وهل ذلك مکروه اولا۔ الحاوی للفتاویٰ۔

**الجواب**: انه لا کراهة فی شیئ من ذلك وقد وردت احاديث تقتضی استحباب الجهر بالذکر۔ (الحاوی للفتاویٰ جلد۱ ص ۳۷۵)

[**فائده**]:مزيد تفصيل لپاره مجموعه رسايل زما ته رجوع وکړي .

## (ذکر باالجهر او علماء ديوبند)

(۱)**سوال**: ذکر جہر افضل ہے یا خفی؟(فتوی رشیدیہ ص(۲۰۰))

**الجواب**:دونوں میں فضیلت ہے من وجہ کسی وجہ سے جہر افضل ہے اور بعض وجہ سے خفی افضل ہے۔(فتوی رشیدیہ ص۲۰۰)

(۲)شاه عبد العزيز محدث دهلوي رحمه الله فرمائي چې ذکر بالجهر څخه انکار ناداني ده .

تیسرا مطلب: حقیقت ذکر جہر کی ہے اور اصل یہ ہے کہ اس کا انکار سراسر نادانی ہے اور قرآن شریف سے جہر صراحتاً ثابت ہے۔(فتویٰ عزیزی ص۱۰۴)

(۳)علامه اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي چې : شيخ عبدالقدوس رحمه الله ټوله شپه تر سهاره ذکر بالجهر کولو . ایک مرتبہ فرمایا کہ شیخ عبدالقدوس رحمہ اللہ عشاء کی نماز کے بعد ذکر بالجہر کرنے بیٹھتے اور صبح تک کرتے تھے۔ (ارواح ثلاثہ ص ۲۲۹، تذکرۃ الرشید دوئم حصہ ص ۳۲۰)

(۴)مولانا زکریا علیه السلام ليکلي دي چې:[**فائده**] : دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د منافقانو يا د بې وقوفانو رياکارو ويلو يا مجنون ويلو سره داسې لوئ دولت پريښودل نه دي پکار بلکه داسې په کثرت او اهتمام سره کول پکار دي چې دغه خلق تا پاګل اوګڼي او تا پريږدي. او مجنون به هله ويلې شي چې کله ډير په کثرت او زور سره ذکر اوکړے شي . رو رو کښې دا خبره نه شي کيدے . فضائل اعمال ص **۵۵** فضائل ذکر .

(۵)اشرف علي تهانوي رحمه الله د اذکروا الله ذکراً يقول المنافقون انکم مراؤون . (الحديث) د دې حديث د نقل کولو څخه بعد ليکي: مطلب یہ ہے کہ کثرت سے ذکر کرو اور ظاہر ہے کہ کثرت کی حالت میں اخفاء نہیں رہ سکتا اور اظہار میں مخالفین ریاء کا طعن کیا ہی کرتے ہیں پس اس حدیث میں ایسے اظہار کا جس کو ناواقف ریا کہیں اور واقع میں وہ ریاء نہ ہو مطلوب ہونا مذکور ہے۔(التکشف ص۷۰۷)

(۶)مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله بل ځاي ليکلي دي چې : ذکر دونوں طرح مفید ہے لیکن جہر اچھا معلوم ہوتا ہے۔ (التکشف ص ۵۴، امداد الفتاویٰ جلد ۵ ص ۱۵۶ )

(۷) حضرت مخدوم بالجہر ذکر شروع فرماتے تو ایسا معلوم ہوتا تھا کہ ساری مسجد کانپ رہی ہے خود پر جو حالت گزرتی ہوگی اس کی تو کسی کو کیا خبر۔ (تذکرۃ الرشید اولہ حصہ ص ۸۱)

(۸) تو یہ بھی ارشاد فرمایا کہ آخر کار میں نے ذکر بالجہر شروع کیا گلا اچھا تھا، بدن میں قوت تھی صبح کو جب حاضر خدمت ہو تو حضرت فرمانے لگے کہ تم نے تو ایسا ذکر کیا جیسے کوئی بڑا مشاق کرنے والا ہو اس دن سے ذکر جہر کے ساتھ محبت ہوگئی پھر کبھی چھوڑنے کو جی نہیں چاہا اور نہ کوئی وجہ شرعی اسکی ممانعت کی معلوم ہوئی۔(تذکرۃ الرشید اولہ حصہ ص۷۸)

(۹)مفتي محمد فريد رحمه الله ليکلي دي چې :په ذکربالجهر کښې د علماؤ اختلاف دے د بعضو په نزد جائز دے او د بعضو په نزد ناجائز دے او راجح قول د جواز دے خو په دې شرط چې مونځ کونکي او خوب والا کس ته ترې تکليف نه وي. (فتوی فريديه جلد ۱ ص ۳۴۰)

(۱۰)مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي چې :قال الله تعالیٰ : ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذکر فيها اسمه وسعٰی فی خرابها ۔ (الاية) ظاہر ہے کہ منع ذکر بدون اطلاع ذکر ممکن نہیں اور اطلاع بدون جہر غیر متصور ہے۔(امداد الفتاوٰی جلد ۵ ص ۱۴۹)

(۱۱)په سوانح قاسمي حصه اوله کښې ذکر دي چې
: مولوی صاحب کا ذکر جہر کرنا۔ آخر سب میں ذکر جہر کا یہ رنگ ہوتا کہ غافل بھی
جاگ اٹھتے اور توفیق ذکر اللہ کی پاتے الخ۔(سوانح قاسمی اولہ حصہ ص ۳۱)
(۱۲)مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي
چې: ذکر بالجہر اور بعض آثار ذکر کا اثبات بیا ئې حديث د ذکر بالجهر
په ثبوت ذکر کړي دي. التشرف ص ۲۳۳ : ۲۳۵ کليات
امداديه ص ۱۹ هم اوګورئ.

## (د لمونځ څخه وروسته ذکر بالجهر کول)

رحيم الله د خپل کتاب په صفحه ۷۸ نه واخله بيا تر
۸۲ پورې دا خبره ذکر کړې ده چې ذکر بالجهر د لمونځ نه
وروسته مکروه او بدعة دے.

**الجواب**:اول خو بايد زه د دې خبرې وضاحت وکړم
چې د لمونځ نه وروسته ذکر بالجهر د سيفيانو معمول نه
دے. سلسلې قادري شريف او يا نور څوك چې د لمونځ
څخه وروسته ذکر بالجهر د لا اله الا الله الخ کوي نو بالکل
جائز عمل دے بدعت نه دے. علماء ديوبند هم د دې د
جواز قائل دي. ان شاء الله وروسته به زه ذکر کړم.

(۱)د لمونځ نه وروسته ذکر بالجهر ثابت دے د
رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه. مشکاة شريف کښې
حديث موجود دے. حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنه



فرمائي چې: **کان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلوٰته يقول
بصوته الاعلٰی ـ لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ۔** (الحديث
مشکاة جلد۱ ص۸۸) د دې حديث په شرحه کښې شيخ عبد الحق
محدث دهلوي رحمه الله ليکلي دي چې: این حدیث صریح است
در جہر بذکر کہ انحضرت بآواز بلند میخواند۔(اشعة اللمعات جلد۱ ص۴۵۰)

**[فائده]**:بعضې وائي چې دې حديث کښې د صاحب
مشکاة وهم دے بصوته الاعلی کښې. نو جواب دا دے
چې دا حديث صرف صاحب مشکاة نه دي رانقل کړي په
بصوته الاعلی سره بلکې نور کتابونو کښې هم دا روايت
رانقل دے په بصوته الاعلی سره. وګوره فتح الملهم جلد۳
ص ۴۵۵ ، اعلاء السنن جلد۲ ص ۹۸۳ ، حجة الله البالغه
جلد۲ ص ۲۱ طحاوي على المراقی ص ۳۱۲ ، روح
المعانی جلد ۱۲ ص ۲۳۲ شرح السنة جلد۲ ص ۱۳
للبغوي رحمه الله ، شرح المشکوٰة للطيبي رحمه الله جلد۳
ص ۱۰۵۸ روح البيان جلد۳ ص ۳۴۷ التعليق الصبيح
جلد۲ ص ۲ مرقاة جلد۳ ص ۳۳۲ خير التوضيح جلد۲ ص
۱۳۴ ، مسند امام شافعي جلد۱ ص ۱۴۴ او داسې نور
علماء دي چې دوي ټولو دغه روايت په بصوته الاعلٰی سره
رانقل کړي دي. لکه امداد الفتاویٰ جلد۵ ص ۱۴۹.

(۲)امام طحطاوي رحمه الله ليکلي دي چې:

ویستفاد من الحدیث الاخیر جواز رفع الصوت بالذکر والتکبیر عقب المکتوبات بل من السلف من قال باستحبابه (طحطاوی علی المراقی ص ۳۱۲)

(۳)په فتویٰ دارالعلوم دیوبند کښې :سوال: بعد جماعت فرضوں کے سلام پھیرتے ہی لا الہ الا اللہ باآواز بلند کہنا کیسا ہے؟

الجواب: یہ بھی جائز ہے لیکن خفیہ پڑھنا افضل ہے۔( فتوی دارالعلوم دیوبند جلد ۲ ص ۱۴۹، ۱۵۰ )

(۴)مفتي محمد فريد رحمه الله باندې سوال شوے دے چې د جمعې د مونځ نه پس فوراً ذکر بالجهر کول څه حکم لري ؟ **الجواب** :په ذکر بالجهر کښې د علماؤ اختلاف دے د بعضو په نزد جائزد دے او د بعضو په نزد ناجائز دے او راجح قول د جواز دے .( فتویٰ فريديه جلد ۱ ص ۳۴۵ )

[**تبصره**]:د رحيم الله د فتویٰ موافق دا ټول بدعتيان دي .معاذالله .

[**فائده**]:د ذکر بالجهر څخه منع کونکي نه غټ ظالم نشته امام طحطاوي وغيره علماء وائي: ۱: امام طحطاوي رحمه الله ليکلي دي: قال فی الفتاوی لا یمنع عن الجهر بالذکر فی المساجد احترازًا عن الدخول تحت قوله تعالیٰ: ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکر فیها اسمه: کذا فی البزازیة ونص الشعرانی فی ذکر الذاکر المذکور والشاکر



للمشکور ما لفظه واجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الله تعالیٰ جماعة فی المساجد ۔ (طحطاوی علی المراقی ص ۳۱۸)

۲ :مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم د ذکر بالجهر لپاره د قرآن دغه آيت چې: ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذکر فيها اسمه . څخه استدلال کړے دے وګوره امداد الفتاویٰ جلد **۵** ص **۱۴۹** دلته ئې دا هم ورسره ليکلي دي چې ذکر بالجهر په هر هيئة سره جائز دے . معارف السنن جلد۳ ص **۳۰۵** د علامه بنوري رحمه الله هم دا خبره ذکر کړې ده .

***

## (ځلورمه مسئله د علم الغیب)

(۱): رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۸۳ باندې لیکلي دي چې سیفیان بریلویان د فقهې حنفي په خلاف غیر الله ته هم علم الغیب ثابتوي.

**الجواب**: سیفیان حضرات چې غیر الله ته کوم علم الغیب ثابتوي هغه تا هم ثابت کړے دے او ستاسو مشرانو هم ثابت کړي دي. تا د احقاق الحق جلد ۴ ص ۷۳۹ باندې داسې لیکلي دي چې د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د عبارت خلاصه دا ده چې علم الغیب بلا واسطه صرف د الله تعالی صفت دے په مخلوقاتو کښې د هیچا سره نشته او علم الغیب بالواسطه د مخلوق سره شته. هم دغه عقیده د سیفیانو ده نو که غیر الله ته علم الغیب ثابتول شرك او کفر وي نو بیا خو ته په خپله ټاپه سره مشرك او کافر شوې.

## (د علم الغیب په مسئله کښې د سیفیانو عقیده)

د الله جل جلاله علم ذاتي تفصیلي کلي محیط دے او د انبیاؤ علم عطائي جزئي متناهي غیر محیط دے په بعضې اشیاؤ وي نه په کل.

د غیب تعریف او اقسام او د غیر الله په علم باندې اطلاق د علم الغیب او دلائل او ثبوت د علم الغیب د علماء دیوبند څخه او په علم الغیب باندې اعتراضات د هغې جوابات ټول په تفصیل سره درته ذکر کوم او د رحیم الله هر



اعتراض ته به پکښې جواب موجود وي. ان شاء الله.

**د علم الغیب تعریف**:

دوستانو علم الغیب مرکب اضافي دي. او قانون دا دي چې په مرکب اضافي کښې به د مضاف ځانته تعریف کوي. او د مضاف الیه به ځانته تعریف کوي نو اول به مونږ د علم تعریف وکړو چې علم چاته وائي. نو ملا علي القاري الحنفي رحمه الله لیکي چې: **والعلم نور فی قلب المؤمن مقتبس من مصابیح مشکاة النبوة من الاحوال المحمدیة والافعال الاحمدیة والاحوال الحمدیة یهتدی به الی الله وصفاته وافعاله واحکامه** - یعني علم یو نور دے په زړه د مؤمن کښې چې راخستلی شوی دي د رڼا د مشکاة د نبوت د اقوال محمدیوو نه او د افعال احمدیوو نه او د احوال محمدیوو نه چې دے سره دی الله او صفات د الله او احکام د الله ته رسي او پیژني یه (مرقاة جلد ۱ ص ۴۰۵ کتاب العلم.

(۲): **دویم غیب تعریف**: نو غیب په لغت کښې ما غاب عنك یعني د تا نه چې څه پنا دی هغه ته غیب وائي او په اصطلاح کښې غیب دیته وائي علامه بیضاوي د یؤمنون بالغیب په تفسیر کښې لیکي: **والمراد به الخفی الذی لا یدرکه الحس ولا تقتضیه بداهة العقل** - یعني مراد په غیب

سره هغه پټ شئ دي چې نه ئې ادراك په حس سره كيږي او نه د هغه تقاضا په بداهة العقل كوي .

**د غيب اقسام**: لوستونكو غيب په دوه قسمه دے:(۱)اول هغه غيب چې بلا سبب او بلا دليل وي دا قسمه غيب د الله خاصه ده. (۲)دوئم هغه غيب دي چې په واسطه سره حاصل وي دا قسمه غيب د مخلوق پورې خاص دي . لكه علامه رازي په تفسير كبير كښې د يؤمنون بالغيب په تفسير كښې ليكي: قول جمهور المفسرين ان الغيب هو الذى يكون غائباً عن الحاسة ثم هذا ينقسم الى ما عليه دليل والى مالا دليل عليه ـ (تفسیر کبیر جلد۱ ص ۲۷۳)يعني جمهور مفسرين وائي چې غيب هغه وي چې غائب وي د حس نه . او بيا دا غيب په دوه قسمه دي يو هغه چې په هغه دليل وي او دوئم هغه چې په هغه دليل نه وي .

همدا تقسيم علامه شاه اسماعيل حقي رحمه الله كړي دي په تفسير روح البيان كښې د يؤمنون بالغيب په تفسير كښې داسې ليكي: وهو ما غاب عن الحس والعقل غيبة كاملة بحيث لا يدلك بواحد منهما ابتداء بطريق البداهة وهو قسمان: قسم لا دليل عليه وهو الذى اريد بقوله سبحانه (وعنده مفاتح الغيب لا يعلمها الا هو ـ وقسم نصب



عليه دليل) (تفسیر روح البیان جلد۱ ص ۵۸)يعني غيب هغه وي چې غائب وي د حس او د عقل نه په كامل غيب سره چې بالكل ادراك ئې نه كيږي په يو دواړو سره په طريقه د بداهة سره . او بيا دا غيب په دوه قسمه دي يو هغه چې وربانديې دليل نه وي چې دا قسمه غيب د الله خاصه ده. دوئم قسمه غيب هغه وي چې وربانديې دليل وي نو دا قسمه غيب د انبياؤ او اولياؤ پورې خاص وي .

[**فائده**]:بعضې ملايان وائي چې علم الغيب هغه وي چې ذاتي به وي . عطائي غيب نه وي . نو دوي دا د غيب تقسيم ته نظر نه دے كړے . چې الله انبياؤ ته اطلاع وكړي بيا هم غيب غيب پاته كيږي خو بيا غيب وي په نسبت مونږ ته لكه دا مخكښې مفسرين چې ما درته ذكر كړو چې هغوي وائي غيب په دوه قسمه ده يو هغه چې پې دليل نه وي. او دوئم هغه چې پې دليل قائم وي .

[**نوټ**]:كوم علماء چې وائي د انبياؤ ته انباء الغيب او اطلاع الغيب او اظهار الغيب وي خو علم الغيب نه وي. نو زه د دوي نه دا تپوس كوم چې مونږ هم انباء الغيب منو او هم اطلاع الغيب او هم اظهار الغيب منو خو مونږ وائي چې هر كله باري تعالى نبي ته انباء يا اطلاع وكړه نو آيا علم راغي او كنه . كه راغي خو مسئله ختمه بيا لانجه په څه ده. او كنه راغي علم نو بيا مفسرينو ولې د انبياؤ په علم اطلاق

د علم الغيب کړے دے . ان شاء الله تعالیٰ وروسته په هغه مفسرين کرام ذکر کړم چې چا چا د انبياؤ په علم باندې اطلاق د علم الغيب کړے دے .

## (دلائل په مسئله د علم الغيب باندې)

(۱): **وعلمك مالم تكن تعلم** ـ (سورة النساء پاره ۵ آيت ۱۱۳)

**ترجمه**: محبوبه ماتاته علم درکړو د هغه څه چې تاته نه وو معلوم . د دې آيت په تفسير کښې مفسرين ليکي چې الله نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ته د علم د غيبو ورکړو .

(۱)اول: تفسير جلالين همدې آيت لاندې ليکي: **وعلمك مالم تكن تعلم ـ ای من الاحكام والغيب** (تفسير جلالين جلد۱ ص۱۰۸) يعني محبوبه ما تاته علم درکړو د احکامو او د غيبو علم مې درکړو .

(۲)دوئم: تفسير صاوي همدې آيت په تفسير کښې ليکي: **وعلمك مالم تكن تعلم اى علم الغيب** (تفسير صاوی جلد۱ ص۳۳۵) يعني محبوبه ما تاته علم الغيب درکړو.

(۳)درئم: همدې آيت په تفسير کښې صاحب د مدارك ليکي: **وعلمك مالم تكن تعلم اى من خفيات الامور ـ وضمائر القلوب** (تفسير مدارك جلد۱ ص۳۹۵) يعني محبوبه ما تاته علم درکړو دپټو اُمورو او د زړه د خبرو.

(۴)پنځم همدې آيت په تفسير کښې محمود الوسی



الحنفي رحمه الله ليکي: **ای الذی لم تكن تعلمه من خفيات الامور وضمائر الصدور** ـ يعني هغه څه چې تاته ئې مخکښې علم نه وو د پټو امورو او د زړه د خبرو نو محبوبه ما تاته د دې علم درکړو . تفسير روح المعاني جلد ۵ ص ۱۸۷ . او بيا وروسته ئې د امام ضحاك رحمه الله قول راوړے دے ليکي : **من أخبار الاولين والآخرين** ـ (تفسير روح المعانی جلد۵ ص۱۸۷)

(۲)دوئم دليل: **وعلمناه من لدنا علما** (سورة كهف پاره ۱۵ آيت نمبر ۶۵) ترجمه: او ورکړو مونږ حضرت خضر عليه السلام ته د خپل طرف نه علم .

[**فائده**]: هغه خلق چې وائي د اطلاع نه وروسته علم نه راځي نو دلته به د دې آيت څه معنیٰ دوي کوي . اوګوره الله جل جلاله وائي ما حضرت خضرعليه السلام ته د خپل طرف نه علم ورکړو نو د ورکړې اعطاء نه وروسته هم الله هغه ته علم وائي . دوئم علمًا کښې تنوين عوضي دے او دا عوض دے د مضاف اليه چې مضاف اليه ئې مفسرين وائي هغه غيب دي . نومعلومه شوه چې ما حضرت خضر عليه السلام ته علم الغيب ورکړے وو . درئم دا آيت دے او په آيت باندې مفسرين ښه پوهيږي . اوس به زه درته همدې آيت لاندې مفسرين ذکر کړم چې هغوي ليکي چې الله جل جلاله حضرت خضر عليه السلام ته علم ورکړے وو هغه د

علم د غيبو وو . يعني علم الغيب وو.

(۱)اول همدې آيت په تفسير كښې امام قرطبی رحمه الله ليكلي دي: وعلمنٰه من لدنا علماً ای علم الغيب ـ (تفسير قرطبی جلد۱۱ ص۱۸) يعني ماحضرت خضر عليه السلام ته علم الغيب وركړي وي .

(۲)دوئم همدې آيت په تفسير كښې شاه اسماعيل حقي رحمه الله ليكلي دي: وعلمنٰه من لدنا علماً ـ ای خاصًا هو علم الغيوب ـ (تفسير روح البيان جلد۵ ص۳۲۱)

(۳)درئم همدې آيت په تفسير كښې محمود الوسي الحنفي رحمه الله ليكلي دي : وعلمنٰه من لدنا علماً ـ ای وهو علم الغيوب ـ (روح المعانی جلد۱۵ ص۳۱۴)

(۴)څلورم همدې آيت په تفسير كښې علامه صاوي رحمه الله ليكي : وعلمنٰه من لدنا علماً ـ ای معلوماً من المغيبات ـ (تفسير صاوی جلد۳ ص۱۲۰۸)

(۵)همدې آيت په تفسير كښې تفسير جلالين ليكلي دي: ای معلوماً من المغيبات ـ (تفسير جلالين جلد۲ ص۲۸۹) يعني حضرت خضر عليه السلام ته الله معلومات وركړو په غيبو باندې . او په يوشي معلومات هله وي چې وربانديې علم لري.



(۳)درئم دليل: وماكان الله ليطلعكم على الغيب ولكن الله يجتبى من رسله من يشاء ـ (سورة آل عمران پاره۴ آيت۱۷۹)

**ترجمه**: او نه دے الله چې خبر كړي تاسې په غيب باندې وليكن الله غوره كوي له رسولانو خپلو نه هغه څوك چې د ده خوښ شي .

[**فائده**]: دلته په طريقه د استثناء سره الله ذكر كړو چې زما چاته خوښه شي نو هغه ته بيا اطلاع په غيبو كوم. د خپلو رسولانو نه نو د اطلاع نه وروسته علم راځي ځكه خو بعضې مفسرين دلته بعد الاطلاع د رسولانو په علم باندې اطلاق د علم الغيب كړی دي.

(۱)اول: قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله همدې آيت په تفسير كښې ليكي: فيطلعه على البعض من علوم الغيب احيانًا (تفسير مظهری جلد۲ ص۱۸۵) يعني اطلاع كوي الله جل جلاله خپل پيغمبر ته په بعضې علومو د غيبو باندې. نو اوګوره د اطلاع نه ئې وروسته هم اطلاق وكړو په علم الغيب سره .

(۲)همدې آيت په تفسير كښې تفسيرخازن ليكي: يعنی ولكن الله يصطفی ويختاره من رسله من يشاء فيطلعه علی مايشاء من غيبه (خازن جلد۱ ص۳۲۹)

(۳) همدې آيت په تفسير كښې امام قرطبي رحمه

الله لیکي : ای یختار من رسله لاطلاع غیبه من یشاء (تفسیر قرطبی جلد۴ص۲۸۰)

(۴)همدې آیت په تفسیر کښې تفسیر جلالین لیکي: ولکن الله یجتبی یختار من رسله من یشاء فیطلعه علی غیبه کما اطلع النبی ﷺ علی حال المنافقین (تفسیر جلالین جلد۱ ص۸۳ ـ یعني الله تعالٰی د خپلو رسولانو نه چې چاته خوښه شي نو اطلاع ورکړي هغه ته په غیبو باندې لکه څنګه چې الله اطلاع کړې وه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته په حال د منافقینو باندې

(۵)همدې آیت په تفسیر کښې علامه صاوي رحمه الله لیکي: کانه قال الا الرسل فانه یطلعهم علی الغیب (تفسیر صاوی جلد۱ص۳۳۷)یعني سېوا د رسولانو نه څکه چې الله تعالٰی دوي ته اطلاع کوي په غیبو باندې .

(۶)همدې آیت په تفسیر کښې صاحب د تفسیر مدارك لیکي: ای ولکن الله یرسل الرسل فیوحی الیه، ویخبره بان فی الغیب کذا وان فلانا فی قلبه النفاق وفلانًا فی قلبه الاخلاص ـ(تفسیر مدارك جلد۱ص۳۱۵) یعني لکن الله رالیږي رسولان بیا دوي ته وحي کوي او خبر ورکوي په غیبو باندې چې د فلان کس په زړه کښې نفاق دے او د فلان کس



په زړه کښې اخلاص دے .

(۷)همدې آیت په تفسیر کښې علامه رازي ډېره ښائسته خبره لیکلې ده . وائي چې : ماکان الله لیجعلکم کلکم عالمین بالغیب من حبیب یعلم الرسول حتیٰ تصیروا مستغنین عن الرسول ، بل الله یخص من یشاء من عباده بالرسالة ـ(تفسیر کبیر جلد۳ص۴۴۲)یعني نه دے الله چې وګرځوي تاسو ټول عالمان په غیبو د دې حثیت نه چې پوهیږي رسول په غیبو څکه بیا به تاسو وګرځئ مستغنیان د رسول نه بلکې الله جل جلاله خاص کوي د خپلو بندګانو نه په رسالت سره چې چاته ئې خوښه شي . نو دلته د علامه رازي د کلام نه ښه صفا معلومه شوه چې رسول علیه السلام په غیبو پوهیږي. یعني الله جل جلاله دوي ته علم الغیب ورکړے دے .

(۸) همدې آیت په تفسیر کښې درالمنثور لیکلي دي لا یطلع علی الغیب الا رسول (تفسیر درالمنثور جلد۲ص۳۶۷)یعني اطلاع نه کوي په غیبو باندې الله مګر رسول ته الله اطلاع کوي په غیبو باندې رسولانو ته .

[**فائده**]:بعضې حضرات به وائي چې دلته خو اطلاع ذکر ده او اطلاع خو مونږ هم منو او خبره خو په علم الغیب کښې ده نه په اطلاع الغیب او انباء الغیب کښې .**الجواب**:د

اطلاع او د انباء نه وروسته علم خپله راځي . چې اطلاع
الغيب دي اومنله نو د اطلاع نه وروسته نبي ته په هغه شئ
باندې علم حاصل شي په کوم شئ باندې چې الله **جل جلاله**
ورته اطلاع کړې ده مثلاً تاته په يوه مسئله علم نشته او چا
خبر درکړو د هغې مسئلې نو بعد د خبر نه تاته په هغه
مسئله علم راغلو چې مسئله داسې ده. نو بعد الاطلاع بعد
الاخبار بعد الوحي انبياؤ ته علم راځي . اوس به زه صرف د
نمونې لپاره يو څو کتابونه ذکر کړم چې هغوي به د اطلاع
نه وروسته او د وحي نه وروسته د انبياؤ په علم باندې
اطلاق د علم الغيب کړے وي .

**(۱)اول**: علامه فخر الدين الرازي چې بعد الوحي
ئې اطلاق د علم الغيب کړے دے د سورة الطور آيت
نمبر ۴۱ په تفسير کښې ليکي: واشارة الى ان ما عند النبى
ﷺ **من علم الغيب علم بالوحى** (تفسير كبير جلد١٠ ص ٢٢١) **يعني**
پدې آيت کښې اشاره ده دې خبرې ته چې د نبي کريم صلى
الله عليه وسلم سره علم الغيب دے خو دا په وحي سره دے.
نو اوګوره د علامه فخر الدين رازي پشان عالم د وحي نه
پس هم د نبي کريم عليه السلام په علم باندې اطلاق د علم
الغيب کړے دے . (روح البيان جلد ۷ ص ۱۳۲ )همدغه
شان د اطلاق د غيرالله په علم د علم الغيب ، تفسير کشاف



جلد ۴ ص ۳۱۲ . قرطبي جلد ۱۷ ص ۲۲ .

**(۲)دوئم**: علامه نووي رحمه الله دے چې بعد
الاطلاع ئې د انبياؤ په علم باندې اطلاق د علم الغيب کړے
دي : امام نووي په شرح د مسلم کښې ليکي: **بخلاف
الانبياء فانهم يوحى الله تعالیٰ اليهم من علم الغيب** ـ (مسلم
شرح نووى جلد۲ ص ۳۹۷ باب ذکر ابن صياد)**يعني** په **خلاف** د انبياؤ نه
څکه دوي ته الله **جل جلاله** وحي کوي د علم الغيب . نو
اوګوره د امام نووي پشان عالم هم د وحي اطلاع نه
وروسته د انبياؤ په علم باندې ئې اطلاق د علم الغيب
وکړو .

**(۳)دريم**: حضرت قاضي ثناء الله پاني پاتي رحمه
الله دے چې بعد الاطلاع ئې د انبياؤ په اطلاع باندې
اطلاق د علم الغيب کړے دے . د سورت ال عمران آيت
نمبر ۱۷۹ په تفسير ليکي: فيطلعه علي البعض علوم
الغيب . تفسير مظهري جلد ۲ ص ۱۸۵ نو اوګوره بعد
الاطلاع اطلاق ئې وکړو په علم الغيب باندې .

(۴)علامه صاوي رحمه الله د سورت النساء آيت
نمبر ۱۱۳ په تفسير کښې ليکي : **وعلمك مالم تكن تعلم** ـ
اى علم الغيب ـ يعني محبوبه ما تاته علم الغيب درکړو.

(۵)امام قرطبي رحمه الله دے چې په خپل تفسير

کښې ئې ډیر ځایونه کښې د انبیاؤ په علم باندې اطلاق د علم الغیب کړے وي مثلاً یو ځائ کښې د یوسف علیه السلام په باره کښې لیکي: ولٰکنه من علم الغیب الذی آتاه الله (تفسیر قرطبی جلد۹ ص ۱۷۳) نو دا مې صرف د نمونې د پاره پیش کړو دلته چې ګوره بعد الاطلاع هم علم الغیب پاته کیږي.

**(۴) څلورم دلیل**: عٰلم الغیب فلا یظهر علٰی غیبه احدًا الا من ارتضٰی من رسول۔ (سورة جن پاره ۲۹ آیت ۲۶)

**ترجمه**: عالم دے په غیب باندې پس نه خبروي په غیب خپل باندې هیڅوك مګر هغه څوك چې غوره کړي له رسول نه.

(۱) همدې آیت په تفسیر کښې محمود الوسي رحمه الله لیکلي دي: ای لکن الرسول المرتضی یظهره جلا وعلا علٰی بعض الغیوب (روح المعانی جلد ۲۹ ص ۱۵۱) یعنې رسول چې ئې غوره کړي نو اظهار ورته وکړي الله د بعضو غیبو، او ما درته مخکښې وضاحت وکړو چې اظهار نه وروسته علم راځي. نو انبیاؤ ته الله د بعضې اشیاؤ د غیبو علم ورکړے دے.

(۲) همدې آیت په تفسیر کښې روح البیان لیکي: ای



الا رسولًا ارتضاه واختاره لاظهاره علی **بعض غیوبه**۔ (تفسیر روح البیان جلد۱۰ ص ۱۰، تفسیر سمرقندی جلد۳ ص ۴۱۴)

(۳) همدې آیت په تفسیر کښې علامه خازن رحمه الله لیکي: یعنی الا من یصطفیه لرسالته ونبوته فیظهره علٰی ما یشاء من الغیب حتٰی یستدل علی نبوته بما یخبر به من **المغیبات** (تفسیر خازن جلد۴ ص ۳۲۳) یعنې الله چې چاته خوښه شي نو رسالت او نبوت ورکوي نو الله چې بیا چاته خوښه شي نو اظهار د غیبو ورته کوي د دې لپاره چې دلیل وګرځي د ده په نبوت باندې او بیا دې خبر ورکوي د مغیباتو.

(۴) همدې آیت په تفسیر کښې علامه رازي رحمه الله وائي چې دلته د غیب نه مراد قیامت دوزخي علم دے. داسې لیکي: ای وقت وقوع القیامت من الغیب الذی لا یظهره الله لاحد او بیا وروسته لیکي: فکیف قال: الا من ارتضٰی من رسول مع انه لا یظهر هذا الغیب لاحد من رسله؟ قلنا: بل یظهره عند القرب من اقامة القیامة۔ (تفسیر کبیر جلد۱۰ ص ۶۷۸)

(۵) همدې آیت په تفسیر کښې امام قرطبي رحمه الله لیکي: فانه یظهره علٰی ما یشاء من غیبه لان الرسل مؤیدون

بالمعجزات ومنها الاخبار عن بعض الغائبات۔(تفسیر قرطبی جلد۱۹ ص۲۸)

(٦)همدې آیت په تفسیر کښې علامه عبدالله بن احمد نسفي رحمه الله لیکي: الا رسولًا قد ارتضاه لعلم بعض الغیب۔ (تفسیر مدارك جلد۳ ص۵۵۴)یعني سوا د رسولانو نه څکه چې الله رسول غوره کوي د پاره د بعضې علم الغیب لپاره. نو دلته خو د اظهار نه پس ئې اطلاق په علم الغیب سره کړې دي.

(۷)همدې آیت په تفسیر کښې علامه صاوي رحمه الله لیکي: ولکن اطلاع الانبیاء علی الغیب اقوی من اطلاع الاولیاء لان الاطلاع الانبیاء یکون بالوحی۔(تفسیر صاوی جلد٦ ص۲۲۵٦)

(۸)همدې آیت په تفسیر کښې تفسیر درالمنثور لیکي د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما قول راوړي.

قال: اعلم الله الرسل من الغیب الوحی (تفسیر درالمنثور جلد۸ ص۲۸٦) یعني عبدالله بن عباس رض وائي چې الله علم ورکوي د غیبو رسولانو ته په وحي سره. نو دلته ذکر شو چې بعدالوحي بعد الاطلاع حضرت عبدالله بن عباس رض اطلاق د علم الغیب کړي دي. چې الله رسول ته علم د غیبو



ورکوي.

**پنځم دلیل**: ولا یحیطون بشئ من علمه الا بما شاء۔ (سورة بقرة پاره۳ آیت:۲۵۵) ترجمه: چاپیریږي نه علم د دوي په هیڅ باندې له علمه د ده نه مګر په هغه څیز چې د ده خوښه وي.

(۱)اول:د دې آیت په تفسیر کښې خازن لیکي: الا بما شاء یعنی ان یطلعهم علیه وهم الانبیاء والرسل لیکون ما یطلعهم علیه من علم غیبه دلیلا علیٰ نبوتهم ۔ (تفسیر خازن جلد۱ ص۱۹٦)یعني الله جل جلاله دوي ته په خپل علم باندې اطلاع ورکوي چې هغه انبیاء او رسولان دي. او دا اطلاع چې الله دوي ته کوي په علم الغیب باندې د دې لپاره چې دا یو دلیل اوګرځي د دوي په نبوت باندې.

**[فائده]**:دلته هم علامه خازن د انبیاؤ په علم باندې اطالق د علم الغیب وکړو.

(۲)همدې آیت په تفسیر کښې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله لیکلي دي: وهو علم الغیب فهم لا یحیطون بشئ من علم الغیب الا بما شاء۔ نودلته هم انبیاؤ ته په طریقه د استثناء سره علم الغیب ثابت شو. (تفسیر مظهري جلد ۱ ص ۳۵۸)

(۳)همدې آیت په تفسیر کښې علامه رازي رحمه

الله لیکي: والثاني: انهم لا يعلمون الغيب الا عند اطلاع الله
بعض انبيائه على بعض الغيب۔ (تفسیر کبیر جلد۳ ص ۱۲) یعني
دوي په غیبو نه پوهیږي مګر وروسته د اطلاع د باري
تعالی نه بعضي انبیاؤ ته د بعضې غیبونو . نو معلومه شوه
چې انبیاء په بعضو غیوبو علم لري نه په ټولو همدا زمونږ
هم عقیده ده .

**شپږم دلیل**: من ذالذی یشفع عنده الا باذنه یعلم ما
بین ایدیهم وما خلفهم ۔ (سورۃ بقرہ آیت نمبر ۲۵۵)

ددې آیت په تفسیر کښې :علامه شاه اسماعیل
حنفي په روح البیان کښې لیکي : وفی التأویلات النجمیة:
یعلم محمد علیه السلام ما بین أیدیهم من الامور الاولیات
قبل خلق الله الخلائق ۔ کقوله: اول ما خلق الله نوری وما
خلفهم ، من أهوال القیامة وفزع الخلق وغضب الرب۔
(تفسیر روح البیان جلد۱ ص ۴۹۵) یعني نبي کریم صلی الله
علیه وسلم د مخلوق مخکښې حالات هم پیژني چې الله جل
جلاله لا مخلوق نه وو پیدا کړے لکه دا قول د رسول الله
علیه السلام چې اول الله جل جلاله زما نور پیدا کړو. او
نبي علیه السلام د مخلوق وروستني حالات هم پیژني مثلاً
احوال د قیامت او د خلقو ګبراهټ او غضب د الله وغیره خو



دا خبره یاد ساتئ دا ټول اجمالاً لا تفصیلاً .

**اووم دلیل**: الرحمٰن علم القرآن خلق الانسان علمه
البیان .(سورت رحمٰن پارہ۲۷۔ ایت ۴)د دې آیت په تفسیر کښې
علامه خازن رحمه الله لیکلي دي . وقیل اراد بالانسان
محمدا ﷺ علمه البیان یعنی بیان ما یکون وما کان۔ (تفسیر
خازن جلد۴ ص ۲۲۳) یعني د خلق الانسان . دلته د انسان نه مراد
هغه ذات د محمد الرسول الله صلي الله علیه وسلم دي ، چې
الله د ته د ماکان او ما یکون علم ورکړے دے . خو اجمالاً .

(۲): همدې آیت په تفسیر کښې علامه صاوي رحمه
الله لیکي: وقیل هو محمد ﷺ لانه الانسان الکامل۔
والمراد بالبیان علم ماکان وما یکون ۔ (تفسیر صاوی جلد۶
ص ۲۰۷۴) یعني الله نبي اکرم علیه السلام ته علم د ماکان
وما یکون ورکړے دے .

(۳): همدې آیت په تفسیر کښې قاضي ثناء الله پاني
پتي رحمه الله لیکي : وجاز ان یقال خلق الانسان یعنی
محمد ﷺ علمه البیان یعنی القرآن فیه بیان ماکان وما
یکون من الازل الی الابد ۔ (تفسیر مظهری جلد۹ ص ۱۴۵)۔

**اتم دلیل** : ما انت بنعمة ربك بمجنون۔ (سورۃ قلم آیت ۲
پارہ :۲۹) ترجمه: نه ئې ته په نعمت د رب خپل باندې لیونے.

(۱):د دې آيت په تفسير کښې علامه شاه اسماعيل حقي رحمه الله ليکلي دي : بمستور علماً کان فی الازل وما سيکون الی الابد لان الجن هو الستر بل انت عالم بما کان وخبير بما سيکون۔(تفسير روح البيان جلد۱۰ ص ۱۲۲)يعني محبوبه ته عالم ئې په هغه څه چې په ازل کښې دي او په هغه څه چې راځي تر ابده پورې ځکه جن خو پرده ده او ته خو عالم ئې بما کان وخبير يعني خبر ئې بما سيکون . خو دا خبردې ستاسو ذهن کښې وي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم عالم دے بما کان وبما سيکون خو اجمالاً نه تفصيلاً . او نبي کريم عليه السلام ته چې څومره علم دے دا ټول الله جل جلاله ورکړے دے او د نبي کريم عليه السلام علم په مقابله د علم د الله کښې داسې دے لکه يو څاڅکے د سمندر نه . د الله جل جلاله علم ذاتي کلي استغراقي تفصيلي محيط غير متناهي قديم دے ...

**نهم دليل** : وما هو علی الغيب بضنين ۔(سورة التکوير آيت نمبر ۲۴)ترجمه:نه دے محمد عليه السلام په غيب باندې بخل کونکے .

(۱):همدې آيت په تفسير کښې علامه خازن رحمه الله ليکي: يقول انه يأتيه علم الغيب ولا يبخل به عليکم (تفسير خازن جلد ۴ ص ۳۸۳) يعني بيشکه چې پيغمبر عليه السلام



ته علم الغيب راځي او نبي کريم صلی الله عليه وسلم تاسو ته په علم الغيب بيانولو باندې بخيل نه دے .

[**فائده**]:دلته خو ئې صفاء اوويل چې نبي کريم عليه السلام ته علم الغيب راځي .

**لسم دليل** : قال انك لن يستطيع معی صبرا (سورة کهف آيت۶۷) د دې آيت په تفسير کښې علامه ابن کثير د عبد الله بن عباس رض قول راوړے دے وکان رجلًا يعلم علم الغيب . يعني خضر عليه السلام يو سړے وو چې د ده سره علم الغيب وو . (تفسير ابن کثير جلد ۴ ص ۲۳۱ ، تفسير درالمنثور جلد ۵ ص ۳۲۴ ) معاذالله که چرته غيرالله په علم اطلاق د علم الغيب شرك شي نو د دې دومره مفسرينو سره به څه کوي چې هغوي د غيرالله په علم اطلاق د علم الغيب کړے دے .

**يوولسم دليل**: ثم يأتی من بعد ذلك عام ۔ (سورة يوسف آيت نمبر ۴۹) د دې آيت په تفسير کښې امام قرطبي رحمه الله ليکلي دي: ولٰکنه من علم الغيب الذی آتاه الله ۔(تفسير قرطبی جلد۹ ص ۱۷۴) يعني دا علم الغيب وو چې الله جل جلاله حضرت يوسف عليه السلام ته ورکړے وو . نو دلته خو ئې صفا د حضرت يوسف عليه السلام په علم باندې ئې اطلاق د علم الغيب وکړو .

**دولسم دلیل**: قال لا یأتیکما طعام تُرۡزَقَانِهٖ الا نبأتکما بتأویله ۔(سورة یوسف آیت :۳۷)

د دې آیت په تفسیر کښې امام قرطبي رحمه الله لیکلي دي: وکان هذا من علم الغیب خُصّ به یوسف ۔ (تفسیر قرطبی جلد۹ ص ۱۶۳) یعني دا علم الغیب وو چې الله وربانده خاص کړے وو حضرت یوسف علیه السلام .

[**فائده**]: هغه علماء چې وائي علم الغیب نسبت غیرالله ته کول شرك دے نو آیا معاذ الله امام قرطبي مشرك دے . چې په خپل تفسیر کښې د غیر الله په علم باندې اطلاق د علم الغیب کوي .

**دیارلسم دلیل**: وقل عسٰی ان یهدین ربّی لاقرب من هذا رشدا ۔(سورة کهف آیة نمبر:۲۴)

د دې آیت په تفسیر کښې علامه صاوي رحمه الله لیکلي دي: واعطاء علوم الاولین والاخرین وفاق علیهم بعلوم لم یطلع علیها احد سواه ۔(تفسیر صاوی جلد۲ ص ۱۱۹۲) یعني د معراج په شپه الله تعالی نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته علوم د اولینو او آخرینو ورکړو او الله نبي کریم علیه السلام ته په ډیرو غیوبو باندې اطلاع وکړه چې بل چاته الله د دومره غیوبو اطلاع نه ده کړې . تفسیر مظهري هم اوګوره



دلته جلد ۲ ص ۲۷ .

**څوارلسم دلیل**: وَلَا نُطِیۡعُ فِیۡکُمۡ اَحَدًا اَبَدًا۔ (سورة حشر آیت ۱۱)

د دې آیت په تفسیر کښې امام قرطبي رحمه الله لیکلي دي . وفی هذا دلیل علیٰ صحة نبوة محمد ﷺ من جهة علم الغیب۔(تفسیر قرطبی جلد۸ ص۳۲) یعني پدې آیت کښې دلیل دے په صحت د نبوت د محمد علیه السلام باندې لجهته د علم الغیب. یعني الله جل جلاله د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته علم الغیب ورکړے دے.

**پنځلسم دلیل**: د سورة روم آیت نمبر ۳ ، غلبت الروم فی ادنی الارض وهم من بعد غلبهم سیغلبون .د دې آیت په تفسیر کښې امام قرطبي رحمه الله لیکلي دي : فکان هذا من علم الغیب الذی أخبرالله عزوجل به (تفسیر قرطبي جلد۱۴ ص۹) یعني دا علم الغیب وو چې الله د دې خبر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورکړے وو.

**شپاړسم دلیل**: انی اعلم غیب السمٰوٰت والارض .(سورة بقره آیت۳۳)۔د دې ایت په تفسیر کښې امام قرطبي رحمه الله لیکلي دي: دلیل علیٰ ان احدًا لا یعلم من الغیب الا ما اعلمه الله کالانبیاء .(تفسیر قرطبي جلد۱ ص ۳۳۱) یعني پدې آیت کښې

دليل دے چې په غيبو هيڅ نه پوهيږي مګر هغه څوك چې الله ورته د غيبو علم ورکړے وي لکه انبياء عليهم السلام شول .

**اوولسم دليل**: وأُنبئكم بما تاكلون وما تدخرون فی بيوتكم ۔(سورة اٰل عمران پارہ ۳ آیت ۴۹)**يعني** حضرت عيسىٰ عليه السلام وائي خپل قوم ته چې زه تاسو ته خبر درکوم د هغه څه چې تاسو ئې خورئ او د هغه څه چې ئې تاسو ذخيره کوئ.

[**فائده**]:دا دعيسىٰ عليه السلام معجزه وه او علم د غيبو ورسره وو. ورنه ما اوتا دي داسې قوم ته اووايو. چې ستا په کور کښې دا دا څه دي او بيګا تاسو کور کښې دا څه اوخوړو . دا ټول غيب دي او عيسىٰ عليه السلام قوم ته پدې غيبو خبر ورکولو. او خبر په غيبو هله څوك ورکوي چې علم په غيبو لري .

**اتلسم دليل**: قال لا يأتيكما طعام ترزقانه الا نبأتكما بتأويله قبل ان ياتيكما ذلكما مما علمنی ربی ۔(سورة يوسف آيت نمبر ۳۷) د دې آيت په تفسير کښې علامه شاه اسماعيل حقي رحمه الله ليکي چې : من ای جنس هو مقداره وکيفيته من اللون والطعم وسائر احواله .(تفسیر روح البیان جلد۴ ص ۲۳۵) **يعني** حضرت يوسف عليه السلام خپلو ملګرو ته وائي چې زه به



بيا نوم تاسو ته مقدار د طعام او کيفيت د هغه او رنګ او خوند او ټول احوال د هغه .

[**فائده**]:دا اتلس ايتونه ما درته ذکر کړو په تفسير د مفسرينو سره چې د انبياؤ علم الغيب جزئي عطائي ترې نه ثابت وو نو اوس چې هم څوك وائي چې د انبياؤ په علم اطلاق د علم الغيب کول شرك دے نو دا هسې لالا دے . چې دومره عمده مفسرينو د انبياؤوپه علم باندې اطلاق د علم الغيب کړے دے او ته ئې نه کوې هسې قسم دے تعصب کوي . او ستا د تعصب جواب ماسره نشته . داسې نر به څوك وي چې دې مفسرينو باندې د شرك حکم اولګوي. لکه امام قرطبي ، امام ابن کثير ، امام الوسي ، امام جلال الدين السيوطي ، عبدالله بن عباس ، علامه صاوي ، عبدالله بن احمد نسفي صاحب وتفسير مدارك ، علامه علاؤالدين صاحب د تفسير خازن ، علامه فخرالدين رازي ، صاحب د تفسير کبير. امام نووي شارح د مسلم شريف . امام قاضي ثناء الله پاني پتي . علامه شاه اسماعيل حقي صاحب د تفسير روح البيان ، علامه ابن جرير وغيرهم . چې دې تمامو د انبياؤ په علم باندې په خپلو تفسيرونو کښې اطلاق د علم الغيب کړے دے. نو تا خو به د ما سره ورانه وي . تا خو به د بريلويانو سره ورانه وي تا خو به د سيفيانو حضراتو سره ورانه وي . نو دا

مفسرین خو نه بریلویان وو او نه سیفیان نو ولې ئې بیا نه منې . نو صاحبه لږ سوچ کوه ته چې وائې انبیاؤ ته علم الغیب ثابتول شرك دے، نو آیا معاذالله دا مفسرین ټول مشرکان وو؟ یعنې حضرات وائې چې مفسرینو چې کوم اطلاق کړے دے د انباؤ په علم د علم الغیب دا مجازاً نه حقیقتاً . نوجواب دا دے بس چې په کومه معنٰی سره دې مفسرینو اطلاق کړے دے په هم هغه معنٰی سره ئې مونږ هم منو. دوئم دا چې ته د مانه د علم الغیب ذاتي او عطائي تقسیم غواړې زه بیا لتانه د علم الغیب حقیقي او علم الغیب مجازي تقسیم غواړم په عمده شخص باندې حواله ورکړه . چې د نن نه دوه درې سوه کاله مخکښې تیر شوي وي . خوبس دا خبره چې مفسرینو په کومه معنٰی سره علم الغیب د انبیاؤ منې په هم هغه معنیٰ سره ئې مونږ هم منو.

***



## (علم الغیب د احادیثو په بیان کښې )

(۱): **عن عبدالله بن مسعود قال النبی ﷺ انی لاعلم اخر اهل النار خروجا منها واخر اهل الجنة دخولا۔** (رواه البخاری جلد۲ ص ۹۷۲)۔

**ژباړه**: د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چې بیشکه زه پیژنم هغه کس چې د ټولو نه به آخر د دوزخ نه راووځي او جنت ته به د ټولو آخر ننووځي .

[**فائده**]: دلته حدیث کښې مبارك وائې انی لاعلم یعنې بیشکه چې زه خامخا علم لرم په هغه کس چې د ټولو نه به آخر د دوزخ نه را اوځي او جنت ته به داخلیږي . نو دا تاکیدات ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل کلام کښې راوړي چې وروسته به مې اُمت کښې داسې خلق راپیدا شي چې زما علم د غیببو به نه منې .

(۲): **عن حذیفة قال قام فینا رسول الله مقاما ما ترك شیئا یکون فی مقامه ذالك الیٰ قیام الساعة الا حدث به۔**

(مسلم جلد۲ ص ۱۳۹۰ ابوداؤد جلد۲ ص ۵۸۲ ، مشکوٰة جلد۲ ص ۴۶۱)

**ژباړه**: حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے فرمائې چې یوه ورځ مونږ ته په یو ځائ باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اودریدو چې تر قیامته پورې څه دي د

هغه ټولو بیان ئي راته وکړو .خو اجمالاً .

(۳):عن انس بن مالك ان النبی ﷺ صعد اُحداً وابوبکر وعمر وعثمان فرجف بهم فقال اثبت احد فانما علیك نبی وصدیق وشهیدان ۔(بخاری جلد۱ ص ۵۱۹)

**ژباړه**:حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چې بیشکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ورځ د اُحد په غره باندې اوښتو او ابوبکر او عمر او عثمان رضی الله عنهم هم ورسره وو نو د اُحد غر اولړزیدو نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چې اُحده په آرام شه په تا باندې نبي (صلی الله علیه وسلم) ولاړ دے چې ورسره یو صدیق او دوه شهیدان هم دي .

[**فائده**]:په دې حدیث مبارك کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت عمر فاروق او حضرت عثمان رضی الله عنهما متعلق د شهادت پیشنګوئي اوفرمائیله چې وروسته بیا دواړه پخپل دور کښې شهیدان شول.

(۴):عمرو اخطب۔ قال: اخبرنا رسول الله ﷺ بما کان وما هو کائن الی یوم القیامة ۔(البداهة والنهایة جلد۳ ص ۵۷۶ فصل فی ترتیب الاخبار بالغیوب المستقبلة بعده ﷺ ۔

یعني عمرو بن اخطب نه روایت دے چې مونږ حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر کړو هغه څه نه چه مخکښې



شوي وو او کوم چې راتلونکي زمانه کښې کیدونکي دي تر قیامته پورې .

(۵):فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید وجئنا بك علیٰ هؤلاءِ شهیدا (سورة النساء آیت نمبر ۴۱)د دې آیت په تفسیر کښې. تفسیر ابن کثیر ، تفسیر مظهري ، تفسیر قرطبي لیکلي دي: لیس من یوم الا تعرض علی النبی ﷺ امته غدوةً وعشیة فیعرفهم بسیماهم واعمالهم فلذلك یشهد علیهم (تفسیر ابن کثیر جلد۲ ص۲۷۶ ، تفسیر مظهری جلد۲ ص ۱۱۰ ، تفسیر قرطبی جلد ۵ ص ۱۹۱ ، التذکرة ص ۲۵۷ باب ماجاء فی شهادة النبی ﷺ علی امته) یعني چې هیڅ یوه داسې ورځ هم نشته دے چې صبا او بیګاه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل اُمت اعمال نه پیش کیږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خپل اُمتیان په نومونو هم پیژني او په عملونو هم ځکه چې په ورځ د قیامت باندې به پخپل اُمت باندې شهادت کوي .

(۲):فقال ان رسول الله ﷺ کان یرینا مصارع اهل بدر بالامس یقول هذا مصرع فلان غدا ان شاء الله فقال عمر فوالذی بعثه بالحق ما اخطؤا الحدود التی حد رسول الله ﷺ (مسلم جلد۲ ص ۳۸۷)

یعني حضرت عمر رضی الله عنه وائي چې بیشکه

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د شپې نه د بدر په میدان کښې ځنې ځایونه په نخښه کړل چې صبا له به فلانے کافر په دې ځائے قتل شي . ان شاء الله تعالی او فلانے په دغه ځائے باندې د دې نه پس حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چې زما دې د الله په ذات قسم وي چې رسول الله علیه السلام ئې په حقه سره پیغمبر رالیږلے دے او کوم کوم ځایونه چې رسول الله علیه السلام په نخښه کړي وو هغه بالکل صحیح وو . یعني صبا له هغه کافران هم په هغه ځایونو باندې مړه پراته وو .

(۷):رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت عمار رضی الله عنه ته وائي: **ویح عما تقتله الفئة الباغیة ۔** (بخاری جلد۱ ص ۳۹۴)چې تا به باغیان او خوارج شهید کوي . نو هم هغه وو چې باغیانو شهید کړو .

(۸):د دجال د زمانې قصه . نبي علیه السلام فرمائي: دغه وخت کښې به مقابلې د دجال ته لس کسان مجاهدین په آسونو سواره راشي . **قال رسول الله انی لاعرف اسماءهم واسماء اٰبائهم والوان خیولهم ۔**(الحدیث)رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: چې بیشکه خامخا زه پیژنم د هغوي نومونه او د هغوي د پلارانو نومونه او د هغوي د آسونو رنګونه.(مسلم شریف جلد ۲ ص ۳۹۲)



[**فائده**]:دجال کافر به څه وخت راځي او د دجال مقابلې ته لس کسان او د هغوي نومونه او د هغوي د پلارانو نومونه او د هغوي د آسونو رنګونه مبارك صلی الله علیه وسلم وائي زه پیژنم. نو دا د غیبو علم نه دے نو بیا څه دي .

(۹):**عن عبدالرحمٰن بن عائش یقول سمعت رسول الله ﷺ یقول رأیت ربّی فی احسن صورة قال فیم یختصم الملأ الاعلیٰ فقلت انت اعلم یا رب قال فوضع کفه بین کتفی فوجدت بردها بین ثدیّی فعلمت ما فی السمٰوٰت والارض ۔**

(ترمذی جلد۲ ص ۱۵۹ ، ابوالتفسیر سورة ص ، مصنف ابن ابی شیبة جلد۷ ص ۴۲۴ کنزالعمال جلد۱۵ ص ۳۸۷ ، ترغیب الترهیب جلد۱ ص ۱۵۹ ، مشکوٰة جلد۱ ص ۶۹ ، باب المساجد ، سنن الدارمی جلد۲ ص ۱۷۰ باب فی رؤیة الرب تبارك وتعالیٰ)

**ژباړه**:حضرت عبدالرحمٰن بن عائش رض وائي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي مبارك اوفرمائیل: چې ما الله عزوجل کما یلیق بشانه اولیدو په ډیر ښه صورت کښې او ماته ئې اوفرمایل چې دا خلق ولې لتاسره جګړه کوي. نو ما ورته اوویل چې یا رب تاته خو علم دے یعي ته خو عالم ئې په هر شئ نو رسول الله علیه السلام وائي چې الله خپل کف کما یلیق بشانه زما د دې دوو وږو تر مینځه کیښودو نو ما په خپله سینه کښې د هغه

یخوالے محسوس کړو نو ماته علم راغلو د هغه څه چې آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي .

**[فائده]**: نودلته صفا ذکر شو علم چې ماته الله جل جلاله علم راکړو د هغه څه چې په اسمانو کښې دي او هغه څه چې په زمکه کښې دي . نو معلومه شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم علم لري په غیبو باندې . بعضې حضرات وائي چې دا خو خوب دے نو جواب دا دے چې د پیغمبر علیه السلام خوب وحي وي .

(۱۰): اوبل روایت کښې الفاظ داسې دي: **فعلمت ما بین المشرق والمغرب** .یعني الله **جل** جلاله ماته علم راکړو د هغه څه چې د مشرق او د مغرب مینځ کښې دي . (ترمذي جلد ۲ ص ۱۵۹ ، ترغیب الترهیب جلد ۱ ص ۱۵۹ )

(۱۱): **عن طارق بن شهاب قال سمعت عمر یقول قام فینا النبی علیه السلام مقاما فأخبرنا عن بدء الخلق حتی دخل اهل الجنة منازلهم واهل النار منازلهم** ـ (بخاری جلد۱ ص۴۵۳)

**ژباړه**: حضرت طارق بن شهاب نه روایت دے چې ما د حضرت عمر رضی الله عنه نه اوریدلي دي ویل به ئې چې یوه ورځ مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو ځائے باندې اودریدو مونږ ته ئې خبر راکړو د هغه څه چې د مخلوق د پیدائش نه واخله بیا تر اهل جنتو چې جنت ته



ننوځي او اهل النار دوزخ ته ننوځي.

(۱۲): **لا تقوم الساعة الا فی یوم الجمعة** .(مشکوٰة جلد۱ ص ۱۱۹ باب الجمعة) چې قیامت به د جمعې په ورځ قائم کیږي.

(۱۳): **قال رسول الله صلی الله علیه وسلم أُعطیتُ مفاتیح الارض** ـ (مصنف ابن ابی شیبة جلد۷ ص ۴۱۱ باب ما اعطی الله محمد علیه السلام) **یعني** رسول الله علیه السلام وائي چې الله ماته کُنجیانې د زمکې راکړي دي .

(۱۴): **قال عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کل شئ اوتی نبیکم الا مفاتیح الخمس ان الله عنده علم الساعة** ـ (الایة) مصنف ابن ابی شیبة جلد۷ ص ۴۲۹ ـ

**ژباړه**: حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائي چې الله **جل** جلاله هر یو شئ ورکړے دے نبي ستاسو ته سوا د خمس مغیباتو علم . (فتح الباري جلد ۱۳ ص ۲۲۸)

**[فائده]**: خلاصه دا چې د غیبو علم الله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د هر څه نه ډیر ورکړے دے .

***

## (علم الغیب په بیان د اقوالو د علماؤ کښې)

(۱):د سورة شعراء د دې آیت واکثرهم کٰذبون. د دې په تفسیر کښې لیکي: ومحمد ﷺ لیس کذلك فانه یخبر عن مغیبات کثیرة لا تحصی۔(تفسیر مظهری جلد۷ ص ۹۰)یعني محمد صلی الله علیه وسلم د بیشمیره غیبو خبر ورکړے دے.

(۲):وقال حجة الاسلام الغزالی: اردت بقولی المؤمن یعلم الغیب ان بعض الاولیاء قد یعلمه الله ببعض المغیبات قبل منه ذلك لانه جائز عقلًا وواقع نقلًا ۔(فتوی حدیثیه لابن حجر الهیثمی رحمه الله ص ۲۱۰)یعني امام غزالي رحمه الله وائي که څوك وائي چې بعض اولیاء په بعضو غیبو علم لري نو وائي دا خبره به مونږ ورسره منو او دا جائز دي هم عقلاً او هم واقع دي نقلاً.

(۳)درالمختار کتاب النکاح کښې لیکلي دي: وان الرسل یعرفون بعض الغیب ۔(درالمختار جلد ۴ ص ۱۰۶) یعني رسولانو ته د بعضې غیبو علم شته.

(۴):علامه شامي رحمه الله په کتاب الحج کښې لیکلي دي: فرض سنة تسع وانما اخره ﷺ لعشر لعذر مع علمه ببقاء حیاته لیکمل التبلیغ ۔(فتوی شامی جلد۳ ص ۵۱۷ کتاب



الحج) یعني حج فرض شو په نهم کال د هجرت او رسول الله علیه السلام وروسته کړو لسم کال د هجرت ته د یو عذر د وجې سره د علم د رسول الله علیه السلام په خپل ژوند باندې چې تبلیغ پوره شي.

[**فائده**]:هیچا ته د دې علم نه وي چې زه به تر څو پورې ژوندے یم او دلته علامي شامي ذکر کړو چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ته په بقاء د خپل ژوند باندې علم وو نو دا علم شو په غیبو.

(۵)علامه ملا علي القاري ومشکوٰة جلد ۱ ص ۲۹ کتاب الصلوٰة باب المساجد فعلمت ما في السموٰت والارض .د دې حدیث په شرح کښې لیکي: فعلمت ای بسبب وصول ذلك الفیض ما فی السموات والارض یعنی ما اعلمه الله تعالیٰ مما فیهما من الملائکة والاشجار وغیرهما۔ (مرقاة جلد۲ ص۱۰۰) یعني ماته الله علم راکړو په سبب د دې فیض سره د هغه څه چې په اسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي . یعني الله نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته علم ورکړو د هغه څه چې په اسمانونو کښې او زمکو کښې دي د ملائکو نه او دوونونه او داسې نور شیانو علم الله ورکړو.

(۲)همدې حدیث په شرح کښې علامه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله لیکلي دي: پس دانستم هرچه در

آسمان ہا وہر چه در زمین بود عبارت است از حصول تمامهٔ علوم جزوی وکلی واحاطهٔ آن ۔ (اشعة اللمعات جلد۱ ص ۳۵۷)

[**فائده**]:د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت علم د الله تعالی ته جزئي دے او علم د رسول الله علیه السلام جزئي عطائي متناهي حادث دے. او علم د واجب تعالی کلي تفصيلي غير متناهي محيط ازلي قديم ذاتي دے . د دې دومره فرقونو نه پس چې اوس هم مونږ ته څوك د شرك نسبت کوي نو لوئ جاهل متعصب انسان دے .

***



## (علم الغيب د علماء ديوبند په اقوالو کښې)

علماء ديوبند هم د علم الغيب جزئي عطائي قائل دي:

(۱)اول:فتوی دارالعلوم دیوبند : **سوال :** زید کا عقیدہ ہے کہ آنحضرت ﷺ کو علم غیب تھا تو زید کافر ہوا یا نہ؟

**الجــواب:** کفر کا حکم اس شخص پر نہ کیا جائے گا۔ کیونکہ تاویل ممکن ہے کہ مراد اس کی بعض مغیبات کا علم ہو۔(فتویٰ دارالعلوم دیوبند جلد۱۸ ص۱۷۹)

یعني دزید عقیده ده چې نبي کریم علیه السلام ته علم الغیب شته نو آیا زید پدې خبره باندې کافر شو او کنه؟ نو جواب ورکوي چې نه په زید باندې د کفر حکم مه لږوی ځکه چې تأویل ممکن دے. چې مراد د زید به د بعضو غیبو علم وي .

[**فائده**]:او زمونږ هم دغه عقیده ده چې رسول الله علیه السلام ته د بعضو غیوبو علم الله ورکړے دے .

(۲)دوئم: حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله چې د دیوبند د علماؤ پیر او مرشد دے د ده فرمودات اشرف علي تهانوي رحمه الله راجمع کړي دي نو فرمائي چې : لوگ کہتے ہیں کہ علم غیب انبیاء واولیاء کو نہیں ہوتا۔ میں کہتا ہوں کہ اہل حق جس طرف نظر کرتے ہیں دریافت وادراک غیبات کا ان کو کہتے ہیں۔ اصل میں یہ علم حق ہے۔(امداد المشتاق ص۷۶)

(**۳**)درئم:**مفتي فريد رحمه الله په فتوىٰ فريديه كښې ليكلي دي**: د علم غيب دوه معنې دي ، يو علم مافوق الاسباب . يعني بغير د اسبابو نه علم لرل او دا شرعي او اصطلاحي معنىٰ ده . دوئم دا چې علم په هغه څيزونو چې د حواسو او عقل نه اوچت وي او ديته غيب لغوي وائي . علم غيب په اولى معنىٰ سره د الله تعالىٰ سره مختص دے ځكه چې د ممكن د ټولو كارونو ذات او صفات د الله تعالىٰ وركړه ده . او دوئم قسم انبياء عليهم السلام ته وركړے شوي خو په قدر د ضرورت نه دا چې ټوله په ټوله .

(فتوىٰ فريديه جلد ۱ ص **۸۲**)

[**فائده**]: همدا زمونږ عقيده ده چې الله د بعضو غيبو علم الله انبياؤ ته وركړي دي .

(**۴**)څلورم:**فتوى حقانيه** علم غيب كلي او علم محيط د الله خاصه ده له الله څخه پرته له هيچا سره هم علم غيب كلي او علم محيط نشته . همدارنګه نبي كريم صلى الله عليه وسلم هم علم غيب كلي نه درلود بلكه د ځينو مغيباتو علم الله تعالىٰ د وحي په ذريعې سره وركړي وو .

(فتوىٰ حقانيه جلد ۱ ص **۱۴۱**)

(**۵**)پنځم:**التكشف ، اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي**: قوله تعالىٰ : علمناه من لدنا علما . هو العلم باالاشياء المغيبة (التكشف ص **۴۰۵**)يعني دا علم وو د غيبو



په اشياوو .

(**۶**)شپږم: **بوادر النوادر : حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله ليكلي دي** :

الله تعالیٰ نے علوم مغیبہ میں سے محض مخلوق کو بعض علوم عطا فرمائے ہیں جن میں سب سے زیادہ حضرات انبیاء وملائکہ کو اور پھر ان سب میں بھی زیادہ حضور صلی اللہ علیہ وسلم کو علوم عطا فرمائے ہیں۔(بوادر النوادر ص ۶۷۰)

***

## (په علم الغيب باندې اعتراضات او د هغوي جوابات)

**[فائده]**:لوستونکو ځومره ايتونه چې په نفي د علم الغيب کښې دي هغه ټول په نفي د علم الغيب ذاتي کلي تفصيلي محيط غير متناهي کښې دي . يعني ځومره آيتونو کښې چې الله عزوجل نفي د علم الغيب د غيرالله نه کوي. هغه د علم الغيب ذاتي کلي محيط غير متناهي نفي ده. نه ده علم الغيب جزئي عطائي ځکه مخکښې ما درته ځومره ايتونه په اثبات د علم الغيب کښې پيش کړو . نو بيا به د هغوي څه جواب کوي .

(۱)**اول دليل**: چې د علم الغيب د انبياؤ منکرين پيش کوي. نو هغه دا ده: ولو کنت اعلم الغيب لاستکثرت من الخير۔ (سورة الاعراف پاره :۹ آيت :۱۸۸)ترجمه:که زه پوهيدلے په غيب باندې نو خامخا به ما ډير راجمع کړے وو ځان خپل ته له خير نه .

**الجواب**:نو دا آيت د قرآن کريم دے او په ايتونو مفسرين ښه پوهيږي نو اوس به مونږ د دې آيت په تفسير کښې مفسرين اوګورو . چې هغوي څه وائي . نو همدې آيت په تفسير کښې محمود الوسي الحنفي رحمه الله ليکلي دي چې دا آيت په مشکل شو سره د دې چې په صحيح آحاديثو سره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه ثابت دي چې مبارك



په ډيرو غيبو باندې خبر ورکړے دے او چې څنګه به رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي وو هم هغه شان به شو . نو بيا محمود الوسي جوابات کوي. ليکي: قيل المراد نفي استمرار علمه عليه السلام الغيب. يعني چا ويلي دي چې دلته نفي علم استمراري شوي ده . وقيل ال في الغيب للاستغراق وهو صلى الله عليه وسلم لم يعلم كل غيب. يعني چا بيا ويلي دي چې په الغيب کښې الف لام استغراقي دے يعني علم استغراقي نفي دے يعني علم الغيب کلي نفي دی او رسول الله عليه السلام په هر غيب باندې نه پوهيدو .

وقيل: المراد باالغيب وقت قيام الساعة . يعني چابيا ويلي دي چې مراد په غيب سره وقت د قيامت دے . وفي لباب التأويل للخازن في الجواب عن ذلك انه يحتمل ان يكون هذا القول منه عليه السلام على سبيل التواضع والآدب۔ (تفسير روح المعاني جلد۹ ص ۱۸۲) يعني په لباب التأويل للخازن کښې د دې نه جواب دا ورکړے ده چې احتمال لري چې دا خبره به رسول الله عليه السلام په طريقه د عاجزئ او د آدب کړے وي.

**دوئم جواب**: همدې آيت په تفسير کښې علامه صاوي رحمه الله ليکلي دي: ان قلت: ان هذا يشكل مع ما

تقدم لنا۔ انه اطلع علیٰ جمیع مغیبات الدنیا والآخرة ۔یعني که ته په سوال کښې اووائي چې دا آیت مشکل شو د هغه سره چې مخکښې مونږ ته بیان شو چې الله رسول الله علیه السلام ته اطلاع کړې ده په ټولو غیبو د دنیا او د آخرت نو جواب ورکوي علامه صاوي چې الجواب: انه قال ذلك تواضعًا . یعني دا خبره چې رسول الله علیه السلام کړې ده دا د عاجزئ په خاطر(تفسیر صاوي جلد ۲ ص ۷۳۳ ) یعني نبي کریم صلی الله علیه وسل چې ویلي دي که زه په غیبو پوهیدم نو ما به ځان ته ډیر خیر راجمع کړي وو. وائي دا رسول الله علیه تواضعًا دا خبره کړې ده .

**درئم جواب**: همدې آیت په تفسیر کښې علامه خازن د دې نه دوه جوابه کوي.یو جواب دا چې دا خبر تواضعًا نبي کریم علیه السلام کړی ده . او دوئم جواب دا دے چې دې وخت کښ لا الله د غیبو علم نه وو ورکړے کله چې بیا الله د غیبو علم ورکړو نو بیا نبي کریم علیه السلام د ډیرو خبرو د غیبو خبر ورکړے دي . داسې لیکي: قلت یحتمل ان یکون قاله ﷺ علیٰ سبیل التواضع والادب ۔او دوئم جواب: ویحتمل ان یکون قال ذلك قبل ان یطلعه الله علی الغیب فلما أطلعه الله اخبر به.(تفسیر خازن جلد۲ص ۱۶۷)

( ۲)**دوئم دلیل**: قل لا اقول لکم عندی خزائن الله



ولا اعلم الغیب ۔(سورة انعام آیت:۵۰)

**اول جواب**:دلته د علم الغیب کلي نفي ده نه د جزئي. ځکه علامه رازي رحمه الله لیکي: یدل علیٰ اعتراضه بأنه غیر عالم بكل المعلومات۔(تفسیر کبیر جلد۱ ص۴۳۶) د سورت بقره آیت نمبر ۳۴ . په تفسیر کښې ئې همدې آیت دا جواب کړے دي .

**دوئم جواب**:دلته چې رسول الله علیه السلام علم الغیب د خپل ځان نه نفي کړے ده دا تواضعًا: ځکه همدې آیت په تفسیر کښې علامه خازن رحمه الله لیکلي دي . وانما نفی عن نفسه الشریفة هذه الاشیاء تواضعًا لِلّٰهِ تَعَالٰی ۔(تفسیر خازن جلد۲ ص۱۷)

**درئم جواب**:دلته آیت کښې د علم الغیب ذاتي نفي ده نه د عطائي ځکه علامه شاه اسماعیل حقي رحمه الله لیکلي دي. همدې آیت په تفسیر کښې : ای ولا ادعی انی اعلم الغیب من افعاله تعالیٰ علیٰ انها عندی ولکن لا اقول لکم۔ فمن قال ان نبی الله لا یعلم الغیب فقد اخطأ فیها۔یعني که چا اوویل چې پیغمبر علیه السلام په غیبو نه پوهیږي دا سړے خطاء دے پدې خبره کښې .(تفسیر روح البیان جلد۳ ص ۴۷ . همدا شان دلته ذاتي علم نفي ده اوګوره همدې

آیت په تفسیر کښې ، تفسیر کبیر جلد ۴ ص ۵۳۸ .

**درئم دلیل**: وعنده مفاتیح الغیب لا یعلمها الا هو ۔
(سورۃ انعام آیت :۵۹)

**الجواب**: دلته هم نفي د کلي تفصیلي علم ده نه ده جزئي . همدې آیت په تفسیر کښې علامه رازي رحمه الله لیکلي دي . فکذلك ههنا الحق سبحانه لما کان عالما بجمیع المعلومات عبر عن هذا المعنٰی بالعبارۃ المذکورۃ ۔ واما علی التقدیر الثانی المراد منه القدرۃ علٰی کل الممکنات ۔ (تفسیر کبیر جلد۵ ص۱۰) ۔ دوئم همدې آیت په تفسیر کښې علامه خازن رحمه الله لیکلي دي. لان الله تعالٰی لما کان عالما بجمیع المعلومات عبر عن هذا المعنٰی بهذه العبارۃ وعلٰی التفسیر الثاني یکون المعنٰی عنده خزائن الغیب . والمراد منه القدرۃ الکاملة علٰی کل الممکنات. (تفسیر خازن جلد۲ ص۲۱ ۔ ۲۲) نو اوګوره وائي دلته مراد کل معلومات او کل ممکنات دي. نو د جزئي غیب نفي نه ده .درئم همدې آیت په تفسیر کښې علامه صاوي رحمه الله لیکلي دي: چې دلته کلي غیب مراد دي . داسې لیکي: وهو منصب علی الجمیع ۔ فلا ینافی ان بعض الانبیاء والاولیاء یطلعه الله علٰی بعض المغیبات الحادثة ۔
(تفسیر الصاوی جل۲ ص۵۸۶)



**څلورم دلیل**: قل لا یعلم من فی السمٰوات والارض الغیب الا الله (سورۃ نمل آیت:۶۵)

**الجواب**: دلته مراد د غیب نه هغه غیب ذاتي دي چې پې دلیل نه وي قائم او ما مخکښې اوویل چې غیب په دوه قسمه دے یو هغه چې پې دلیل قائم وي دا تر انبیاؤ او بعضې اولیاؤ پورې خاص دے. او بل هغه غیب چې پې دلیل نه وي قائم دا غیب خاص دے تر الله جل جلاله پورې. نو دلته د غیب نه مراد هغه غیب دي چې پې دلیل قائم نه وي . څکه همدې آیت په تفسیر کښې صاحب د تفسیر مدارك لیکي: الغیب وهو مالم یقم علیه دلیل ولا اطلع علیه مخلوق ۔ (تفسیر مدارك جلد۲ ص۶۱۷)

**پنځم دلیل**: یوم یجمع الله الرسل فیقول ماذا اُجبتم قالوا لا علم لنا انك انت علام الغیوب ۔ (سورۃ مائده آیت:۱۰۹)

نو منکر د علم الغیب وائي چې اوګوره پیغمبران خپله وائي چې مونږ سره علم نشته او عالم الغیب خو ته ئې.

**الجواب**: مفسرین وائي چې دا پیغمبران چې به په ورځ د قیامت الله ته وائي چې لا علم لنا . نو وائي دا په مقابله د علم د باري تعالٰی کښې . اول: همدې آیت په تفسیر کښې صاحب د تفسیر مدارك لیکي: قالوا ذلك تأدبا اي

علمنا ساقط مع علمك . يعني پيغمبران به دا خبره تأدبًا کوي چې علم زمونږ ساقط دے په مقابله د علم ستا کښې .(تفسير مدارك جلد ۱ ص ۴۸۴ ). دوئم :همدې آيت په تفسير کښې علامه صاوي رحمه الله ليکي: ای فعلمنا فی جانب علمك کل شئ لانك تعلم ما غاب عنا وما ظهر واما علمنا فهو قاصر علىٰ بعض ما ظهر ۔(تفسير صاوی جلد۲ ص ۵۵۰) دريم: همدې آيت په تفسير کښې علامه خازن رحمه الله ليکي: فعلىٰ هذا القول انما نفوا العلم عن انفسهم وان کانوا علماء لان علمهم صار کلا علم عند علم الله ۔(تفسير خازن جلد۱ ص ۵۳۷)څلورم: همدې آيت په تفسير قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليکي: وقيل لا علم لنا الی جنب علمك۔(تفسير مظهری جلد۳ ص ۲۰۲) پنځم :همدې آيت په تفسير کښې امام رازي رحمه الله ليکي: انهم لما علموا انه سبحانه وتعالىٰ عالم لا يجهل۔ حکم لا يسفه ۔ عادل لا يظلم علموا ان قولهم لا يفيد خيرًا ولا يدفع شرًا فرأوا ان الادب فی السکوت ۔ وفی تفويض الامر الی عدل الحی القيوم الذی لا يموت(تفسير رازی جلد۴ ص ۴۵۷)

**شپږم دليل**: وما ادری ما يفعل بی ولا بکم ۔(سورة الاحقاف آيت:۹)نو منکر د علم الغيب وائي چې اوګوره چې



پيغمبر عليه السلام وائي چې ماته پته نشته چې د ما سره به څه کيږي او د تاسو سره به څه کيږي .

**الجواب**:دا آيت منسوخ دے ځکه همدې آيت په تفسير کښې علامه خازن رحمه الله ليکي: فبين الله ما يفعل به وبهم وهذا قول أنس وقتادة والحسن وعکرمة قالوا انما قال هذا قبل ان يخبر بغفران ذنبه وانما أخبر بغفران ذنبه عام الحديبية فنسخ ذلك ۔(تفسير خازن جلد۴ ص ۱۳۱)

دوئم همدې آيت په تفسير کښې علامه صاوي ليکي چې دا آية منسوخ دے. او دوئم جواب دا کوي چې دا آيت په اول د اسلام کښې نازل دے ليکي: فهذه الاية نزلت فی آوائل الاسلام قبل بيان مآل النبی والمؤمنين والکافرين والا فما خرج ﷺ من الدنيا۔ حتی أعلمه الله فی القرآن ما يحصل له وللمؤمنين والکافرين فی الدنيا والآخرة ۔ اجمالا وتفصيلاً ۔(تفسير صاوی جلد۵ ص ۱۹۳۴) دريم جواب دا دے چې په تفصيل سره په هر يو شئ ماته معلومات نشته ځکه همدې آيت په تفسير کښې ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليکي: ومعنىٰ قوله ﷺ والله ما ادری وانا رسول الله ما يفعل بی ولا بکم انه قد علمنی الله علوم الاولين والآخرين ومع ذلك، ما ادری تفصيلًا ما يفعل بی ولا بکم فی جزاء کل عمل مخصوص۔

(تفسیر مظهری جلد۸ ص۳۹۶)۔دوئم همدې آیت په تفسیر کښې شاه اسماعیل حقي رحمه الله لیکي : ای وما ادری ما یفعل بی ولا بکم فی الدارین علی التفصیل اذ لا علم لی بالغیب کان الاجمال معلوماً۔(تفسیر روح البیان جلد۸ ص۶۳۰)

**اووم دلیل**:دوي د یو حدیث نه استدلال کوي په نفي د علم الغیب کښې چې یوې ښځې اوویل په اشعارو کښې چې : وفینا نبی یعلم ما فی غد ۔ فقال دعی هذه وقولی بالذی کنت تقولین۔(مشکوٰة جلد۲ ص۲۷۱)چې په مونږ کښې نبي دے چې پوهیږي په غیبو . نو نبي کریم علیه السلام ورته اوفرمایل چې دا خبره پریږده هغه مخکښې چې دې څه ویل هغه وایه .

**الجواب**:همدې حدیث په شرح کښې ملاعلي قاري الحنفي رحمه الله لیکلي دي : لکراهة نسبه علم الغیب الیه لا یعلم الغیب الا الله وانما یعلم الرسول من الغیب ما اخبره او لکراهة ان یذکر فی اثناء ضرب الدف واثناء مرثیة القتلیٰ لعلو منصبه عن ذلك (مرقاة جلد۶ ص۲۷۵) یعني نبي کریم علیه السلام دا نسبت چې د علم الغیب دې ښځې وکړو نبي کریم علیه السلام ته دا ئې بد وګڼړلو په غیبو د الله نه ما سوا څوك نه پوهیږي . او بیشکه چې د الله رسول په هغه غیبو



پوهیږي چې الله ورته خبر ورکړے وي . نو معلومه شوه چې علم الغیب جزئي عطائي د رسول الله علیه السلام سره شته. او دوئم د دې وجې نه چې دې ښځې تمبل وهلو نو نبي کریم علیه السلام دا بده وګڼړله چې د تمبل مینځ کښې داسې مه وایه . او دریم دا چې دې ښځو د خپلو پلارانو مدحه کوله هغه چې په بدر کښې شهیدان شوي وو . نو نبي کریم علیه السلام ورته اوویل چې داسې مه وایه ځکه چې د رسول الله مقام اوچت دے د هغه کسانو نه چې دوي ئې مدحه کوله.

**اتم دلیل**:دوي د فقهې د بعضې کتابو یو عبارت پیش کوي په نفي د علم الغیب جزئي کښې . هغه دا :تزوج رجل بشهادة الله ورسوله لم یجز بل قیل یکفر لانه اعتقد ان رسول الله یعلم الغیب .(درالمختار جلد۴ص۱۰۶کتاب النکاح)

**الجواب**:همدې عبارت نه لاندې شامي د تاتارخانیه نه نقل کوي .فرمائي : وفی الحجة ذکر فی لملتقط لا یکفر لان الاشیاء تعرض علیٰ روح النبی علیه السلام ون الرسل یعرفون بعض الغیب ۔(درالمختار جلد۴ ص۱۰۶کتاب النکاح)نو دلته ئې درته ذکر کړو چې انبیاء په بعضو غیبو پوهیږي. فتوی التاتارخانیه جلد۴ ص ۳۹ کتاب النکاح فصل في الشهادةفي النکاح ).

## (د نبراس دعبارت وضاحت)

**نهم**: بعضې د نبراس دا عبارت پيش كوي چې صاحب د نبراس ليكلي دي چې : والتحقيق ان الغيب ما غاب عن الحواس والعلم الضروری والعلم الاستدلالی وقد نطق القرآن بنفی علمه عمن سواه تعالیٰ فمن ادعی انه یعلمه کفر ومن صدق المدعی کفر واما ما علم بحاسة او ضرورة او دلیل فلیس بغیب ـ (النبراس ص ۵۷۴)

**الجواب**: صاحب د نبراس مولانا محمد عبد العزيز پرهاروي رحمه الله او سنے عالم دے تقريبًا د نن نه دوه دونيم سوه كاله مخكښې تير شوے دے . او ما درته هغه مفسرين په اثبات د علم الغيب كښې پيش كړل چې هغه د نن نه اته سوه نهه سوه زره كاله مخكښې تير شوي دي هغوي د قرآن كريم په تفسير كښې ليكلي دي وو چې د انبياؤ په علم ئې اطلاق د علم الغيب كړے وو . ايا معاذ الله هغه په دې اطلاق سره كافران دي ځكه د نبراس د عبارت نه دا معلوميږي چې فمن ادعیٰ انه يعلمه كفر.

**دوئم جواب**: د نبراس په عبارت د نبراس محاشي صاحب ښه پوهيږي د نبراس په همدې عبارت محاشي صاحب ليكي: والرسل يعرفون بعضج الغيب يعني رسولان په بعضې غيبو پوهيږي . (النبراس ص ۵۷۴ حاشيه ۳)



**درئم جواب**: چې تاته د نبراس هره خبره مقبوله ده نو نبراس خو د خضر عليه السلام په حالاتو كښې ليكي: ويحب الصوت الحسن ويلحقه في السماع رقص ووجد وربما بقى معلوبا يوما وليلة (النبراس ص۵۲۳) يعني خضر عليه السلام به ښكلے آواز خوښولو او د خضر عليه السلام په مجلس كښې به رقص او وجد وو. او تاسو خو رقص ته ګډا وائي او رقص صوفيه نه مني .

**څلورم جواب**: د نبراس عبارت خو شامل دے هم غيب حقيقي ته نو د غيب لغوي اضافي خو تاسو هم قايل يې . نو دا عبارت خو په تاسو هم رد دے .

**لسم**: بعضې حضرات وائي چې هر كله تاسو نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ته علم الغيب جزئي ثابتوي . نو دا خو په واسطه د وحي سره علم په غيبو راغلو نو بيا خو يوائې انبياؤ ته علم الغيب ثابت نشو بلكې ټولو خلقو ته علم الغيب ثابت شو ځكه نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ته علم الغيب راغلو په واسطه د وحي سره نو نبي اكرم صلى الله عليه وسلم د هغه غيبو خبر صحابه كرامو ته ئې وركړو نو صحابه وو پې علم راغلو او بيا صحابه وو تابعينو ته خبر وركړو نو تابعينو وربانديې علم راغلو الى ان تر دې چې اوس علماء د هغه غيبو خبر عوامو ته وركوي نو د عوامو وربانديې علم راغلو نو بيا خو ټولو خلقو ته علم الغيب

جزئي عطائي ثابت شو ځکه نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته هم په واسطه سره علم په غيبو راغلي وو او مونږ ته هم په واسطه سره چې هغه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او صحابه او نور خلق دي ؟

**الجواب**:هر چا چې دا اعتراض کړے دے نو دے د علم الغیب په تعريف خبر نه دے. دۀ ته علم الغيب تعريف ياد نه دے ځکه مونږ مخکښې د علم الغيب تعريف وکړو چې غيب ديته وائي چې د عقل او د حواسو نه پورته وي. علامه بيضاوي د سورت بقرې آيت ۳ يؤمنون بالغيب په تفسير کښې د غيب داسې تعريف ليکلے دے چې : والمراد به الخفي الذي لا يدركه الحس ولا تقتضيه بداهة العقل. يعني د غيب نه مراد هغه پټ شئ دے چې نه په حواسو سره معلوميږي او نه ئې بداهة العقل تقاضا کوي .او دوئم همدې آيت په تفسير کښې علامه رازي رحمه الله ليکلي دي : ان الغيب هو الذي يكون غائبا عن الحاسة .درئم همدې آيت په تفسير کښې علامه شاه اسماعيل حقي رحمه الله ليکلي دي . وهو ما غاب عن الحس والعقل غيبةً كاملةً. نو معلومه شوه چې غيب ديته وائي چې نه په عقل او نه په حواسو سره معلوميږي نو صحابه وو او نورو خلقو ته چې علم راغلے دے دا غيب نه دي چې مونږ اووايو دی ټولو



خلقو ته علم الغيب ثابت شو .ځکه دې نورو خلقو ته علم راغلے دے په حواسو سره او کوم شئ چې حاصل شي په حواسو سره هغه غيب نه وي .ځکه چې صحابه وو دا د غيبو خبر د نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه په خپلو غوږونو مبارکو سره اوريدلي دي او مونږ هغه د غيبو خبرو نه په کتابونو کښې په سترګو ليدلي دي نو سترګې او غوږ دواړه د حواسي خمسه وو نه دي . نو معلومه شوه چې ديته علم الغيب نه وائي .

(۱۱)**يوولسم**:بعضې حضرات اعتراض کوي چې هر کله نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته علم راغلو په غيبو په واسطه د وحي سره نو غيب خو غيب پاته نشو ځکه يو شئ غيب يعني پټ وو د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه بيا الله عزوجل د هغه شئ علم ورکړو نو بيا خو هغه غيب نشو هغه خو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته ښکاره او معلوم شو نو بيا څنګه تاسو نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته د علم الغيب نسبت کوي .

**الجواب**:نودا اوس هم غيب دے په نسبت مونږ ته نه رسول الله عليه السلام ته لکه الله تعالی عالم الغيب دے سره د دې چې الله نه يو شئ هم پټ نه دي . په سورت ال عمران آيت ۵ کښې الله فرمائي: ان الله لا يخفیٰ عليه شئ في

الارض ولا فی السمآء . ترجمه:بیشکه چې الله پټ نه دی په ده
هیڅ ثیز نه په زمکه کښې او نه په آسمان کښې . نو الله
عالم الغیب دے یعني الله په ټولو غیبو خبر دے نو دا غیب
په نسبت الله ته نه دے بلکې مونږ ته غیب دي . ځکه د الله
نه خو یو شئ هم غیب پټ نه دي . همدا جواب علامه شاه
اسماعیل حقي رحمه الله د سورت رعد آیت ۹ په تفسیر
کښې کړے دے .داسي لیکي: **قال بعضهم**: ما ورد فی القرآن
من اسناد علم الغیب الی الله **تعالیٰ** انما هو بالنسبة الینا اذ لا
غیب بالنسبة الی الله **تعالیٰ** . (روح البیان جلد۴ ص۳۴۶)

[**فائده**]:مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي
دي چې : فرمایا کہ مولانا شاہ عبد الرحیم صاحب رائپوری کا قلب بڑا نورانی تھا۔
میں اس کے پاس بیٹھنے سے ڈرتا تھا کہ کہیں میرے عیوب منکشف نہ
ہو جائیں۔(ارواح ثلاثہ ص۲۹۱)

[**فائده**]:د شاه عبدالرحیم صاحب یو مرید وو په
نامه د عبدالله خان ان کی حالت یہ تھی کہ اگر کسی کے گھر میں حمل ہوتا
اور وہ تعویذ لینے آتا تو آپ فرمادیا کرتے تھے کہ تیرے گھر میں لڑکی ہوگی یا لڑکا۔
اور جو آپ بتلا دیتے تھے وہی ہوتا تھا۔(ارواح ثلاثہ ص۱۲۸ حکایت نمبر ۱۴۶)

***



## (پنځمه مسئله د حاضر او ناظر )

رحیم الله د خپل کتاب په صفحه ۹۲ نه واخله تر
صفحه ۹۲ پورې دا خبره لیکلې ده چې سیفیان بریلویان د
نورو بریلویانو په شان د حنفي فقهي په مقابله کښې نبي
علیه السلام ته حاضر او ناظر وائي .

**الجواب**:د دې مسئله مخکښې هم ما وضاحت ذکر
کړے دے چې سیفیان نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته
حاضر او ناظر نه وائي بلکې د سیفیانو حضراتو عقیده په
دې مسئله کښې دا ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم
روح متشکل د جسم بعض د خیر مجالسو ته باذن الله
حاضري کولے شي دا عقیده د ټول اهل سنت والجماعت ده
او هم دغه عقیده د علماء دیوبند ده مخکښې مې هم حوالې
ذکر کړې وې اوس به بیا ان شاء الله ذکر کړم چې علماء
دیوبند هم دغه عقیده ساتي کومه چې ما ولیکله. او دوئم د
سیفیانو د علم الغیب په بعض اشیاؤ چې دوي مني غیرالله
ته دا صراحتًا رد دے په حاضر او ناظر باندې ځکه چې
حاضر او ناظر دواړه د اسم فاعل صیغې دي چې ورنه جمله
اسمیه جوړیږي او جمله اسمیه په دوام او استمرار دلالت
کوي . او دریم رحیم الله چې کومې رسالې ذکر کړې دي
مثلاً حاضر او ناظر محبوب ، معروضات حاذق ، انوار
رضا. مقیاس حنفیت ، نو دا خبره یاد ساتئ چې د دې رسالو

هیڅ تعلق هم د حضرت پیر سیف الرحمٰن رحمه الله سره نشته دا د دوي خبرې دي او هم د دوي پورې تعلق لري سیفي هغه سیفي دے چې د حضرت پیر سیف الرحمٰن رحمه الله عقیده ولري باقي سیفیت یو لوئ نسبت دے نو هر چرته چې یو ملا خپل شخصي نظر ذکر کړي وي نو هغه به د حضرت مبارك رحمه الله او د نورو سیفیانو سره هیڅ تعلق نه وي دا د هغه ملا خپل شخصي نظر دے او نه ئې په مونږ دفاع لازمه ده .

اوس دغه عقیده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د بل پیغمبر یا یو ولي روح متشکل د جسم بعضې مجالسو د خیر ته باذن الله حاضري دیشي ممکن دی بلکې واقع او ثابت دي . زه صرف د علماءِ دیوبند یو څوعبارات ذکر کوم :

(۱):حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله دهٔ اوفرمایل چې زه اکثر ګورم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راشي ما باندې څادر اچوي او دا حالت ما باندې په خوب او ویښه راځي . *میں اکثر دیکھتا ہوں کہ حضرت ﷺ تشریف لاتے ہیں اور اپنی رداء مبارک میں مجھے ڈھانپ کر کبھی اندر لاتے ہیں کبھی باہر لے جاتے ہیں۔ سوتے اور جاگتے اکثر اوقات یہی منظر آنکھوں کے سامنے رہتا ہے۔(ارواح ثلاثہ ص۱۷۷)*



(۲):انور شاه الکشمیري رحمه الله لیکلي دي چې : د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویښه لیدل ممکن او ثابت دي او انکار ورڅخه جهل دي :**ویمکن عندی رؤیته ﷺ یقظة ۔ فالرؤیة یقظة متحققة وانکارها جهل۔** (فیض الباری جلد۱ ص ۲۹۲)

(۳):حاجي امداد الله مهاجر مکي رحمه الله لیکلي دي چې: *اور یارسول اللہ ایک ہزار بار پڑھی ان شاء اللہ بیداری یا خواب میں زیارت ہوگئی۔(کلیات امدادیہ ص۴۵)*

(۴)شیعه ګانو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم حاضرولو وعده . مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله شیعه ګانو سره بحث راغلو هغوي ورته ویل چې هغه وخت به مونږ له شیعه توب څخه توبه اوباسو چې تاسې مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دیدار مخامخ راکړي نو مولانا نانوتوي رحمه الله تیار شو وې فرمایل چې زه درباندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت مخامخ کوم خو لیکن شیعه ګان د خپلې وعدې څخه وروستو شول. اوګوره ارواح ثلاثه ص ۱۹۷ حکایت نمبر ۲۲۵ .

(۵):شاه ولی الله رحمه الله فرمائي چې زه د مازیګر لمونځ څخه بعد ناست ووم او متوجه الی الله ووم نو اچانك د رسول الله صلی الله علیه وسلم روح ظاهر شو .وبینا انا

جالس ذات یوم بعد صلوٰة العصر متوجها الی الله اذ ظهرت
روح النبی ﷺ ۔ (حجة الله البالغة جلد۱ ص ۳۹)

(۶): حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي چې یو ځل
شاه ولی الله رحمه الله مرض موت باندې مبتلا شو نو د
خپلو زامنو په حقله خفه وو چې زه مړ شم نو زما زامن
ورکوټي دي نو هغه وخت کښې ورته رسول الله مبارك
راغلو ورته اوویل خفه کیږه مه دا چې څنګه ستا زامن دي
دغسې زما ځامن دي نو بیا د شاه صاحب اطمینان وشو.

عبارت: حضرت گنگوہی فرماتے تھے کہ ایک مرتبہ شاہ ولی اللہ رحمہ اللہ جب
مرض موت میں مبتلا ہوئے تو بہ مقتضائے بشریت بچوں کی صغر سنی کا تردد تھا اسی
وقت جناب رسول اللہ ﷺ کو دیکھا کہ آپ تشریف لائے اور فرماتے ہیں کہ تو
کاہے کا فکر کرے ہے جیسی تیری اولاد ویسی ہی میری پھر آپ کو اطمینان ہو گیا۔
(ارواح ثلاثہ ص ۲۱ : حکایت نمبر ۵)

(۷): حاجي امداد الله مهاجر مکي رحمه الله لیکلي
دي چې: کہ مجلس مولد میں حضور پرنور ﷺ رونق افروز ہوتے ہیں اس
اعتقاد کو کفر وشرک کہنا حد سے بڑھنا ہے کیونکہ یہ امر ممکن ع عقلاً ونقلاً بلکہ بعض
مقامات پر اس کا وقوع بھی ہوتا ہے۔ (کلیات امدادیہ ص ۷۹)

(۸): مولانا حبیب الله صاحب فرمائي چې دارالعلوم
کښې د مولوي احمد حسن صاحب او د مولوي فخر الحسن



صاحب څه اختلافات راغلو او دا اختلافات ورځ په ورځ
زیاتیدل ... نو یوه ورځ مولانا رفیع الدین صاحب د سهار
لمونځ څخه بعد مولانا محمود الحسن رحمه الله ئې خپلې
کمرې ته را داخل کړو او موسم د سختې یخنې وو نو مولانا
رفیع الدین صاحب مولانا محمود الحسن صاحب ته اوویل
چې د خبرو څخه مخکښې زما مخ ته وګوره چې دا سخته
یخنۍ کښې ما باندې خولې راروانې دي. د دې وجه دا ده
چې اوس ماته مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله په جسد
عنصري سره ماته راغلو او راته اوویل چې مولانا محمود
الحسن ته اووایه چې دې اختلافاتو کښې حصه مه اخله.

اصل مختصر عبارت: کہ ابھی ابھی مولانا نانوتویؒ جسد عنصری کے ساتھ
میری پاس تشریف لائی تھی جس سے ایک دم پسینہ پسینہ ہو گیا اور میر البادہ تر بتر
ہو گیا اور یہ فرمایا کہ محمود الحسن کو کہہ دو کہ وہ اس جھگڑہ میں نہ پڑے۔ (ارواح
الثلاثہ ص ۱۸۳ حکایت نمبر ۲۴۵)

(۹): مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله د جلال
الدین السیوطی رحمه الله خبره کوي چې هغه به رسول الله
مبارك په ویښه هم لیدو. مختصر اصل عبارت: ان کو حضور
ﷺ کی رویت بیداری میں بھی ہوتی تھی۔ (الکلام الحسن ص ۱۷۵)

(۱۰): مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله نه سوال
شوے دے چې ارواح دنیا ته راتلے شي نو جواب ورکوي چې

هو کله نا کله قتال او جهاد کښې شرکت هم کوي .مختصر اصل عبارت: ارواح کبھی اس عالم میں آجاتی ہیں۔(الکلام الحسن ص۳۹)

(۱۱):اشرف علی تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې:
روح کا کسی جگہ موجود ہونا۔ روح کا بعد مفارقت عالم دنیا کے گو اصلی مقام دوسرا ہے۔ لیکن اگر اذن الٰہی کسی وقت پھر بطور خرق عادت کے اس عالم میں آجائے تو ممکن ہے جیسا حضور ﷺ کی روح مبارک کا میدان قتال میں تشریف لانا دیکھا گیا اور چوں کہ اسکے امتناع کی کوئی دلیل نہیں۔ لہٰذا اس میں تاویل اور صرف الی المجاز کی ضرورت نہیں محمول حقیقت پر ہوگا۔(التکشف ص۶۰۰)

(۱۲):بل ځاي مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې : اس سے معلوم ہوا کہ بزرگوں کی روح اگر کسی جگہ متجسم ہو کر نظر آئے ممکن ہے۔(التکشف ص۶۴۹)

(۱۳):مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې: حدیث کی دلالت اس پر ظاہر ہے کہ موسیٰ علیہ السلام اور یونس علیہ السلام آپ کو نظر آئے یہ تمثیل روحی تھا۔ کیوں کہ جسد تو ان حضرات کا قبور میں تھا۔(التکشف ص۶۸۲)

(۱۴):په فتوی حقانیه کښې سوال شوے دے:
سوال: ځیني صوفیاء کرام وائي چې د ذکر په مجلس کښې د مشائخو ارواح راځي او له دې څخه د ارواحو تجسد څرګندیږي دا عقیده درلودل صحیح دي او کنه ؟ الجواب: د



انبیاؤو او اولیاؤو ارواح دنیا ته راتلي شي . مولانا رشید احمد ګنګوهي صاحب قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله او شاه ولي الله دهلوي رحمه الله پخپلو خپلو تصانیفو کښې د دې جواز لیکلي دي . (فتویٰ حقانیه جلد ۲ ص۸۵)

(۱۵):په مفتي محمد فرید رحمه الله باندې سوال شوے چې آیا د اولیاء کرامو ، علماء عظامو یا نورو انسانانو روحونه دنیا ته واپس راتللے شي؟الجواب:مولانا رشید احمد ګنګوهي . قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله، امام شاه ولی الله او امام سیوطي رحمه الله په خپلو کتابونو کښې جواز لیکلي یعني د الله تعالی په اجازت سره راتللی شي او که د حوالو ضرورت وي نو بیا رجوع وکړي. (فتویٰ فریدیه جلد ۱ ص ۳۸۸)

(۱۶):مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې : فرمایا کہ مولوی قلندر صاحبؒ کو ہر روز زیارت رسول اللہ ﷺ کی ہوتی تھی ایک دن کسی جمّال کے لڑکے کو کہ سید تھا طمانچہ مارا اس دن سے زیارت منقطع ہوگی مدینہ منورہ کے مشائخ سے رجوع کیا۔ انہوں نے ایک زن ولیہ مجذوبہ کا حوالہ فرمایا جب وہ عورت مسجد نبوی میں آئی مولانا نے عرض کیا سنتے ہی جوش میں آئی اور مولانا کا ہاتھ پکڑ کر کہا شف ھذا رسول اللہ ﷺ (مولانا نے بیداری میں چشم ظاہر سے زیارت کی)(امداد المشتاق ص۹۸)

(۱۷): حضرت شاہ عبد الرحیم صاحبؒ ایک مرتبہ سلطان نظام الدین

اولیاء کے مزار پر مراقب تھے کہ حضرت نظام الدین الاولیاء کی روحانیت متشکل ہوکر سامنے آئی۔ حضرت شاہ صاحب نے پوچھا کہ سماع کے بارے میں آپ کیا فرماتے ہیں؟ فرمایا کہ آپ شعر کے بارے میں کیا فرماتے ہیں۔ (حضرت تھانویؒ کے پسندیدہ واقعات ص۱۵۱)

خلاصه دا چې بعضې مواضعو ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم روح متشکل د جسم حاضري کولے شي باذن الله . په دې مسئله الحافظ جلال الدين السيوطي کتاب جوړ کړے دے په نامه د تنوير الحلك فی امکان رؤية النبي والملك . الحاوي للفتاویٰ جلد ۲ ص ۲۴۲ .( وګورئ فتوی حديثيه ص ۳۹۱ : ۳۹۴ . اخبار الاخيار ص ۳۷ :۳۸ . روح المعاني جلد۲۳ ص ۲۰ روح المعاني جلد ۲۲ ص ۲۹۲ : ۲۹۱ . ۲۹۰ ، روح البيان جلد ۹ ص ۱۴۰ روح البيان جلد ۷ ص ۴۲۰ الاعلام ص ۲۳ الحديقة الندية جلد ۱ ص ۳۵۴ ).

***



## (شپږمه مسئله استمداد)

رحيم الله مفتري ليکلي دي چې سيفيان بريلويان غيرالله ته باذن الله مشکل کشا وائي او وائي چې غيرالله په ما فوق الاسباب کښې باذن الله مدد کولے شي . د رحيم الله کتاب ص ۹۶ .

**الجواب**:د سيفيانو عقيده د استمداد په مسئله کښې دا ده چې انبياء عليهم السلام او اولياء الله د خپلو محبينو سره باذن الله مدد کولے شي خو دا مدد هم حقيقت کښې من الله وي انبياء عليهم السلام چې مدد کوي نو معجزةً او اولياء الله چې مدد کوي نو کرامتًا مونږ غيرالله په مدد کښې نه د مدد کښې خالق ګڼو او نه غيرالله مستقل ګڼو. علامه حمدالله جان داجوي رحمه الله ليکلي دي: واما الشرك فی الاستعانة بان يطلب احد العون من الغير فان کان يعتقد ان ذلك الغير مستقل وخالق للعون فهو شرك فی الصفات والا فهو ليس بشرك۔ (البصائر ص۲۰)

علماؤليکلي دي چې توسل ، استمداد ، تشفع، استغاثة دا ټول يو دي : علامه محمد زاهد الکوثري المصري رحمه الله ليکلي دي چې : د توسل په باب کښې : ولابأس ان نزيد هنا کلمة فی الاستغاثة والاستعانة والکل من واد واحد۔ (مقالات کوثری ص۲۹۸) يعني هيڅ باك نشته چې زيات

کړو مونږ دلته يو کليمه په استغاثه او استعانة کښې او دا تهول يعني توسل استعانة او استغاثه د يو وادي څخه دي . نو معلومه شوه چې توسل مني نو استعانة او استغاثه به هم مني ځکه چې دا ټول يو شئ دي . وګوره حجة الله علي العالمين ص **۵۷۹** مونږ دا استعانة د انبياؤ داسې ګڼو لکه توسل صرف يو ذريعه ده نور حقيقت کښې مشکل اسانونکے صرف الله عزوجل دے مونږ د غير الله څخه بچې نه غواړو بلکې مونږ د انبياؤ او اولياؤ په توسل د الله څخه بچي غواړو.

دلايل په استمداد بالانبياء والاولياء ما په مجموعه الرسائل کښې په تفصيل سره بيان کړي دي دلته به هم بطور نمونه يو څو ذکر کړم .

(۱): **قال الامام الغزالی رحمه الله من يستمد فی حياته يستمد بعد وفاته** ۔(اشعة اللمعات جلد۱ ص ۷۶۲: قطب الارشاد ص ۳۹۵۔ مشکاة باب زيارة القور جلد۱ ص ۱۵۴ حاشيه ۲۔ ابوداؤد جلد۲ ص ۴۶۱ حاشيه ۴)

(۲): **واما الاستمداد باهل القبور فی غير النبی ﷺ او الانبياء فقد انکره کثير من الفقهاء واثبته المشائخ الصوفية وبعض الفقهاء** ۔ (حاشية المشکاة جلد۱ ص ۱۵۴ باب زيارة القبور ۔ ابوداؤد جلد۲ ص ۴۶۱ باب فی زيارة القبور ۔ اشعة اللمعات جلد۱ ص ۷۶۲ ۔ قطب الارشاد)



[**فائده**]: د دې عبارت څخه معلومه شوه چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم او داسې نور پيغمبرانو نه په استمداد کښې اختلاف نشته او اختلاف د دې نه علاوه وو کښې دے چې اکثره فقهاء ورڅخه انکار کوي او صوفيه او بعض صوفيه ئې اثبات کوي .

(۳): علامه ابن الحجاج المالکي رحمه الله ليکلي دي چې : **فمن توسل به او استغاث به او طلب حوائجه منه فلا يُردّ ولا يخيب لما شهدتُ به المعاينة والاثار** ۔ (المدخل جلد۱ ص ۲۱۸)

(۴): د سورة هود آيت نمبر **۴۴** په تفسير کښې علامه حقي رحمه الله ليکلي دي چې : **اذ الانبياء عليهم السلام احياء عند ربهم وکذا کمل الاولياء والشيطان الرجيم غفل عن هذا فنکل عن قبول الحق الصريح ومثله من ينکر الاولياء او زيارة قبورهم والاستمداد منهم نسال الله العصمة ونعوذ به من الخذلان** ۔ (روح البيان جلد۴ ص ۱۸۱)

(۵): علامه سبکي رحمه الله ليکلي دي چې : **اعلم انه يجوز ويحسن التوسل والاستعانة والتشفع بالنبی ﷺ الی ربه سبحانه وتعالٰی وجواز ذلك وحسنه من الامور المعلومة لکل ذی دين المعروفة من فعل الانبياء والمرسلين وسير السلف الصالحين والعلماء والعوام من المسلمين ولم ينکر**

احد ذلك من اهل الاديان ولا سمع به فی زمن الازمان حتی جاء ابن تيميه فتكلم فی ذلك شفاء السقام فی زيارة خير الانام ص ۳۵۷۔

د دې عبارت څخه معلومه شوه چې توسل . استعانة او تشفع باالانبياء جائز ده باالاتفاق او انكار د دې څخه ابن تيميه وكړو . اوس هم چې څوك د دې څخه انكار كوي هغه ټول د ابن تيميه اولاد دے .

(۶):علامه سمهودي رحمه الله او علامه يوسف النبهاني رحمه الله او علامه زاهد الكوثري او علامه سبكي رحمه الله دا ټول وائي چې توسل استعانة استغاثه او تشفع يو شئ دے . د دې په تعبير كښې فرق نشته . وفاء الوفا جلد ۴ ص ۲۲۲ حجة الله علي العالمين ص ۵۷۹ . شفاء السقام ص ۳۵۷ . مقالات كوثري ص ۲۹۸ .

(۷):قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د سورة بقرة ايت نمبر ۱۵۴ په تفسير كښې : وقد تواتر عن كثير من الاولياء انهم ينصرون اولياء هم يدمرون اعداء هم ويهدون الى الله تعالىٰ من يشاء الله تعالىٰ ۔ (تفسير مظهری جلد۱ ص ۱۵۲ ۔ البصائر ص ۱۶)

**[تبصره]**:نو رحيم الله ته وايو چې دلته دا اولياء څنګه مدد كوي نو ضرور به وائي چې كرامتاً نو زمونږ خبره



شوه .

(۸):علامه سبكي رحمه الله ليكلي دي چې : لقد حصل من ائمة الدين وجلة علمائه۔ طلب حاجات من رسول الله ﷺ مما يعلمون ويعتقدون ان طلبها منه يقصد به حصولها من الله بسبب المصطفىٰ عليه السلام ۔ (شفاء السقام ص ۳۰۵)

(۹):علامه سمهودي رحمه الله ليكلي دي چې : اعلم ان الاستعانة والتشفع باالنبي عليه السلام وبجاهه وبركته الى ربه تعالىٰ من فعل الانبياء والمرسلين وسيرة السلف الصالحين ۔ (وفاء الوفا جلد۴ ص ۲۲۱)

(۱۰):واستدل القائلون بجواز الاستغاثة باالانبياء والصالحين بادلة كثيرة ۔ (الموسوعة الفقهية جلد۴ ص ۲۴)

(۱۱):د سورت القصص آيت نمبر ۸۷ په تفسير كښې علامه صاوي رحمه الله ليكلي دي چې : فحينئذ فليس فی الاية دليل على ما زعمة الخوارج من ان الطلب من الغير حيا وميتا شرك فانه جهل مركب الخ۔ (تفسير صاوی جلد۴ ص ۱۵۵۰)

(۱۲):وعن منصور بن عبدالله قال: سمعت ابن الجلاء يقول: دخلت مدينة الرسول ﷺ وبی شئ من الفاقة

فتقدمت القبر فسلمت علی النبی ﷺ وعلیٰ ضجیعیه ابی بکر وعمر رضی الله عنهما ثم قلت یا رسول الله بی فاقة وانا ضیفك اللیلة ثم تنحیت ونمت بین القبر والمنبر واذا انا بالنبی ﷺ قد جاء نی ودفع الیٰ رغیف خبز فاکلت نصفه فانتبهت فاذا فی یدی نصف الرغیف: ومن تتمة القصة ان قال ابن الجلاء انه دام بعد ذلك اربعین سنة لم یحتج فیها الی طعام الدنیا ولا الی شرابها ببرکة تلك الأکلة۔ العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۲ حجة الله علی العالمین ص ۵۷۲۔

نو زه رحیم الله ته دا وایم چې دلته خو ذکر شو چې ابن الجلاء رحمه الله راځي روتۍ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه غواړي او بیا ئي مشکل هم حل کیږي نو ایا دا ابن الجلاء رحمه الله معاذ الله مشرك وو.

(۱۳): علامه سید جلیل ابي الخیر رحمه الله فرمائي چې : دخلت مدینة النبی ﷺ وانا بفاقة فاقمت خمسة ایام ما ذقت ذواقًا فتقدمت الی القبر وسلمت علی النبی ﷺ وعلی ابی بکر وعمر رضی الله عنهما وقلت: انا ضیفك یا رسول الله وتنحیت ونمت خلف القبر فرأیت فی المنام النبی ﷺ وابابکر عن یمینه وعمر عن شماله وعلی بین یدیه فحرکنی وقال: قم قد



جاء رسول الله ﷺ قال: فقمت الیه وقبلت بین عینیه فدفع الی رغیفا فأکلت نصفه وانتبهت واذا فی یدی نصف رغیف۔

(العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۲ حجة الله علی العالمین ص ۵۷۲)

یعني علامه سید جلیل ابي الخیر رحمه الله فرمائي چې یو ځل زه مدینه منوره ته داخل شوم ډیر وږے ووم پنځه ورځو نه مو ډوډۍ نه وه خوړلي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر مبارك ته ورنزدې شوم سلام مې وکړو په نبي کریم صلی الله علیه وسلم او په ابوبکر رضی الله عنه او په عمر رضی الله عنه باندې او ما ورته اوویل چې زه ستاسو میلمه یم او بیا راوروسته شوم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم قبر مبارك شاته اوده شوم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مې په خوب کښې وکتو ښي طرف ته ئې ابوبکر رضی الله عنه وو او چپ طرف ته ئې عمر رضي الله عنه وو او مخامخ ورته حضرت علي رضی الله عنه وو نو زه حضرت علي رضی الله عنه او خوزولم چې پاڅه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم راغلو زه ورپاڅېدم په تندي مو ښکل کړو نو ماته ئې یوه روټۍ راکړله نو نیمه ما اوخوړه چې بیا زه د خوب څخه رابیدار شوم هغه نوره نیمه ډوډۍ زما په لاس کښې وه .

(۱۴): علامه محمد زاهد الکوثري رحمه الله لیکلي

دي چې : والمراد ان الاستغاثة بالنبی ﷺ واللواذ بقبره مع الاستعانة به كثير على اختلاف الحاجات وقد عقد الأئمة لذلك بابا وقالوا ان استعانة من لاذ بقبره وشكى اليه فقره وضره توجب كشف ذلك الضر باذن الله تعالىٰ ۔ (العقيدة وعلم الكلام ص٣٦٧)

(۱۵): يوسف بن علي رحمه الله فرمائي چې په باندې ډير قرضونه راغلو نو زه بيا راغلم مدينه منوره ته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم قبر مبارك ته ما ورته فرياد وكړو د خپل قرض نو بيا چې زه د خوب څخه رابيدار شوم الله جل جلاله يو كس راته مقرر كړو چې بيا هغه كس زما قرضونه ادا كړل . اصل عبارت : فمن ذلك ما اخبر به يوسف بن على قال: ركبتنى ديون فقصدت الخروج من المدينة الشريفة ثم جئت الى قبر رسول الله ﷺ فاستغثت به فى وفاء دينى فنمت فرأيت النبى ﷺ فاشار على بالجلوس فاستيقظت فقيض الله لى من وفى دينى العقيدة وعلم الكلام ص ٣٦٧ ۔

(۱۶) وذكر ابن عساكر فى تاريخه ان ابا القاسم بن ثابت البغدادىّ رأى رجلًا بمدينة النبى ﷺ أذّن الصبح عند قبر رسول الله ﷺ فقال فيه الصلاة خير من النوم ۔



فجاء خادم من خدم المسجد فلطمه حين سمع ذلك منه فبكىٰ واستغاث بالنبى ﷺ وقال: يا رسول الله فى حضرتك يفعل بى هذا الفعل قال: فضر به الفالج فى الحال وحمل الىٰ داره فمكث ثلاثة أيام ثم مات ۔ (العقيدة وعلم الكلام ص٣٦٧)

(۱۷): علامه يوسف النبهاني رحمه الله ليكلي دي چې: قال الامام ابو بكر بن المقرى كنت انا والطبرانى وابو الشيخ فى حرم رسول الله ﷺ وكنا علىٰ حالة واثر فينا الجوع وواصلنا ذلك اليوم فلما كان وقت العشاء حضرت قبر النبى فقلت يا رسول الله الجوع الجوع وانصرفت فقال لى ابو القاسم اجلس فاما ان يكون الرزق اوالموت قال ابو بكر فنمت انا وابو الشيخ والطبرانى جالس ينظر فى شئ فحضر بالباب علوى فدق ففتحنا له فاذا معه غلامان مع كل واحد منهما زنبيل فيه شئ كثير فجلسنا واكلنا وظننا ان الباقى يأخذه الغلام فولى وترك عندنا الباقى فلما فرغنا من الطعام قال العلوى يا قوم اشكوتم الى رسول الله ﷺ فانى رأيت رسول الله ﷺ فى المنام فامرنى ان أحمل بشئ اليكم ۔ (حجة الله على العالمين فى معجزات سيد المرسلين ص ٥٤٢)

(۱۸): ابو العباس احمد رحمه الله فرمائي چې په

مدینه منوره کښې یوه نیکه ښځه وه چې کله به ورته یو حادثه رامخې ته شوه نو دې به خپل لاسونه په سترګو کېښودو او په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې به ئې فریاد استغاثه وکړه چې کله دا ښځه وفات شوه نو چا په خوب کښې وکتله ورته وې فرمایل چې نکیرین دې وکتل نو دې ورته اوویل چې ماته قبر کښې نکیرین راغلو نو ما په سترګو لاس کړو او یا محمد اواز مو وکړو بیا چې مو د سترګو څخه لاس لرې کړو نو نکیرین بیا نه ولي . وګوره العقیدة وعلم الکلام ص ۳۲۸ .

(۱۹): علامه محمد زاهد الکوثري رحمه الله دا هم لیکلي دي چې: ان الاستغاثة من بعید به ﷺ کالاستغاثة به عند قبره ﷺ ۔ العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۸ ۔ یعني استغاثه د لرې نه په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې پشان د استغاثه ده په نبي کریم صلی الله علیه د قبر سره .

(۲۰): عن الشیخ احمد الرفاعی رحمه الله انه قال: من کانت له حاجة فلیستقبل عبادان نحو قبری ویمشی۔ سبع خطوات ویستغیث فان حاجته تقضی۔ (العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۸)

(۲۱): وسافر بعض الفقراء لقصد زیارة قبر النبی ﷺ فتاه فی الطریق فاستغاث بالنبی ﷺ فظهرت له قبة



العباس رضی الله عنه وبینه وبین الموضع المذکور یومان ۔ (العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۸)

(۲۲): قال ابا الحسن العسقلانی: رکبنا البحر فی طلب جده فهاج علینا ورمینا ما معنا فیه واشرفنا علی التلف فجعلنا نستغیث بالنبی ﷺ ونحن نقول: وا محمداه وکان معنا رجل مغربی صالح فقال لنا: ارفقوا بالحجاج انکم سالمون الخ ۔ (العقیدة وعلم الکلام ص ۳۶۹)

**[فائده]**: دا مسئله د محمد زاهد الکوثري ډیره ښائسته بیان کړې ده العقیدة وعلم الکلام وګورئ . حجة الله علي العالمین وګورئ . او زما کتاب مجموعه رسائل کښې هم دا مسئله په تفصیل سره ذکر ده وګوره .

(۲۳): علامه ابن کثیر رحمه الله ذکر کړي دي چې د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه یو ځل د حج لاره ورکه شوه نو د اواز وکړو چې یا عباد الله دلونی علی الطریق . نو لاره ئې سمه پیدا کړه . وګورئ البدایة والنهایة جلد ۲ ص ۷۷۲ . ترجمه د امام احمد بن حنبل رحمه الله .

(۲۴): علامه خازن رحمه الله د سورة یوسف ایت نمبر ۴۲ په تفسیر کښې لیکلي دي چې : فان الاستعانة بالمخلوق فی دفع الضرر جائزة ۔ (تفسیر خازن جلد۳ ص ۲۲)

(۲۵):علامه شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله ليكلـي دي چـې : یکی از مشائخ گفته دیدم چهار کس را از مشائخ که تصرف میکنند در قبور خود مانند تصرفهای ایشان در حیات خود یا بیشتر و شیخ معروف کرخی و شیخ عبد القادر جیلانی و دو کس دیگر را از اولیاء شمرده و مقصود حصر نیست ـ (اشعة اللمعات جلد ا ص ۷۶۲ قطب الارشاد ص ۳۹۵)

(۲۶):د سورة یوسف ایت نمبر ۴۲ په تفسیر کښې علامه رازي رحمه الله ليكلي دي چې : الاستعانة بغیر الله فی دفع الظلم جائزة فی الشریعة لا انكار علیه ـ (تفسیر کبیر جلد۶ ص ۴۶۲ ـ هکذا فی تفسیر روح البیان جلد۴ ص ۳۴۱)

(۲۷):وان اراد عونا فلیقل یا عباد الله اعینونی یا عباد الله اعینونی یا عباد الله اعینونی ـ (حصن حصین ص ۲۴۲ ـ عمل الیوم واللیلة لابن السنی ص ۱۵۷ کلیات امدادیه ص ۸۴ ، فتوی رشیدیه ص ۱۲۹)

(۲۸):عن ابن عباس رض قال ان لله ملائكة فضلا سوی الحفظة یکتبون ما سقط من ورق الشجر فاذا اصابت احدکم عرجة فی سفر فلینا داعینونی عباد الله یرحمکم الله ـ (مصنف ابن ابی شیبة جلد۷ ص ۱۱۶ ـ حصن حصین ص ۲۴۲ ـ تفسیر کبیر جلد۱ ص ۳۷۸ د سورة بقره آیت نمبر ۳۰ په تفسیر کښې)

(۲۹):عن ابان بن صالح ان رسول الله ﷺ قال: اذا نفرت دابة احدکم او بعیره بفلاة من الارض لا یری بها احدًا



فلیقل: اعینونی عباد الله فانه سیعان ـ (مصنف ابن ابی شیبة جلد۷ ص ۱۳۲ الاذکاذ ص ۲۹۲)

(۳۰):شیخ ابو العباس احمد زروقي متوفي ۸۹۹: اشعار: انا لمریدی جامع لشتاته اذا ما سطاجوز الزمان بنکبته ـ وان کنتَ فی ضیق وکرب ووحشة فناد بیا زرّوق اٰتِ بسرعته ـ بستان المحدثین ص ۳۲۲ د شاه عبد العزیز محدث دهلوی رحمه الله ـ

[**نوټ**]:مزید تفصیل او حواله جات او د علماء دیوبند د کتابونو څخه د استمداد ثبوت که غواړئ نو مجموعه رسائل ته رجوع وکړئ په اول جلد کښې ما تفصیل کړي دي .

***

## (اعتراض سيفيان غيرالله مشكل كشا گڼي جواب)

رحيم الله ليكلي دي چې سيفيان غيرالله ته مشكل كشا وائي .

**الجواب**:د سيفيانو عقيده مخكښې بيان شوه او باقي غيرالله ته ستاسو مشرانو مشكل كشا ويلي دي.

(۱): د علماء ديوبند پير او مرشد حاجي امدادالله مهاجر مكي رحمه الله فرمائي چې : یارسول کبریا فریاد ہے یا محمد مصطفی فریاد ہے آپ کی امداد ہو میرا۔ یا نبی حال ابتر ہو افریاد ہے۔ سخت مشکل میں پھنسا ہو آجکل اے میرے مشکل کشا فریاد ہے۔(کلیات امدادیہ ص۹۰۔۹۱) نو دلته اوگوره مشر دې مدد هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه غواړي او فرياد هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ته كوي او په يا سره هم ورته اواز كوي او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مشكل كشا هم وائي . اوس اولگوه فتوىٰ د كفر او د شرك .

(۲):اشرف علي تهانوي رحمه الله ، حضرت علي رضى الله تعالىٰ عنه ته مشكل كشاه ويلي دي : کھول دے دل میں در علم حقیقت میرے اب۔ ھادی عالم علی مشکل کُشا کے واسطے۔(اصلاحی نصاب ص۳۵۹)

(۳):مفتى محمد فريد فرمائي چې : يا مصطفىٰ مشكل كشا بطورمحبت او عشق ويل جائز دي.(فتوىٰ فريديه جلد ۱ ص ۷۲)



## (اعتراض سيفيان د غيرالله څخه مافوق الاسباب كومك غواړي)

**الجواب**:د سيفيانو عقيده د استمداد په مسئله كښې ما مخكښې هم ذكر كړه چې سيفيان وائي چې انبياء عليهم السلام معجزةً او اولياء رحمهم الله كرامتًا باذن الله د خپلو دوستانو سره كومك كولے شي . اوس باقي ستا خپل كار دے چې ديته ما فوق الاسباب وائي او كه ما تحت الاسباب . د دې مسئلې پوره وضاحت مخكښې ما وكړو . ستاسو مشر باندې سوال شوے دے په فتوىٰ حقانيه كښې چې : **سوال**: ځيني خلك وائي چې فلاني بزرگ او يا مرشد د مصيبت په وخت كښې د خپل فلان مريد غائبانه امداد وكړو په مقدس شريعت كښې د داسې عقيدې ځاي شته او كه نه ؟

**الجواب**:دا ډول د ځينو واقعاتو په جزوي توگه سره ځرگنديدل ثابت دي . (فتوىٰ حقانيه جلد ۲ ص ۹۲ . ۱۰۱)

(۲):مفتي محمد فريد رحمه الله باندې سوال شوے دے چې :**سوال**: علماء دين د دې مسئلې په باره كښې څه فرمائي ځوك چې دا عقيده ساتي چې د مشكل او مصيبت په وخت كښې استاد يا پير اگر كه مړ وي حاضريږي او مدد كوي او د خپل عنصري بدن سره حاضريږي؟

**الجواب**:مفتي محمد فريد رحمه الله جواب وركوي

چې: په جزوي طور باندې دا ممکن دي بلکې واقع شوي هم دي . (فتویٰ فریدیه جلد ۱ ص ۲۹)

**[تبصره]**: اوس دې رحیم الله مونږ ته د دې خبرې جواب راکړي چې دا مدد استاذ او یا پیر څنګه وکړو ایا ما فوق الاسباب او یا ما تحت الاسباب . مشر دې وائي چې په جسد عنصري سره حاضریږي مدد کوي .

(۳): علامه حمدالله جان رحمه الله فرمائي چې : بل قول القائل (یارسول الله، ویامحمد) بطریق الاستعانة جائز۔ (البصائر ص ۲۲۱)

(۴): ستاسو مشر شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکلي دي چې د شیخ سیدي زرّوق فاسي علي البخاري رحمه الله د قول ترجمه کوي او د هغه قول ئې راوړے دے چې : میں اپنے مرید کی پریشان حالی کو تسلی دینے والا ہوں۔ جب زمانہ نکبت وادبار سے اس پر حملہ آور ہو۔ اگر تو کسی تنگی بے چینی اور وحشت میں ہوں تو یازروق۔ کہہ کر پکار میں فوراً موجود ہوں گا۔(بستان المحدثین ص ۳۲۲)

(۵): مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمائي: یا شفیع العباد خذ بیدی انت فی الاضطرار معتمدی۔ عثنی الدهر یا ابن عبدالله۔ کن مغیثا فانت لی مددی۔

(نشر الطیب ص ۱۶۹)



(۲): اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې د حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله یو مرید وو. بعد انتقال حضرت کے مزار پر عرض کیا کہ حضرت میں بہت پریشان اور روٹیوں کا محتاج ہوں کچھ دستگیری فرمایئے حکم ہوا کہ تم کو ہمارے مزار سے دو آنے یا آدھ آنہ روز ملا کرے گا۔(امداد المشتاق ص ۱۱۵)

(۷): اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې: کله حاجي صاحب رحمه الله وفات کیدو نو ویفرمایل چې : کہ فقیر مرتا نہیں ہے۔ صرف ایک مکان سے دوسرے مکان میں انتقال کرتا ہے فقیر کی قبر سے وہی فائدہ حاصل ہوگا جو زندگی ظاہری میں میری ذات سے ہوتا تھا۔ فرمایا(حضرت صاحب نے) کہ میں نے حضرت کی قبر مقدس سے وہی فائدہ اٹھایا جو حالت حیات میں اٹھایا تھا۔(امداد المشتاق ص ۱۱۱)

(۸): مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله ته محبوب علي نقاش راغلو ویفرمایل چې: ہمارا آگبوٹ تباہی میں تھا میں مراقب ہو کر آپ سے ملتجی ہوا آپ نے مجھے تسکین دی اور آگبوٹ کو تباہی سے نکال دیا۔

(امداد المشتاق ص ۱۲۱)

(۹): حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله لیکلي دي چې : پھر شعبان کی بیسویں تاریخ عصر کی نماز کے پہلے جو نوافل کے پڑھنے کا وقت ہے اعوذ بسم اللہ اور معوذتین اور کلمۂ تمجید پڑھ کر مرشد کے واسطے سے

مشائخ طریقت کی مقدس روحوں سے مدد مانگ کر خلوت میں آجائے۔ (کلیات امدادیہ ص۶۸)

(۱۰):مولانا سيد احسن گيلاني رحمه الله ليكلي دي چې: بس بزرگوں کی ارواح سے مدد لینے کے ہم منکر نہیں ہیں۔ (سوانح قاسمی حصہ اولہ ص۲۱۱ حاشیہ)

